# شهامت

ديارلسم کال، څلورمه، پرلپسې۸۴مه گڼه،
جمادى الأولى ۱۴۴۲هـ ق، دیسمبر ۲۰۲۰م


د مرموزو وژنو او د کابل ښاردننه
دغلاوواوچورطراح څوک دی؟



د افغانستان اسلامي امارت د مرستیال
خلیفه صاحب الحاج ملاسراج الدین (حقاني)
لخوا را خلاص شویو مجاهدو اسیرانو ته ارزښتناکه وینا









- هنوز فرصت تغییر است
- د کابل رژیم عسکر؛ ولې وسلې او مهمات پلوري !!
- په کابل کې موډلینګ پر افغاني کلچر ناروا تېری
- جهاد عشقی، بهانه‌ای دیگری برای شکنجهٔ مسلمانان هند
- د مشورې شرعي اهمیت اوحیثیت!
- د جارح خنجر او زما قلم

د یونیسیف او طالبانو
دمعاهدې اهمیت اوڅرنګوالی!

له نومیالی شاعرې حنیفه زاهد سره مرکه



آه! هغه دعلوموپه‌اسمان کې ځلاندستوری
«مفتي زرولي خان ﷫» هم د مداره پرېوت!

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، څلورمه، پرلپسې۴مه ګڼه، جمادی الأولی۱۴۴۲هق، دیسمبر۲۰۲۰م

**دامتیازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر :**

ابو ظهیر

**کتنپلاوی :**

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

**بیه :**

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ۶۰
کلدارې په پاکستان کې

**تخنیکي مسؤل :**

تخنیکي څانګه


**یادونه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

## لړلیک


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرلیکنه.......................................................... | ۱ |
| ۲ | اسیرانو مجاهدینو ته د خلیفه صاحب ملا سراج الدین حقاني لخوا وینا | ۲ |
| ۳ | د کابل رژیم عسکر ؛ ولې وسلې او مهمات پلوري!!.................. | ۵ |
| ۴ | چې خندونه زېږوي څواب یې څه دی؟!............................ | ۶ |
| ۵ | د یونسیف او طالبانو دمعاهدې اهمیت او څرنګوالی................ | ۷ |
| ۶ | آه! یو بل ځلانده ستوری مفتي زورلي خان رح هم له مداره پرېوت! | ۱۱ |
| ۷ | څو خبرې د اداري نظام په اړه ............................................ | ۱۴ |
| ۸ | اجیرجنګیالي به ولې نه وژل کیږي ؟........................................ | ۱۶ |
| ۹ | هنوز فرصت تغییر است ................................................ | ۱۸ |
| ۱۰ | د اسلامي شریعت پېژندګلوي او دهغه ځانګړتیاوې ..................... | ۲۰ |
| ۱۱ | هند د افغاني مقدساتو او ارزښتونو توهین د یو پلان له مخې کوي | ۲۵ |
| ۱۲ | په کابل کې موډلینګ پر افغاني کلچر ناروا تېری........................ | ۲۶ |
| ۱۳ | د جارح خنجر او زما قلم .................................................. | ۲۷ |
| ۱۴ | د څلورو شهیدانو ورور شهید میر اکبر خان کامران ...................... | ۲۸ |
| ۱۵ | د مشورې شرعي اهمیت او حیثیت! ........................................ | ۳۴ |
| ۱۶ | د مدرسو په تعلیمي نصاب کې کوم تکي باید په پام کې ونیول شي | ۳۵ |
| ۱۷ | ګلوریني پاڼې ............................................................ | ۳۸ |
| ۱۸ | قرباني توطئه ها چیست او کیست ؟ .......................................... | ۴۰ |
| ۱۹ | له ماشومتوبه تر شاعرۍ ...له شاعرې حنیفه زاهد سره مرکه ..... | ۴۲ |
| ۲۰ | پټې بوختیاوې ............................................................... | ۴۶ |
| ۲۱ | فکري جګړه... داصل استعماري دورې اووه ګوني مراحل................. | ۴۸ |
| ۲۲ | دایراني ساینسپوه وژنه ، موخې او متوقع خطرونه ....................... | ۵۶ |
| ۲۳ | د اسلامي امارت قیام؛ شرعي فریضه ده !................................... | ۶۲ |
| ۲۴ | د جارح خنجر او زما قلم... څو ارزښتمن پیغامونه !!...................... | ۶۳ |
| ۲۵ | جهاد عشقی، بهانه ای دیگری برای شکنجه ی مسلمانان هند....... | ۶۴ |
| ۲۶ | د اسلام د اقتصادي نظام راتلونکی............................................ | ۶۷ |
| ۲۷ | د شهامت دارالافتاء.......................................................... | ۷۲ |



ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان
بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

# د مرموزو وژنو او د کابل ښار دننه د غلاوو او چور طراح څوک دی؟

هو! د اشرف غني او امر الله صالح ترمنځ د واک د ویش پر سر د معاملې په ترڅ کې چې له کله نه صالح ته د ارګ د لومړۍ مرستیالۍ سربیره د کابل ښار دننه د امنیت ساتلو په نوم د بې امنیتۍ او بې ثباتۍ خورولو ذمه وارۍ ورسپارل شوې او بیا یې په اړه نوموړي دسهارنیو ناستو لړۍ پیل کړې، ورسره هم مهاله د کابل ښار دننه او بیرون ولایتونو کې د مرموزو هدفي وژنو بدمرغه لړۍ هم په چټکۍ سره پیل او په په لنډه موده کې په لوی شمیر خبریالان، سیاستوال او مخور شخصیتونه په مرموز ډول وژل شوي دي.

دسهارنیو ناستو بل بدمرغه محصول په مرموزو وژنو علاوه کابل ښار دغلو او لوټمارو منګولو ته سپارل هم دي، چې له امله یې هیڅ ورځ داسې نه تیریږي چې پکې د غلو او لوټمارو لخوا د چورو چپاول پیښې نه رامنځته کېږي، دکومو له امله چې ښاریان ځانونه خوندي نه بولي او په سخت ډار او ورخطایۍ کې مبتلی دي؛ ښکاره ده چې د غلا کوونکو او شوکمارو مسلطه مافیا کوچنۍ او معمولي مافیا نه ده چې یوڅوک یې د شرنه ځان خوندي کړای شي د رسنیو په وینا: هغه دومره قوي اوځواکمنه ده چې دپولیسو په رینجرو کې سپاره ګرځي او د خلکو په کورونو او هتیو باندې په رڼا ورځ ډاکې غورځوي ترې موټر، پیسې او نور ګرانبیه توکي غلا کوي، په دې لړ کې تازه پېښه یې هغه وه چې څو ورځې دمخه د ولسي جرګې د یوتن وکیل په موټر رینجر کې د سپرو کسانو په ډزو سره د هغه څو تنه ساتونکو ټپیان او موټر یې وتښتو ل شو، نو د ولسي جرګې د وکیل په سویه شخص نه چې موټر تښتول کېږي، د نورو خلکو دامنیت به څه حال وي؟

اوپوښتنه داده چې آخر دومره زړور غله څوک دي چې په رڼا ورځ خلک تښتوي، موټرتښتوي او څوک یې مخنیوی نه شي کولی او یا د مرموزو وژنو بربنډ قاتلان څنګه په اسانۍ سره خلک په نښه کوي، بیا روغ رمټ ځانونه له صحنې وباسي؟ جوته ده چې د دواړو ترشا د ارګ دننه ناسته مافیا لاس لري او هغه په دغه ډول جنایتونو کې ښکېل او دخیل ده، چې هدف یې ترې د ګډوډیو په زیاتولو اوخورولو سره د خپل کرغیړن واک موده غځول او د سولې لپاره د نوېو راټوکیدلو هیلو وژل دي.

د کتونکو په اند د موجوده نا امنیو او وژنو تر شا مستقیماً له ارګ نه لومړی مرستیال صالح لاس لري او هغه یې په لویه کې طراح او سرخیل دی اود هغه ترڅارلاندې دموجوده نا امنیو چارې رهبري کېږي.

دهغوی په اند چې دنا امنیو خورولوڅخه د صالح موخې دوه دي: یو داچې هغه غواړي په ټوله کې د مرموزو وژنو د پړې ګوته دافغانستان اسلامي امارت ته ونیسي او ورڅخه د پروپاګند او او ناوړه تبلیغاتو د یوې وسېلې په توګه ترې کار واخلي، څوپه نړیواله سطحه داسلامي امارت سولییز موقف او دریځ ته زیان واړوي، همدا راز اسلامي امارت ته د خپلو جنایتونو په منسوبولو سره څه کوي چې د ولس او امارت ترمنځ بې باوري او دښمني پیدا کړي، خو ښکاره ده چې هر باشعوره انسان پوهیږي چې دافغانستان اسلامي امارت په ښکاره او څو ځله د دغسې وژنوڅخه خپل برأت اعلان کړی او دغه ډول پیښې یې جنایتونه ګڼلي دي او هم یې په کلکه غندلي دي او بالمقابل یې د کابل ګوډاګي رژیم ته د پړې ګوته نیولې ده او هغه یې د ولس پرضد د روانو نه ښښونکو ناخوالو او جنایتونومسؤل ګرځولی دی.

دوهمه موخه یې داده چې هغه (صالح) هرهغه څوک وژني چې په افغانستان کې د سولې تأمینولو لپاره کار کوي او هم هر هغه څوک له منځه وړل غواړي چې هغه د ارګ د روان سیاست سره اختلاف ولري او همدا راز هغه خبریالان او ژورنالستان وژني کوم چې د اوسني رژیم د کمزوریو او ظلمونو په باب راپورونه خپروي او د کابل رژیم د جنایتونو څخه پرده پورته کوي. چې په دې لړکې دارګ مافیا دومره فعاله او متوجه ده چې د رژیم دنیمګړتیاوو ښکاره کولو په مورد کې پخپلو والیانو اوچارواکو هم بریک نه نیسي۔ اوپه هغوی کې که چیرې یو نیم رښتیا ووایي نو هغه سملاسي له دندې څخه ګوښه کوي او شړي یې، لکه تازه چې یې د کندهار والي حیات الله حیات په دې جرم معزول کړ چې هغه وویل د پولیسو اویا سلنه کسان تښتیدلي دي او یواځې دیرش سلنه پاته دي او دکندهار ولایت زیاتې سیمې دطالبانو لاس ته ورغلي دي، له دې توضیحاتو څوساعته وروسته سملاسي هغه ته یې بستره ورګول کړه اودولایت نه یې وشاړه.

نو حاصل دا چې کابل رژیم د سختې روحي ورخطایۍ او اضطراب ښکار دی او غواړي د خپلو ټولو شکستونو غچ د ملت او خلکو نه د دغسې جنایتونو په ډیرولو سره واخلي او د همدې لپاره یې د مرموزو وژنو روانه بدمرغه لړۍ پیل کړې ده، څو خپل سیاسي مخالفین وځپي او د کابل ښار په خلکو د لیوانو (غلو) رمو ورخوشي کولو څخه یې موخه دا ده چې ولس پرېږ وداړي او خپل رعب او دبدبه پر هغوی کینوي څو دا جرئت ونلري چې هغوی د دوی لخوا دروانو وحشتونو اوظلمونوپخلاف پورته شي او یا دي د دوی دناروا وو په خلاف د بغاوت جسارت وکړي، پکار ده چې نړیواله ټولنه اوحقوق بشر سازمانونه دکابل رژیم دچارواکو روان نه ښښونکي جنایتونه اوظلمونه وڅیړي او پرضد یې غبرګون وښیي اوهم دې ورڅخه هرمرو د روانو مرموزو وژنو او چورچپاول عاملین وغواړي او محاکمه دې کړي.




## د افغانستان اسلامي امارت د مرستيال

# خليفه صاحب الحاج ملا سراج الدين (حقاني)

## لخوا را خلاص شويو اسيرانو مجاهدينو ته ارزښتناکه وينا

**درنو لوستونکو!**

د افغانستان د اسلامي امارت مرستيال محترم خليفه صاحب سراج الدين (حقاني) د بګرام، پلچرخي او د کابل اداري له نورو زندانونو څخه را خلاص کړل شويو اسيرو مجاهدينو ته يوه ارزښتناکه وينا کړې، چې لوستلو ته يې ستاسي پام راګرځوو. (اداره)

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

**أعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم (ولا تهنوا و لاتحزنوا وأنتم الأعلون إن كنتم مؤمنين) الآية.**

زما ډيرو درنو او قدرمنو ورونړو!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

عزتمنو ورونړو! زمونږ او ستاسي اړيکې او وررولي د ايمان او عقيدې پر اساس ده، نه د ماديـاتو او شخصي- منافعو پر اساس .

تاسو د الله د دين د حاکميت لپاره ډيرې ستونزې پر ځان منلي او په ډيرو سختو شرائطو کې مو د خپل قيمتي عمر ډير کلونه د زندان د تورو تمبو شاته تير کړي.

په زندانونو کې چې څه هم پر تاسي تير شوي، د هغو به درته الله تعالى اجرونه او عوض درکوي، ان شاء الله.. ان الله لا يضيع اجر المحسنين.

**محترمو ورونړو!**

د الله تعالى د دين د حاکميت په لاره کې ټولو مجاهدينو سخت تکاليف ګاللي. د جهاد په پيل کې په وطن، کور، کلي حتى په ټوله نړۍ کې څوک داسې نه و چې د مجاهدينو ملاتړ وکړي ، تر دې چې ما ډير داسې خلک وليدل؛ چې جهاد به يې له اور سره لوبې کول بلل، هغوى مجاهدينو ته نږدې کيدل د ځان په زيان ګڼل، هغوى به ويل چې مجاهدين په دې مقاومت او مبارزه کې نشي بريالي کيداي، له همدې وجې به يې له مجاهدينو څخه فاصله نيوله.

خو موږ د خداى د دين د حاکميت لپاره راپورته شو، په داسې حال کې چې د الله له نصرت پرته مو بل نه څوک د مرستې و او نه مو هم له چا د مرستې طمعه لرله.

مونږ د الله تعالى پر دې قول چې (( نصرمن الله وفتح قريب)) دى، پوره ايمان او يقين درلود، په همدې ايمان او يقين مو د متجاوز دښمن په مقابل کې جهاد پيل کړ،

هماغه و چې الله تعالی مو مرسته وکړه او پر هماغه مغرور دښمن یې غالب کړو.

نن اسلامي امارت له دې امله چې د الله پر دین یې غیرت کړی، پر خپلو دښمنانو او مخالفینو بریالی دی. الحمد لله چې دا غلبه او بریالیتوب یې د الله تعالی له دین سره د وفادارۍ نتیجه ده.

له الله تعالی څخه د دې سوال کوو چې د اسلامي امارت په وړاندې د دښمن ټولې جوړې کړې دسیسې شنډې او بې اغیزې کړي.

قدرمنو ورونو!

زما هیله او آرزو دا وه، چې ستاسي د لیدو لپاره ستاسي هر یوه کور او کلي ته درسم، له تاسي سره ووینم، ستاسي خپلوانو او کورنیو ته ستاسي د راخلاصون مبارکي ووایم او ستاسي په کلیو او کورونو کې د الله تعالی د دین د دفاع په لاره کې د شهید شویو مجاهدینو ارواګانو ته دعاوې او کورنیو ته یې تسلیت ورکړم.

خو زمونږ شرائط او حالات تاسي ته هم معلوم دي چې زمونږ ډیرې هیلې یې ناشونې کړې.

دلته چې مونږ له کومو ورونو سره ولیدل، که څه هم چې هغوی به یو محدود شمیر وي، خو هیله مند یم چې همدا ورونه به هغو نورو ټولو راخلاص کړل شویو اسیرانو ته زمونږ نیکې هیلې او سلامونه ورسوي، کوم چې له مونږ سره په دې مجلس کې ورته د ګډون فرصت نه دی میسر شوی.

هیله مند یو چې د شرائطو په برابریدو به له هغوی ټولو سره په مناسب فرصت کې وګورو، د خپل توان په اندازه به د هغوی اړتیاوو ته رسیدګي وکړای شو او هغوی ته به د زندان له سختو کړاوونو څخه د راخلاصیدو مبارکي ووایو .

قدرمنو ورونو! ستاسي خلاصون له امریکایانو سره د شوي تړون له مخې تر سره شوی، د همدې تړون د محتویاتو له مخې به نور ټول د امارت مربوط بندیان هم را خلاصیږي.

د ټولو بندیانو خلاصون د تړون د ټولو مندرجاتو د عملي کیدو په لاره کې یو عملي ګام دی، چې د بین الافغاني مذاکراتو په ترڅ کې پیل شوي بهیر ته د پرمختګ زمینه سازي کوي.

اسلامي امارت ژمن دی چې د مذاکراتي بهیر د پرمختګ لپاره له خپل لوري د دوحې تړون ټول مندرجات عملي کړي.

که امریکایان او د هغوی په تعقیب د کابل اداره هم په ورته ډول د تړون عملي کیدو او د بین الافغاني مذاکراتو په ترڅ کې پیل شوي بهیر ته ژمنتیا وښیي، زه هیله مند یم چې د افغانستان د معضلې د هوارې لپاره پیل شوی مزل به ډیر ژر هدف ته ورسیږي.

محترمو ورونو! اسلامي امارت زمونږ او ستاسي ټولو مشترک کور دی، مونږ او تاسي ټول په دې کور کې د ایمان او عقیدې پراساس راټول شوي یو، ټول یو هدف لرو او هغه ته د رسیدو په لاره کې ټولو پر ځان ډیری کړاوونه تیر کړي.

اسلامي امارت پر اسیرانو خاص اهتمام لري، د هغوي لپاره یې ځانګړی کمیسون ایجاد کړی، همدا راز یې د جهاد د شهیدانو ، د هغوی د کورنیو ، زخمیانو، معیوبینو او یتیمانو لپاره ځانګړي تشکیلات تأسیس کړي، په خپلو محدودو امکاناتو د هغوي د اړتیاوو د پوره کولو هڅې کوي، د شهیدانو د یتیمانو د روزنې لپاره یې خاصې مدرسې او دارالایتامونه جوړ کړي، له تاسي سره به هم ستاسي د اړتیاوو په پوره کولو کې حتی الوسع کوښښ کوي.

مونږ ته ستاسي د اړتياوو په اړه ستاسي وړانديزونـه را رسيدلي، مونږ پر هغوی جدي غور کوو، اسلامي امـارت د هر څه لپاره خپل اصول او مقررات لري ، دغـه مقـررات د مستحقينو د محروميت په خاطر نه؛ بلکې هر حقـدار تـه د حق رسولو په غرض وضع کړي.

مونږ ستاسي او د شهيدانو د کورنيو، کونډو او يتيمانو او ټولـو مجاهـدينو د ضروري اړتيـاوو د پـوره کولـو لپـاره خپل ټول توان کاروو.

ستاسي مطالبات مونږ ته رسيدلي، مونږ هغـه تـر غـور لاندې نيولي، مونږ غـواړو هغـه ټـول توحيـد او د اسـلامي امارت له مشرتابه امـير المـؤمنين شـيخ هبـة اللـه اخنـدزاده صاحب(حفظه الله) صاحب سره شريک کړو.

تاسـو چـې هـره غوښـتنه لـرئ هغـه د خپـل اړونـد کميسون له لارې د امارت مشرتابه ته وليږئ.

له متفرقو لارو د څه ليږلو هڅه مه کوئ!

**اسـلامي امـارت د ټولـو هغـو محبوسو وروڼو په اړه هم جدي غـور کـوي چـې لا هـم د دښـمن پـه محبسونوکې بنديان دي، هغـوی يې هيڅکله هير نه؛ بلکې ژر راخلاصول يې په خپلو لومړيتوبونوکې دي.**

زندان د مجاهد لپاره له کړاونو ډک آزموينځای دی.

په هغه کې انسان له هر څه مايوسه، خو صرف د اللـه تعالی مرستې ته سترگې په لاره وي.

په زنـدانونو کـې ډيـر صـابر مجاهـدين شـته، چـې د زندان ټول کړاوونه او مشکلات پـه پـوره صـبر او حوصـله مندي تيروي ، هغه صبر چې د الله د رضا سبب گرځي.

خو ځيني کسان داسې هم وي، چې د انسـاني عجـز له مخې د زندان له کړواونو څخه بې صبري او گيلې کوي، دا گيلې او بې صبري له دې ماسيوا چې د الله د نارضـايتي لامل شي، بله هيڅ گټه نه لري.

تاسو کوښښ وکړئ! لکه څومره چې مو د زنـدان پـه سختو کړاوونو او شکنجو صبر کړی، همدومره نـور هـم د ژوند پر مشکلاتو صبر وکړئ.

تاسي يقينا چې د لوی عزم څښتنان ياستئ!

ستاسي د همدې لوی عزم او ثبات برکـت دی، چـې نن د مجاهدينو لويه بريا نصيب شوې.

ستاسي همدا آزادي ستاسي د خپـل همـت او ثبـات محصول ده.

تاسو دې الله تعالی په خپلو ټولو شرعي آرمانونو کې نور هم موفق او بريالي لري.

الله تعالی دې زمونږ نورو هغو وروڼو ته هم د آزادي نعمت ور نصيب کړي چې لا هـم د اسارت د تـورو تمبـو شاته پراته دي.

تاسو او هغـوي چـې د اسـلام د حاکميت لپـاره يـې شکنجې او کړاوونه پر ځان منلي، دا به مو که خدای کـول د دُنيوي او اخروي نجات لامل کيږي. ان شاء الله لېرې نـه ده چې زمونږ پاتې محبوس ورونـه بـه هـم حتما يـوه ورځ دغه ډول زمونږ او ستاسي پـه منـځ کـې وي او لـه اسـارت څخه به يې د نجات نعمت په برخه شوی وي.

الله تعالی جل جلاله فرمايي:

إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ (١٤٠) ال عمران

والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته



# کابل رژیم عسکر؛ ولې وسلې او مهمات پلوري !!

م - مبصر

په افغانستان کې د امریکا د لګېدلو پیسو د څار ادارې د روان ۲۰۲۰ز کال د دسمبر میاشت په راپور کې ویلي چې امریکایي پوځ د کابل ادارې ځواکونو ته د سپارل شویو نظامي وسایلو لیستونه نه لري، نه یې هم لازمه څارنه کولای شي او نه هم خبر دي چې د دوی لخوا د کابل ادارې عسکرو ته ورکړل شوې وسلې استعمالیږي او که نه.

سیګار همداراز د راپور په یوه څنډه کې لیکلي د کابل ادارې ځواکونو د امنیتي انتقال د مشترکې قومانداني په نوم د اشغالګرو قوتونو مرکز ته ویلي، د شپې هغه ۴۸ دوربینونه چې دوی په ۲۰۱۹ز کال کې له امریکا غوښتي وو اوس ټول ضایع شوي: ۱۹ نیول شوي او پاتې ۲۹ نور یا ورک، تخریب یا ویجاړ شوي دي.

د سیګار دا راپور نه یوازې د کابل ادارې د ځواکونو بلکې د نړۍ د تر ټولو ځواکمنو او په اصطلاح منظمو پوځونو ناتواني او بېکفایتي هم څرګندوي. د کابل ادارې د ځواکونو بېکفایتي په دې کې ده چې په یوه کال کې یې، په خپل اعتراف، د پرمختللې ټکنالوجۍ ورکړل شوي خاص وسایل ټول بایللي دي – او اشغالګر قوتونه په دې بېکفایته بلل کېدای شي چې نه له خپل ځانه او نه هم د خپلو ماتحتو اجیرانو له حاله خبر دي.

په تېرو نږدې شلو کلونو جګړه کې ثابته شوه چې د کابل ادارې فاسدو او بېکفایته ځواکونو ته د اشغالګرو لخوا د ورکړل شویو وسلو او وسایلو یوه زیاته برخه د فساد ښکار شوې ده. عسکر له مرمیو نیولې بیا د خپلو موټرونو تر تیلو پورې هر څه، د خپل ایمان په څېر، د یو څو روپو په بدل کې پلوري. د کابل رژیم د نورو ادارو ترڅنګ د نظامي ځواکونو مالي او اخلاقي فساد هم د دې رژیم حیثیت په نړیواله کچه له صفر سره ضرب کړی دی.

د فساد ترڅنګ د دې اجیرو ځواکونو بېکفایتي تر دې حده پورې ده چې حتی خپل باداران هم باور پرې نه لري، په هره پالیسۍ کې د دوی د مورال ساتلو برخه په پام کې نیول کیږي؛ سره له دې چې بهرنیو ملاتړو د خپلو اهدافو پوره کولو لپاره په تېرو شلو کلونو کې لسګونه ملیارده ډالر پرې لګولي، خو بیا هم یقیني نه دي چې د دوی له مرستې پرته به ځان وساتلای شي.

د کابل ادارې بهرني ملاتړ کوونکي باید وپوهیږي چې که په دې اداره او په فساد کې په غرق پوځ یې هر څومره نورې پیسې هم ولګوي، د تېرو شلو کلونو د مصارفو په شان به دا هم باد وړي. د دې رژیم او بېکفایته ځواکونو په ملاتړ به پردي څو ورځې خپل اهداف وساتي، خو هیڅکله به دا د خپل ولس د اقدارو پر ضد ولاړ خلک پر دې مسلمانه ټولنه د تل لپاره حاکم نه کړي، ان شاءالله.



# چې خنډونه زېږوي ځواب يې څه دی!؟

○ عابد

هېڅ داسې يوه ورځ نه وي چې په يوه ګردي مېز کې دې يو شنونکی په دې ونه غړېږي چې د کابل اداره په سر کې يې اشرف غني د سولې په وړاندې خنډونه ايجادوي او همدا ارګ مېشتي او د اشرف غني ځانګړی ټيم دی، چې ټوله هڅه يې د سولې د راتلو په وړاندې د ستونزو ايجادول دي او بالاخره دا خبره اوس دومره کره شوې چې هيچاته پکې شک نه پيدا کيږي، تردې چې دده د ادارې خارجي حليفان هم اوس په همدې عقيده دي .

هسې خو هم په اداره کې دننه داسې څوک نه پيدا کيږي چې سره له ډېرو برابرو شرايطو او حالاتو هم په ده کودتا وکړي او يا يې له يوې بلې لارې قدرت ته خاتمه ورکړي او شايد تر ډېره يې عامل هم دا وي چې د دوی په زړونو خو لا اوس هم د خارجي يرغلګرو د (احسان او وېرې) اثر پروت دی، ځکه نو د ملت لپاره نه؛ بلکې قدرت ته د خپل ځان د رسولو لپاره هم داسې اقدام ته زړه نه شي ښه کولای .

په دغسې حالاتو کې دې طالبان ولې جګړه تېزه نکړي؟ ترڅو به دغه فساد، وحشت، ظلم، بې ديني او ناورينونه روان وي ؟ که يوڅوک ووايي: چې جګړه پخپله ناورين دی، نو قطع نظر له دې چې وروايو جهاد د ظلم د مخنيوي او د حق د اثبات لپاره روا شوی، اخر ترڅو به لاس تر زنې ناست يو او دغه ناروا به په مونږ حاکمه وي. همدا چاره هم د منلو ده، سوله ييزې هڅې، نرمي او واقعيتونه خو د قدرت لېونۍ ميني ترې هېر کړي او نه يې مني، نو څه به کيږي ؟

دغه حاکمه مافيايي کړۍ چې نه ملي او نه بين المللي سوله ييزې لارې چارې منې، نو چاره به يې څه وي؟ د قدرت په دوام خو يې په هيواد کې روان ناورين دی؛ چې يواځې د پلازمېنې وضعيت يې په دومره بد حالت کې دی چې اطراف او د ولايتونو حال يې له خلکو هېر کړی دی. په ټوله نړۍ کې چې د يوه هيواد وضعيت دغسې يوه حالت ته ورسيږي حتماً يو څوک د حکومت له منځه يا له حکومته بهر راپورته کيږي او په يوه ډول دغه حالت ته خاتمه ورکوي.

طالبان چې اوس په هيواد کې د حکومت په وړاندې تر حکومته ډېر واکمن دي، اوس يې هم ډېره حوصله کړې چې د سولې د روان بهير د منتج کېدو په پار يې لاس نيولی دی، خو چې مقابل کې يې حکومت خنډونه ايجادوي او نتيجې ته يې نه پرېږدي؛ په کار ده چې نور ورته ونه ګوري او ولس له دغه ناورينه راوباسي.

چې ولس بېزاره وي، عسکر په جوپو جوپو طالبانو ته تسليمېږي او پاته عسکر يې د معاشاتو په تاخير يرغمل کړي وي، نور به نو کوم داسې دليل پاته وي چې د دوام جواز يې وبلل شي. زه وايم په حکومت کې هر با احساسه او دردمن کس بايد د ولس خوا ونيسي او نور د ظلم د دې مافيايي کړۍ له منګولو څخه ځان وباسي، د حق لوری ونيسي- او د ريښتوني اسلامي نظام د حاکميت لپاره دې خپل وس وکړي.

د اوربند چيغې هيڅکله د معاضلې د حل لپاره نه بلکې د همدې فاسد نظام د دوام لپاره دي چې غواړي د خپلې بقا لپاره خپل شيطاني پلانونه په حوصله او کراره جوړ او پلي کړي، هيڅ د عقل څښتن د يوه داسې اوربند د منلو جواز نه ورکوي چې د اصلي ستونزې د حل په ځای ستونزې لا پېچلې او ډېرې کړي.

که له مؤثرو سياسي څېرو راپاته شي او هغوی په دې ستونزمنو حالاتو کې کوم عملي اقدام نشي کولای، هغوی چې د قلم څښتنان دي؛ بايد په دې حساسو شرايطو کې د خپل قلم حق ادا کړي او حق ووايي، واقعيتونه او حقايق خلکو ته روښانه کړي، که بيا هم تهديدونه ورته متوجه وي، داسې نورې چارې هم شته چې له تهديدونو په څنګ خپل قلم له اختناقه وساتي او واقعيتونه لکه څرنګه دي؛ هغسې خلکوته ورسوي، د ظلم او استبداد په وړاندې چپ پاته نه شي، نن چې هيواد له اشغاله په وتو دی او د خپلواکۍ په لوري ګامزن دی، هيڅ د احساس، بيدار ضمير او خپلواک وجدان څښتن ته نه ښايي په دغسې نازکو حالاتو کې بې پروا پاته شي او د له منځه تلونکو غلامانو له وروستيو پټکو او ګواښوونو ونه ويرېږي.




# د یونیسیف او طالبانو د معاهدې اهمیت او څرنګوالی...!!

لیکنه : موسی فرهاد

د ماشومانو د ملاتړ نړیوال صندوق (یونیسف اداره) وایي؛ چې له طالبانو سره یې یو داسې کمساری سند لاسلیک کړی، چې له مخې به یې یونیسیف د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې نژدې ۴زره ابتدایي ښوونیز مراکز جوړوي.

همدارنګه دغه سازمان به د طالبانو تر واک لاندې ساحو کې څه د باندې ۲۰۰ صحي مراکزو او کلینکونو د مالي سپوټ چارې پخپله غاړه اخلي.

پورتني دواړه توافقات هم د طالبانو او هم د ملګرو ملتونو د یادو ادارو له لوري رسماً تائید شوي دي.

ددې پرمختیا په رابطه د یونیسیف او طالبانو ترمنځ لومړنی جلسې د قطر هېواد پلازمېنه دوحه کې پیل شوې وې، خو پرلپسې څو ناستې یې بیا په افغانستان کې دننه ترسره کړې، ۵میاشتې وړاندې دواړه اړخونه پخپلو کې اصولي توافق ته سره رسیدلي وو، چې بالآخره یې د تېر نومبر میاشتې پر ۲۶مه نېټه د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې ترمنځ (د لرې پرتو سیمو لپاره کاري پلان) ترنامه لاندې دا سند لاسلیک شو.

د یونیسف د عامه اړیکو مشره سمانتیا مورت وایي؛ له تېرې فروري میاشتې راهیسې یې په دوحه کې له طالبانو سره په دې اړه خبرې روانې وې، چې په وینا یې بالآخره یو ښه توافق ته سره ورسیدلو.

یونیسیف ویلي: د دې هوکړې له مخې به د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې تر ۴۰۰۰ پورې لومړني ښوونځي او ټولګي فعاله کړي چې نژدې ۱۵۰۰۰۰یونیم لک پورې ماشومان، نجونې او هلکان به پکې درس وایي.

## د توافقنامې جزیات:

د اسلامي امارت د پوهني او عالي تحصیلاتو د کمیسون د خارجي ارتباط د څانګې مسئول (ښاغلی مولوي عبدالحکیم همت) که څه هم د دوی او د یونیسیف ترمنځ د لاسلیک شوي سند په اړه ټول جزیات یې د یو تعهد له مخې له موږ سره شریک نکړل، خو څو مهم ټکي یې په دې ډول راته یاد کړل:

۱ - په ترون کې یونیسیف له موږ سره ژمنه کړې چې د ۴زرو ښوونځیو بودیجه، نصاب، مدیریت او نورو مربوطه چارو کې به د کابل اداري هېڅ ډول رول نه وي.




۲ – د ښوونکو معاشات به له هغو لارو څخه نه وي، له کومو لارو چې د کابل حکومتي چارواکو ته د فساد لاس رسی ممکن کوي، بلکې یونیسیف به یې د اسلامي امارت د پوهنې کمیسیون د چارواکو سره په همغږۍ د خپلو خاصو معتمدینو په وسیله ښوونکو او ښوونځیو ته رسوي.

۳ – دا ښوونځي به لومړی په دیارلس ولایتونو کې پیلیږي، ورپسې به نورو ولایاتو ته هم غځیږي، چې د ولایت انتخاب به د یونیسیف او د ولسوالیو او کلیو انتخاب به د امارت لخوا په همآهنگۍ سره کیږي.

۴ – له یونیسف سره دا کاري پلان ۵ میاشتې وړاندې په ۲۲ مادو کې، له ټولو جزیاتو او کلیاتو سره ترتیب شوی، البته لاسلیک یې د تېر نومبر پر ۲۶مه نېټه په سنگین کې وشو.

۵ - دېته که څه هم د تعلیمي ټولگیو نوم کارول کیږي، خو په حقیقت کې دا ټولگي نه بلکې ښوونځي دي، ځکه چې دا به ارتقا کوي، یعني لومړی کال به لومړی ښوونځی بیا دویم او بیا دریم حتی تر شپږم ټولگي پورې به دوام کوي.

٦ - هغه ټولگي چې ودانۍ ونلري، هغه به په جوماتونو د خلکو په کورونو او ځینو نورو مناسبو ځایونو کې پیلیږي، خو د یونیسیف لخوا د دې لپاره ودانۍ جوړول هم په پام کې شته چې ورو ورو به له امارت سره په همغږۍ ترسره کیږي.

۷ - د تعلیم په برخه کې د نور پرمختگ لپاره د اسلامي امارت استازي له نورو بېلابېلو موسساتو او هېوادونو سره هم په جریان کې دي، ممکن ډېر ژر له نورو بشري مرستندویانو سره هم دا شان یو توافق ته ورسیږو؛ چې د هېواد د بچیانو د تعلیم، صحت او نورو اړینو خدماتو په برخه کې د نړیوالو همکارۍ راجلب کړو.

## صحي کلینیکونه:

لکه مخکې چې یادونه وشوه طالبانو له یونیسیف سره د ښوونځیو د توافق ترڅنگ د صحت په برخه کې هم یو سند لاسلیک کړی چې د طالبانو تر واک لاندې ساحو کې خصوصاً جنوب غرب حوزه کې به د ملگرو ملتونو دغه سازمان (یونیسیف) د څه باندې دوه سوه کلینیکونو بودیجه، د ډاکټرانو معاشات، درمل او نور د اړتیا وړ توکې تهیه کوي.

د اسلامي امارت د صحت کمیسیون مشر ـ ښاغلی حاجي عبدالله خان صاحب وایي: د یونیسیف خیریه ټولنې زموږ سره یو ډېر ارزښتناک تعهد کړی دی، چې د افغانستان د جنگ ځپلي او بېچاره ولس لپاره یو ډېر مهم چوپړ بلل کیږي.

د نوموړي په وینا دوی د خپلو جلساتو او اړیکو په نتیجه کې له یونیسیف خیریه ټولنې سره دې موافقې ته رسیدلي؛ چې اسلامي امارت به پخپلو ساحو کې د یونیسیف لپاره د امنیت او کارکولو شرایط برابروي؛ ترڅو یونیسیف اداره لومړی په ۵ ولایاتو لکه: (کندهار، هلمند، ارزگان، زابل او دایکنډي) کې د دوه سوه روغتیایي کلینیکونو د مالي چارو سمبالښت په غاړه واخلي، ترڅو عام خلک ورڅخه مستفید شي.

په وینا یې په دې کلینیکونو کې به د نارینه ایم ډي ډاکټرانو ترڅنگ زنانه قابله گانې، او نور روغتیایي عمله

مقرريږي، چې په هر کلينيک به د اړتيا سره سم له ۵ تر لسو پورې کارکوونکي ولري، او معاشات به يې يونيسيف اجرا کوي.

نوموړې وايي: چې دا چاره سر له اوسه له ارزګان ولايت څخه پيل شوې، چې نورو ولاياتو کې به هم ژر ترژره عملي شي، ترڅو عام هېوادوال ورڅخه مستفيد شي.

## د تړون سياسي ارزښت او د کابل رژيم اندېښنه:

دغه تړون د هېواد په اوسني جنګ ځپلي حالت کې خورا ستر پرمختګ بلل کيږي، دا ځکه چې په افغانستان کې د جنګ جګړو نه علاوه د يو صالح حکومت نه شتون ميليونونه ماشومان له زده کړو بې برخې کړي دي، حتی ژوند يې له تهديد سره مخ دی.

نو داسې يوه کارنامه چې طالبان وتوانېدل، د ملګرو ملتونو غونډې نړيوالې ادارې اعتماد يې خپل کړ او په پايله کې يې د يو ډېر مهم توافق له طريقه د هيواد د بچيانو لپاره د زده کړې او صحت يوه اندازه زمينه مساعده کړه؛ رښتيا هم چې يوه ستره پرمختيا بلل کيږي.

## د کابل رژيم اندېښنه:

بي بي سي د کابل د پوهنې وزارت د چارواکو په حواله ليکلي؛ چې د طالبانو او د يونيسيف ترمنځ له شوې تړونه خبر نه دي او په اړه يې اندېښمن دي، د بي بي سي په وينا د کابل چارواکو له يونيسف ادارې نه غوښتنه کړې، ترڅو په دې اړه جزيات ورسره شريک کړي.

که څه هم د جنګ ځپلي افغان ولس لپاره پورتنۍ توافقنامه يو ښه زيری دی، خو د کابل رژيم لپاره به د تشويش وړ ځکه وي چې:

۱ – د کابل رژيم پرځای مستقيماً له طالبانو سره داسې کمسارى تړون لاسليک کول ثابتوي؛ چې د کابل رژيم د نړيوالو بشري مرستو په مديريت کې په کامل ډول بې اعتباره دی. نړيوالو ته بالآخره څرګنده شوې، چې د تېرو شلو کلونو په دوران کې د افغان ماشومانو د تعليم په برخه کې د دوی لخوا شوې مرستې ټولې د کابل ادارې په دفترونو کې ضايع شوې دي.


۲ - په دې کار سره مالومه شوه، چې طالبان توانيدلي؛ ترڅو نړيوالو ته ځان د افغانستان د يو اصلي مسئول واکمن په حيث ور وپېژني او په دې برخه کې پر ځان د نړيوالو سياسي باور پياوړی کړي.

۳ – د مالوماتو په آساس د ۴زره عصري ټولګيو ترڅنګ يونيسيف د ديني مدارسو په برخه کې هم له طالبانو سره د مرستې ژمنې کړي دي، له دې نه څرګنديږي؛ چې طالبانو هغوی په دې قانع کړي چې د افغانستان مسلمانه ټولنه چې عصري او ديني دواړو زده کړو ته اړتيا لري؛ امارت د دې دواړو برخو پالنې ته يو شان او پوره ژمنتيا لري.

٤ – هغه سيمې چې د مجاهدينو تر کنټرول لاندې وي، د کابل حکومت به همېشه کوشش کاوه، چې په قصدي ډول په دغو سيمو کې د تعليم، صحت او نورو پرمختياوو مخه په يو نه يو شکل ډب کړي او هغه بوديجه چې د مرستندويه ادارو لخوا به ورته ورکول کېده؛ هغه به هم چارواکو پخپلو منځو کې حيف و ميل کوله او له دې نه به يې بيا د طالبانو پرضد تبليغاتي استفاده کوله؛ چې ګويا طالبان ښوونيز او پرمختيايي کارونو ته اجازه نه ورکوي.

له يونيسيف سره دغې معاهدې د حکومت دا پلان هم خُنثا کړ، نور به د تعليم او د صحت په برخه کې د مرستندويانو بوديجه د کابل حکومت ته نه ځي، بلکې يونيسيف اداره به يې پخپله مستقيماً د طالبانو سره په همغږۍ تعليمي او صحي کارکوونکو ته د يو ځانګړي پروسيجر له مخې رسوي.

۵ – تر دې وړاندې ، تقريباً له يوې لسيزې راهيسې د طالبانو او د ملګرو ملتونو د روغتيايي سازمان، (ICRC) او يو شمېر نورو بشري ادارو ترمنځ همغږي موجوده وه، چون له هغوی سره د طالبانو چال چلن ښه اوسېدلی، له فساده خالي



د یو مسئول جهت په حیث یې ورسره تعامل کړی، ځکه خو ملګري ملتونه یو قدم نور هم وړاندې ورته راغلل، په داسې حال کې چې د کابل حکومت یې بای پاس کړ او له دوی سره یې د ۴زره ښونیزو، او ۲سوه روغتیایي مراکزو د جوړولو مهم سند لاسلیک کړ.

۶ –د کابل حکومت د پوهنې وزارت په دې وروستیو کې اعلان وکړ، چې په لرې پرتو سیمو کې به تر درېیم ټولګي پورې ښوونځي لغوه کړي، او ماشومان دې په جوماتونو کې سبقونه ووایي.

د خلکو اټکل دا دی، چې په دې کار سره حکومت غوښتل چې د طالبانو او یونیسیف ترمنځ دغه کېدونکې معاهده ختمه کړي، یونیسیف ته یې وانمود کوله؛ چې تاسو د ښوونځیو جوړولو سند له طالبانو سره مه لاسلیک کوئ، بلکې دغه بودیجه مستقیماً د دوی وزارت ته ورکړئ، چې دوی یې بیا په جوماتونو کې د ماشومانو د سبقونو په نامه حیف و میل کړي، حالانکه په جوماتونو کې د ماشومانو مدیریت خو هسې هم د حکومت د وس خبره نه وه، او نه د طالبانو په سیمه کې دوی د دې توان درلودی.

یاد وزارت ورپسې بل اعلان د اسلامي تعلیماتو معینیت ختمولو وکړ، دوی وویل: پرځای به یې یو بورډ رامنځته کوي، چې هغه به پر قومونو او مسلکونو ویشلی وي.

په دې کار سره هم اټکل دا دی، چې دوی غوښتل؛ د دې نوښت په مټ د نړیوالو توجه جلب کړي او هغه څه چې له طالبانو سره په سند کې ذکر شوي، چې د ۴زره ښوونځیو ترڅنګ به له دیني مدارسو سره هم د اړتیا وړ مرستې ترسره کیږي؛ د دې ټکي مخه ونیسي او د یونیسیف د معاهدې رخ بدل کړي.

بهر حال لکه مخکې چې مو یادونه وکړه، د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان یونیسیف سره د طالبانو دا توافقنامه که په سیاسي لحاظ د طالبانو لپاره اهمیت لري، خو په بشري لحاظ د جنګ ځپلي عام ولس لپاره تر هر څه زیات ارزښت لري.

د لسګونو زرو ماشومانو د تعلیم او د روغتیایي آسانتیاوو ترلاسه کولو ترڅنګ به زرګونو هیوادوالو ته د کار او معاش زمینه هم مساعده شي.

امید دی چې دواړه اړخونه (طالبان+یونیسیف) دغه کاري پلان په بریالیتوب سره مدیریت کړای شي او په راتلونکې کې د لا نورو بشري خدماتو لپاره له یو بل سره همکاري جاري وساتي.

پای ....!



# آه! هغه د علومو په اسمان کې ځلاند ستوری
# «مفتي زرولي خان رحمه الله» هم د مداره پرېوت!

بشير

په ښوونځي کې یوه ورځ استاد د ټولګي د شاګردانو نه د راتلونکي ژوند په باب د هغوی د خوبونو او د هغوی د عزایمو او ارادو په باب پوښتنې کولې، لومړی یې یو هلک پورته کړ او هغه نه یې وپوښتل: وایه په راتلونکي کې له ځانه څه جوړوې؟ هغه وویل: زه غواړم چې ډاکټر جوړ شم ... بیا یې دوهم هلک پورته کړ او هغه ته یې وویل: څه جوړېدل غواړې؟ هغه وویل غواړم قانوندان شم ... اوبیا یې د دریم هلک نه وپوښتل: بچیه وایه ته څه غواړې؟ هغه وویل: زه غواړم چې د یني عالم او امام جوړشم!

د دریم هلک په ځواب د هغه څو تنه ټولګیوال حیران شول چې دومره لایق کس په دې پرمختللي عصر-کې له ځانه فقط دیني عالم او ملا جوړول غواړي؟

وخت تېریده، څه وخت وروسته هغه ټولګي نه هلکان فارغ شول، د ښوونځي هغه لایق او فایق شاګرد ریښتیا د خپل کړي هوډ سره سم د د یني علومو د حصول لار ونیوه او پخپل کلي کې یې د څو نومیالیو علماوو ته کیناست او تر څلورمې درجې پورې کتابونه یې ترې ولوستل، د هغه وروسته د نورو لوړو درجو د لوستلو لپاره مسافرشو او د څو کلو د نه، دننه یې ټول مروج علوم او فنون یې بشپړ کړل او هم هلته یې د حدیثو لویه دوره وکړه، بیا یې په تخصص فی الفقه کې داخله وکړه، چې د بشپړولو وروسته یې د خپلو استادانو تر سیوري لاندې په تدریس، امامت او خطابت پیل وکړ، خو یواځې په تدریس، امامت او خطابت یې بسیا ونکړه؛ بلکې د وخت په تیریدو د یوې شانداره مدرسې بنسټ هم کېښود، کومه چې د څوکلونو دننه په لویو مدرسو او جامعاتو کې شمارشوه او خپله یې هم نوم د وخت په شهیرو مفتیانو او لویو علماوو کې ځای شو، تردې چې یو وخت داسې هم راغی چې آن د هندوستان پاکستان، بنګال او افغانستان د ممتازو علماوو، محدثینو او فقهاوو سرخیل شو هو! تر دې چې هغه ( هلک ) وروسته علمي دنیا «په شیخ التفسیر و الحدیث، مفتي اعظم محمد زرولي خان» وپېژانده، څوک چې په یو وخت کې اعلی مفسر، بې جوړې محدث، با اعتماده فقیه، ثقه مؤرخ او قوي متکلم ګڼل کېده. نوموړی په ۱۹۵۳ ز کې د صوابي ولسوالی په جهانګیری کلي کې زیږیدلی و، د کورنی کسب یا پیشه یې باغباني او د هقاني وه، د نوموړي د قوله: چې والدې محترمې یې د جهانګیری خانخیل محلې مسجد د امام څخه د هغه مهال ټول مروج تعلیمي نصاب لوستی و او په فقهي او علمي مسایلو یې مکمل عبور لره.

لومړنی زده کړې یې د خپلې مور نه شروع کړې او په ناظره یې قرآن پاک د مولانا احسان الحق نه لوستی و، همدا راز د حنفي فقهي لومړني کتابونه او فارسیات یې د مولانا عبدالطیف نه لوستي وو، د هغه د وفات وروسته یې د دیوبند له فاضل مولانا عبد الحنان څخه یې تر د ریمې درجې

کتابونه ولوستل او ورسره هم مهال د ښوونځي د لسم ټولګي نه هم فارغ شو.

فرمايل يې: کوچنيوالي کې مور راته د جهانګيری د اکابرو علماوو داسې واقعات او حالات بيانول، چې په اورېدو به يې زما د علم حاصلولو سره په رغبت او شوق کې زياتوالی راته، په هغو علماوو کې مې درانه استادان هر يو مولانا لطف الله او مولانا عبد الحنان (دواړه د دارلعلوم ديوبند فاضلان وو) هم وو، مور به مې د دواړو نومونه په داسې شان او احترام سره يادول؛ تا به ويل چې د اسمان لاندې او د ځمکې په مخ بل ستر عزت اوشرف نشته، نو د ديوبنديت او د ديوبندي علماوو سره محبت او عقيدت يې په وينه او فطرت کې شامل و.

يقيناً وروسته په مفتي صيب مرحوم باندې هم د خپلې مور د نصايحو او ويناوو رنګ دومره غالب و چې د ديوبندي اکابرو علماوو او محدثينو سره يې د جنون ترحده عشق و، خصوصاً د مولانا سيد محمد انورشاه کشميري رح او شيخ الاسلام مولانا سيد حسين احمد مدني رح سره زيات قلبي محبت و، د مولانا انورشاه کشميري د نوم په ياديدو به يې ستونی بند شو او ژړغونی به شو او د همدې محبت په وجه يې پخپل يو سر ځوی نوم هم انورشاه ايښی دی.

نوموړي فرمايل: پخپل کلي جهانګيری کې مې تر دريمې درجې پورې د کتابونو ويلو وروسته غوښتل؛ کراچۍ ته لاړشم او هلته باقي کتابونه پوره کړم، نو يوځل د کشمير يو تن سردار عبد القيوم خان په پينډۍ کې د مولانا مفتي محمود رَحِمَهُ ٱللَّهُ، مولانا محمد يوسف بنوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ او غالباً د علامه شمس الحق افغانی رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره په کشمير کې د اسلامي نظام او اساسي قانون د نفاذ په اړه مشوره کوله او د دې لپاره يې هغوی ته بلنه ورکړې وه، زه چې خبر شوم هلته ورغلم او د مولانا محمد يوسف بنوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره ومې وليدل او ورنه مې د هغه په جامعه کې د داخلې غوښتنه وکړه، مولانا بنوري راته وويل سمه ده، د شوال په لومړيو ورځو کې زموږ جامعې ته د داخلې لپاره راشه.

زه د شوال په لومړيو ورځو کې جامعې ته ورغلم خو کله چې جامعة العلوم الاسلاميه ته ورسيدم، مولانا بنوري داخلې بندې کړې وې، نو ما هغه ته د خپل استاد مولانا لطف الله ليک ورکړ، د ليک د لوستلو وروسته يې راته وفرمايل: وبښه! وبښه! ستا داخله خو په شعبان کې شوې ده او ستا داخله د همدې مدرسې مؤسس او لومړي مدرس مولانا لطف الله صاحب درکړې ده، دا دی واخله اووم د شوال ۱۹۷۳زکې په ځلورمه درجه کې داخل شوې، بيا مې هلته کې څلور کاله تيرکړل او د مروجه علومو او فنونو لوستلو وروسته د جامعة العلوم الاسلاميه بنوري ټاون څخه فارغ شوم.

د فراغت وروسته د مدرسې د استادانو لخوا په خاصه توګه د استاد مولانا مفتي احمد الرحمان رَحِمَهُ ٱللَّهُ په حکم د مسجد چراغ الاسلام نه مسجد احسن ګلشن اقبال کراچۍ کې مې د امامت او خطابت فرايضو په اداء کولو شروع وکړه.

هم هلته مفتي صيب د خدای ورکړي فصاحت او بلاغت په برکت او د خپل وسيع علميت په زور په عامو خلکو کې زيات محبوبيت او مقبوليت ترلاسه کړ او بيا يې د هغوی په مرسته او اعانت د «جامعه احسن العلوم» اساس کيښود. دا چې مفتي صيب پخپله د قوي حافظې او پراخې مطالعې خاوند و، نو ورته بې شمېره فقهي جزيات د عبارتونو سره يوځای په ژبه ياد و او بل يې په هيڅ ديني مسئله کې د تسامح او مصلحت نه کار نه اخيسته، هميش يې تور ته تور او سپين ته سپين ويل، د حق په احقاق او د باطل په ابطال کې يې د هيچا د ملامتيا پروا نه کوله، درس وتدريس، خطابت و امامت سره يې په ټولو باطلو او الحادي فرقو باندې تندريز ګذارونه هم کول او د هيڅ يوې باطلې فرقې يا ډلې لپاره يې د نرمښت نه کار نه اخيسته، په پوره جرئت او همت يې په هغوی علمي ردونه کول، په دې سره جامعه احسن العلوم د علومو په اسمان کې د يره ژر وځليده او هم په مفتي صيب باندې د افغانستان، پاکستان او نورو هيوادونو څخه د طالبانو کتارونه ورمات شول. د احاديثو لويه دوره يې

په خاصه توګه د بخاري شريف درس يې د استاد المحدثين مولانا سليم الله خان رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه وروسته مقبول ترين درس و، همدا راز په شعبان او رمضان کې د عظيم الشان قرآن د تفسير دوره يې تر ټولو مشهوره او مقبوله دوره وه، په وروستيو کلونو کې د انټرنيټي اسانتياؤ په راتلو سره يې تفسير دوره انلاين هم نشروله او په ټوله نړۍ کې ترې په زرګونو او لکونو علماوو، طالبانو او مسلمانانو استفاده کوله.

دمرحوم درس وتدريس د عجايباتو، معلوماتو او د نوادراتو يو شهکار درس و، د باريکو علمي مفاهيمو او اسرارو ځخه ډک درس و، د هرې موقع او مهال سره مناسب يې په خداى ورکړي فصاحت و بلاغت سره د الفاظو، جملو او کلماتو په موزون انتخاب او استعمال کې بيساري ملکه او تجربه درلوده او د ژوند ترپايه يې خپل اظهار مافي ضمير په ډير زړه راښکونکې سليقه او انداز باندې کاوه، کـه زه ووايم چې ما تر اوسه په بل عالم کې د مرحوم هومره فصاحت و بلاغت او په راښکونکې سليقه او خوږه ژبه د خپل اظهار مافي ضمير کولو د صلاحيت نه برخمن شخص ندی ليدلی؛ نو باور وکړئ چې مبالغه به نه وي. پر دې علاوه يې په درس کې په يو وخت د پښتو، عربي، فارسي او اردو معنى خيز اشعار هم ويل، چې په اوريدو به يې اوريدونکو ورته خامخا داد ورکاوه، خصوصاً د پښتو د مشهورو شاعرانو لکه عبد الرحمان بابا، خوشال خان خټک او حافظ الپوري ديوانونه خو ورته په يادو ياد وو.

د سوچه اسلامي حرکتونو يې په کلکه ملاتړ کاوه او د کبرو وړو حرکتونو سخت ناقد او مخالف و، د افغانستان د اسلامي امارت د پيل نه کلک حامي او ملاتړی و، د افغانستان د پخواني جهاد هم حامي و، د افغانستان د علماوو سره يې نږدې مناسبات وو، په خاصه توګه د دوه جهادونو د مخکښ رهبر الحاج مولوي جلال الدين حقاني صيب رح سره نږدې تعلقات لرل او کراچۍ ته د مرحوم حقاني صيب د سفر پر مهال به يې ټينګار دا و چې هغه بايد د خپل کوربتوب شرف دده مدرسې « جامعه احسن العلوم» ته ور وبښي.

کله چې امريکا په افغانستان يرغل وکړ او په افغاني علماوو او طالبانو باندې دومره بدې ورځې راغلې چې په پاکستاني مدارسو کې د افغاني طالبانو په داخلو بنديزونه ولګيدل، ليکن نوموړي د خپلې مدرسې دروازې پرې بندې نکړې. د يوطالب د خولې نکل دی؛ چې کله په ۲۰۰۱ زکې امريکا په افغانستان حمله وکړه او اسلامي امارت سقوط وکړ، ورسره په نړۍ کې هر ځاى مسلمانان د امارت په سقوط خفه وو، خو مولانا مفتي زرولي خان زيات خفه و او د راتلونکي کال لپاره د طالبانو د داخلې په فارم کې يې دا شرط زيات کړ، چې « زه به د افغانستان د اسلامي امارت ملګری او حامي يم » لنډه دا چې مفتي زرولي خان رح د ډيرو اعلی صفاتو او لويو ځانګړتياوو څښتن عالم و، خو دا چې انسان دنيا ته د تل لپاره ندی راغلی، بلکې دنيا نه د کوچ کولو لپاره راغلی دی، نو دلته هيڅ ساکښ نه پاتې کېږي، يواځې د الله تعالى ذات به پاته وي، بالاخر د اخرت په لوی سفر روان شو او د روان ۲۰۲۰ زکال د دسمبر په ۷مه نيټه د کراچۍ په يو روغتون کې يې خپل روح حقيقي مالک ته وسپاره او د تل لپاره يې د نړۍ ځخه سترګې پټې کړې، په پاى کې دعا کوو چې الله تعالى دې مرحوم مفتي صيب ته فردوس جنت نصيب کړي او الله تعالى دې د مرحوم ټول ديني خدمتونه او زحمتونه قبول کړي او بيرته پاته وارثانو او کورنۍ ته دې د جميل صبر توفيق ورکړي.

هو!

ستا د ښايست ګلونه ډير دي

ځولۍ مې تنګه ده کوم،کوم به ټولومه

روح يې ښاد!



# څو خبرې د اداري نظام په اړه

قاري حبیب

اداره پـه لغـوي اعتبـار د اصـلاح، تـدبیر او کوښـښ پـه معناګانو استعمالیږي او په اصطلاح کې اداره له تخطیط، تنظیم، توظیف، توجیه او مراقبت څخه عبارت هغو فعـالیتونو تـه ویـل کیږي، چې د یوه کار د سم ترسره کېدلو لپاره ترسره کیږي.

د اداري په اصـطلاحي تعریـف کې راغـلي پنځـه قیـود( تخطیط، تنظیم، توظیف، توجیه او مراقبت) هر یو اوږد تفصیل لري. د بیلګې په توګه د یوه کامیاب مدیر غـوره صـفات دا دي چې هغه د تخطیط پلان ګذارۍ او طرح ریزۍ استعداد ولـري. د خپلو کارونو په اړه باید پلان ولري او په پټو سترګو اقـدامات و نکړي. تنظیم له نظم څخـه اخیسـتل شـوی چې بایـد د نظـم اصل ته معتقد وي. هره ټولنه د بقـاء او بریـا لپـاره خپـل خـاص نظم ته ضرورت لري. عالم کبیر یا کائنات په خاص نظم استوار دي. لمر، سپوږمی، ځمکه او ټول کائنات د الله تعـالی لخـوا د ورته ټاکل شوي نظم په مسیر چلیږي. عالم صغیر یـا انسـان هـم له بیلابیلو نظامونو څخه تشکیل شوی دی. عصبي نظام، تنفسي نظام، هاضمي نظام، تناسلي نظام وغیره وغیره... که چیرې دغـه نظم مختل شي نو انسان ژوند له لاسه ورکوي. نو بناء په اداره او مدیریت کې نظم اساسي ځای لري.

بل قید توظیف دی، مدیر باید د وړ کسـانو د توظیـف او کار اهل کار ته د سپارلو وړتیا ولري. توجیـه د سـوق او کنـترول په معنی راځي. مـدیر بایـد لـه شـته امکانـاتو او پرسـونل د کـار اخیستلو توان ولري. کاري ځواک په سم لوري توجیه کـړي لـه دې علاوه د کـارونو عمـومي مراقبـت او څـار د مـدیر یـوه بلـه مهمه دنده ده چې باید ویې لري.

## د اداري نظام سابقه

اوسنی اداري نظم او علم الاداره یو له هغـو پدیـدو څخـه ده، چې زموږ دین اسلام په بشریت پیـرزو کـړی دی. لـه اسـلام وړاندې د حکومتونو اداري نظامونه په ( کیف ما اتفق) یا ګډوډ شکل و، اما د اسلام له راتګ سره د ژوند د نورو شعبو په شان د حکومـت سـازۍ او اداري نظـام پـه برخـه کـې هـم اسـاسي ابتکارات وشول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې پـه مدینـه منـوره کـې اسلامي حکومت تأسیس کړ، نو نبوي مسجد یې د خپل مقر په حیث تعین کړ. له نبوي مسجد څخه لکـه څنګـه چې د دینـي دعوت کار اخیستل کیده، دغه راز د سفیرانو او والیانو ټاکـل، د عاملینو انتخاب او د لښکرو لیږل هـم لـه همـدې ځایـه کیـدل. مدینې منورې ته چې کوم وفود راتلل، نبي علیـه السـلام ورسره همدلته لیدل او نبـوي مسـجد د اسـلامي حکومـت د رهبـرۍ د مقام حیثیت خپل کړی و.

وروسته د راشده خلافت په دور کې اداري نظام نـوره وده وکړه، عمر فاروق رضی الله عنه اسلامي قلمرو پـه ۱۱ واحـدونو یا ولایاتو تقسیم کړ، چې مکه، مدینه، شام، جزیره، بصره کوفـه، مصر، فلسطین، خراسان، اذربایجان او فارس هر یو جلا ولایت وبلل شو او محلي ادارات په کې جوړ شول. په هر ولایـت کـې له حاکم نه عـلاوه نـور چـارواکي هـم رسـما تعین کیـدل، لکـه کاتـب، قـاضي، کاتـب الجـیش، صـاحب الخـراج، صـاحب الاحداث، محتسـب او صـاحب بیـت المـال... لـه دې عـلاوه د محاکمو، دارالافتاء، دارالحسبة، محابس، بریـد، ضراب خانـه او فوائد عامه په نوم مستقلې ادارې په هر ولایت کې فعالې شـوې. چې په دې سره حکومتداري او اداري نظم له مرکز څخـه ټولـو ولایاتو او محلي واکمنیو ته هم وغځېد. وروسـته پـه امـوي دور کې خصوصـا د معاویـه رضـی اللـه عنـه پـه زمانـه کـې اداره پـه معاصر پرمختللي شکل جـوړه شـوه. د خلافـت پـه مقـام کـې د دیوان الخاتم په نوم ځانګړې اداره پرانیستل شوه چې د رسـمي مکتوبونو د صدور، تسلیمولو او ارشیف مسؤلیت یـې درلـود او د اوسنیو اداراتو د اداري شعبې اړوند فعالیتونه یې ترسره کول.

دغه اداري نظم وروسته نه يوازې په اسلامي واکمنيو کې عام شو، بلکې په وروستيو پېړيو کې اروپايانو هم لـه مسـلمانانو څخه کاپي کړ او خپل ادارات يې په همدې نظـم برابـر کـړل. د تأسف ځای دا دی؛ چې ځينو ناخبرو ته اداري نظـام د غربيـانو ايجاد ښکاري او د نظم رعايت ورته يـوه اجنبـي پديـده ايسي- حـال دا چـې دا زمـوږ د اسـلافو او پخوانيـو صـالحو حـاکمانو ميراث او ابتکار دی.

## د اداري نظم مهمې ګټې

د اداري نظم رعايتول ډېرې ګټې لري، چې دلتـه يـې څـو ګټې د بيلګې په توګه يادوو.

هر مدير او مسؤل د مافوق لخوا د اداري نظم پـه رعايـت مکلف ګڼل کيـږي. نـو د اداري نظـم اولـه ګټـه د اولـو الامـر د اوامرو امتثال او اطاعت دی. معلومه خبره ده چې ټول مسلمانان په اطاعت د اولوالامر مکلـف دي او اطاعـت نـه يـوازې عظـيم ثواب او اخروي مرتبه لري؛ بلکې ډېرې دنيوي ګټې هـم ورسره تړلې دي.

د اداري نظم پـه رعايـت سره پـه کـار کـې مؤثريـت پيـدا کيږي. هغه اداري په خپلو کارونو او مسؤليتونو کې بريالی وي، چې اداري نظم يې ښه رعايـت کـړی وي، بلـه دا چـې د اداري نظم په رعايت سره شفافيت را منځته کيږي او د بدګوماني مخه نيول کيږي. ځکه د اداري نظم له امله هر څه واضـح وي، د هـر چا کارونـه، مسـؤليتونه، حقـوق او مکافـات معلـوم وي او هـيڅ ابهام نه رامنځته کيږي.

د اداري نظـام پــه واســطه د ســوء اســتفادې او خيانــت مخنيوی کيږي. اداري فسادګر، اختلاس کـوونکي او خائنـان د اداراتو له ګډوډۍ ناسمه استفاده کـوي، لکـه چـې متـل دی او خلک وايـي (ليـوه لـه خدايـه بـاد او بـاران غـواړي) کـټ مـټ همداسې فرصت طلب اشخاص د ګډوډۍ په انتظار وي او بيـا له مبهم او مغشوش حالت نـاروا شخصي-اسـتفاده کـوي. نـو د داسې خيانتونو د مخنيوي لپاره د اداري نظام رعايت خورا مهـم ګڼل کيږي.

دغه راز اداري نظم رعايتول د هـرې ادارې د نيـک نـامۍ سبب ګرځي. منظمه اداره هميشه حساب او محاسبې تـه آمـاده وي، له تفتيش او بـازپرس څخه ويـره نـه لـري، لکـه وايـي (از آنکـه حسـاب پـاک اسـت از محاسـبه چـه بـاک) دوی هـم لـه محاسبې ويره نلري او هميشه د هـر څـه پـه اړه خپـل وضـاحت وړاندې کولای شي.

## د يو ښه مدير مواصفات

د هيواد وتلي عالم او ليکوال مولـوي عبـد البـاقي حقـاني صاحب پـه خپـل ارزښـتمن کتـاب (د اسـلام سـياسي او اداري نظام) کې د اداري مسؤل يا مدير ۶۰ مواصفات ذکر کـړي دي. پـه نوروکتـابونو کـې هـم د اداري کارمنـدانو او مسـؤلينو ډيـرې ځانګړې يادې شوې دي. دلته د مطلب حوصلې ته پـه پـام سره د اداري مسؤل يا مدير څخه مواصفات يادوو.

لومړی اداري مسؤل بايد په خپل کار کې د نيت صـفايي او اخـلاص ولـري. اخـلاص د ټولـو کـارونو اسـاس دی. ځکـه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي (انما الاعـمال بالنيـات) نو د دې لپاره چې کار، فعاليت، ستړې او ستوماني يـې عبـادت وګرځي او د الله تعالی په نزد د اجر مستحق شي بايد هـر کـار د عبـادت پـه نيـت وکـړي او فقـط د اللـه تعـالی رضـا او د ديـن خدمت خپل نصب العين وګرځوي. له اخلاص سره سره تقـوی يو بل مهم صفت دی چې اداري مسؤل يې بايد ولري. په ټولـو کارونو کې بايد له الله تعالی څخه وويرېږي، د نفس او هوی له خواهشاتو ځان وژغوري او د چا حق تلف نه کړي.

د اداري مسؤل لپاره دغه راز استعداد او په خپل کـار کـې مهارت هم ضرور دی. که يو څوک هر څـومره ښـه اخـلاص او تقوی ولري خو که په ورسپارل شوي کار کې مهارت نه لـري او بې وسه وي نو نتيجـه يـې صـفر ده. ځکـه هـر کـار پـه مهـارت کيږي نو ځکه په کار ده چې هر مسؤل د خپل استعداد زيـادت او ترقي ته متوجه واوسي، پرلپسې خپـل مهارتونـه زيـات کـړي خصوصـا پـه هغـه بخـش پـه کومـه برخـه کـې چـې مسـؤليت ورسپارل شوی وي.

له دې علاوه امانت داري، خپل کار تر ټولو مهم ګڼـل، د اشخاصو پر ځای اصول او مقررات معتبر بلـل يـا د روابطـو پـر ځای ضوابطو ته ترجيح ورکول، په کارونو کې شفافيت، د نظم رعايت، د مشورې او نقد اوريدل او له کارمنـدانو سره د ورورۍ او صميميت په چوکاټ کې تعلقات ساتل هغـه څـه دي چـې د يوه بريالي او غوره اداري مسؤل ځانګړنې بلل کيږي.

# اجیر جنګیالي به ولې نه وژل کیږي؟

لیکوال: ابو اسامه "نیازی "



د نړۍ تاریخي واقعات او پېښې دا په ګوته کوي، چې د جګړو په مشروعیت کې عقیدوي (ideological) اساساتو ستر رول لوبولی دی، پدې مانا چې ایدیالوژي د جګړې متحرکه قوه بلل کیږي . د منځنیو پېړیو په اوږدو کې په اروپا کې خوا او شا سل کاله مذهبي جګړې وشوې، چې د خورا سترو انساني زیانونو ترڅنګ اروپا په بېساري توګه ویجاړه شوه. یاده جګړه د یو دین" عیسویت" په اډانه کې د دوه مذهبونو کاتولیک او پروټستانو ترمنځ وه . له هغو ورځو راپدېخوا، همدا ایدیالوژي ده چې دجګړو مشروعیت ته لار پرانیزي؛ په( ۲۰۰۱) میلادي کال کې امریکا د خپلو لویو اهدافو د تحقق او لاسته راوړلو لپاره په افغانستان ناروا یرغل ترسره او د افغانستان ملي حاکمیت یې تر پښو لاندې کړ. د هغه وخت امریکایي ولسمشر بوش کولای شول، چې د همدې ناروا جګړې اعلان له سپینې ماڼۍ، پنټګان، او یا هم د یو بل مهم رسمي ارګان له مقره وکړي. خو ده د همدې کرغېړنې جګړې اعلان له یوې کلیسا وکړ او خپله جګړه یې صلیبي یاده کړه او په نړیواله کچه یې صلیبیان دې ناولې او نامشروع جګړې ته راوبلل چې صلیب ته منسوبو افرادو او دولتونو پکې په ډېره علاقه مندۍ ګډون وکړ. د انګلستان د شاهي کورنۍ غړو له امتیاز او معاش پرته زمونږ هیواد ته زمونږ د وژلو ځورولو او له منځه وړلو لپاره په ځانګړې عقیدوي روحیې سره راغلل؛ نو له همدې امله مونږ هم د خپل ستر اسلامي ایډیالوژیک مکلفیت له مخې د خپل دین له هدایاتو سره سم د منسوخ دین عیسویت له پیروانو سره په ډېره علاقه مندي د زده کړې لپاره نه هېرېدونکي درسونه ورکړل، چې ددوی نسلونو ته به دتل لپاره یاد وي.

د (۲۰۰۱ )م کال له پیله تر( ۲۰۱۴ )م کاله پورې د افغانستان د مظلوم ولس په وړاندې جګړه د دوه لوریو صلیبي ائتلاف او یو شمېر مفاد پرستو هیوادونو ترڅنګ د یو شمېر اجیرو افغانانو له لوري په مشترک ډول ترسره کېده. د مثال په توګه؛ کله به چې په یو کلي چاپه وهل کېده او یا به د ولس په وړاندې نظامي عملیات ترسره کېدل، په مساویانه ډول به خارجي یرغلګر او داخلي اجیران سره یوځای تلل، نو له شک پرته چې دواړو لوریو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتل. خو له (۲۰۱۴) م

کال وروسته چې غني د خپل ستر بادار امریکا سره امنیتي قرارداد لاسلیک کړ، نو هغه جګړه ایزه ونډه چې صلیبي یرغلګرو زمونږ د ولس په وړاندې لرله؛ هغه ددې امنیتي قرارداد په لاسلیک سره په اصطلاح افغان امنیتي ځواکونو ته په څرګند ډول ولېږدول شوه، پدې مانا چې اوس افغاني اجیران په بشپړه توګه د صلیب په قالب کې امریکایي جګړه د خپل ولس په وړاندې مخته وړي.

نن افغاني جنګي مزدوران د امریکایي جګړې نیابتي جګړه کوونکي دي. د غني امنیتي قرارداد له لاسلیک وړاندې د افغاني اجیرو ملېشو انساني زیانونه کم وو، خو اوس یې په طبعي ډول تلفات په مراتبو لوړ شوي ، کله چې په واضح ډول یوه ناروا او مطلقه پردۍ جګړه یو څوک خپله مخته وړي نو په طبعي ډول به هغه څوک وژل کیږي، چې جګړه کوي. نن سبا د کابل د مفسدې ادارې ویاندویان چیغې وهي او ګیلې کوي چې طالبان مونږ وژني او امریکایان پرېږدي. ای د افغان په نوم د امریکا نیابتي جګړه ماره!

تلفات دې ځکه زیات شوي، چې پخوا دې پنځوس سلنه ناروا جګړه د خپل ولس په وړاندې کوله اوس خو سل سلنه جګړه ته مخته وړې. که د خپلو مشر انو خبرې د زړه په غوږونو واورې؛ په زغرده وایي چې اوس ټوله جګړه مونږ کوو، کله چې جګړه ته کوې او وژل کیږې دې امریکایي؟

دا تاته څومره منطقي ښکاري؟ د خارجي یرغلګرو په تناسب ستا تلفات د افغانستان د اسلامي امارت له لورې د امریکایي اشغال د خاتمې د تړون په نتیجه کې نه دي لوړ شوي، بلکې د غني سره د امریکا امنیتي تړون و، چې ستاسي انساني وژنې یې لوړې کچې ته په بېساري توګه پورته کړې. په حقیقت کې ستا دنده دا وه، چې د خپل افغان ولس له خاورې، ناموس او ارزښتونو دې په مېړانه ساتنه کړې وای. خو تا د ډېرو کمو مادي امکاناتو د لاسته راوړلو په خاطر د صلیب په کفري صف کې د خپل ورور په وړاندې ودرېدې، ته ښه پوهېدې چې لاره او مسیر دې سم نه دی؛ خو د یو څو ټکو د لاسته راوړنې په پار دې قبیح او بد عمل ته مخه کړه. زما سپارښتنه درته دا ده؛ چې په تېرو ناروا او جرمونو توبه وباسه او د افغانستان د اسلامي امارت له قواو سره د نورو همسنګرانو په څېر دې یو ځای شه، پدې کې دې نجات او خیر دی، له دې پرته به وژل کیږې او تاریخ به هم تا د صلیبي جګړې نیابتي جګړه مار معرفي کوي..





# هنوز فرصت تغییر است

انعام‌الله قاری‌زاده

ضرب المثل مشهوریست که به شتر گفتند گردنت چرا کج است؟ شتر گفت: اما کجایم راست است؟

بلی، نظام کنونی کابل که بر اثر کج بودنِ هر عرصه‌ی حکومت‌داری‌اش به این حال و روز رسیده‌است، از طالبان می‌خواهد که بر روش خود بازنگری نمایند و مواقف اساسی‌شان را تغییر دهند. در حالی‌که پیکر خسته و شکسته‌ی خودش از همه بیش‌تر به این بازنگری و تغییر نیاز دارد. اما این شاید مشکل عمومی جامعه بشری امروزی‌ست که به‌جای تغییر دادن خود، به تغییر دادن دیگران علاقه‌مند می‌باشند.

عبدالحفیظ منصور، عضو سیکولار هیئت مذاکره کننده‌ی جهت‌های مقابل و همچنان سخنگویان و مشاوران دموکرات ارگ درین روزها از نیامدن تغییر در سیاست طالبان نالیده‌اند و گویا این را از موانع پیش‌رفت در پروسه صلح پنداشته‌اند. آن‌ها چنان وانمود می‌سازند گویا با وارد شدن به میز مذاکرات، فرصتی به طالبان داده اند تا تغییر بخورند و ذوب و جذب این نظام شوند. بلی، این نظام بوسیده و از کار مانده.

اما برای همگان مبرهن است که واقعیت چنین نیست. در واقعیت، طالبان ضمن توافق‌نامه دوحه، به مقامات اداره کابل و جهت‌های مختلف سیاسی فرصت داده‌اند که برای تعیین سرنوشتِ پسا اشغال شان بیایند با طالبان وارد گفت‌گو و مذاکره شوند، تا شاید در افغانستانِ آینده و اسلامی همچو سائر اتباع کشور، زندگی آرام و مطمئن داشته‌باشند.

این قربانی بزرگ طالبان و ارج‌گذاری آن‌ها به پروسه صلح بود که جهت‌های مختلف سیاسی را، که تقریبا همه‌ی شان مدت دو دهه در خدمت اشغال و اشغال‌گران بودند، به میز مذاکرات پذیرفتند و با آنان وارد مکالمه‌ی مستقیم شدند.

طالبان تا اکنون به‌جز اینکه خواستار نظام واقعی اسلامی هستند، هیچ‌گونه خط‌های‌سرخ نکشیده‌اند و جهت‌های مقابل را هم به این توصیه نموده‌اند که خط‌های‌سرخِ پیش از وقت، به‌جز بهانه‌گری در برابر روند صلح چیزی دیگری نیست. اما مقامات کابل که طالبان را به جمود فکری و تغییر ناپذیری متهم می‌کنند، حتی آماده نیستند از نام "جمهوریت" بگذرند. حال اینست که ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی طالبان به صراحت گفته است که عنوان مهم نیست، ما بر عنوان امارت پافشاری نداریم.

بلی، اگر خواست چهره‌های سیکولار همچو عبدالحفیظ منصور و امثال او اینست که طالبان برای سازگاری با آن‌ها و به‌هدف تقسیم قدرت، باید ارزش‌های دینی و ملی شان را زیرپا کنند، این در حقیقت وابسته ساختن پروسه صلح به امر محال است.

انجام نامثمر جهاد شوروی و همچنان متعهد نماندن احزاب آن دوره‌ی مبارزه به اهداف والای جهاد، درس‌های خوبی

برای طالبان داده‌است. طالبان آموخته‌اند که هرگز مسیر خود را تغییر ندهند و بر داعیه بر حق شان تا آخرین رمق حیات ایستادگی نمایند. زیرا آن‌های که مسیر شان را تغییر دادند، میدان را باختند و رسوا و روسیاهِ دنیا و آخرت شدند.

اگر بیاندیشیم، اصلا این بحث بی‌جاست که طالبان تغییر کرده‌اند یا خیر. هرگاه جهت مقابل با همه ناکامی‌های‌شان نیاز به تغییری نمی‌بینند، طالبان که موفقیت‌های انکارناپذیر و چشمگیری در سائر عرصه‌ها دارند، چرا باید تغییر کنند؟ هرگاه جهت‌های مقابل بر ارزش‌های وارداتی و دستاوردهای خیالی اصرار می‌ورزند، طالبان چرا باید بر ارزش‌های دینی و ملی شان ایستادگی نداشته‌باشند؟

پاسداری از تشخص و هویت دینی و ملی افغان‌ها از اهداف عمده‌ی مقاومت طالبان در برابر تهاجم نظامی و فرهنگی استعمار بود. استعمار غربی همه توانایی خود را با کاربرد همه ابزار مدرن تبلیغاتی برای مسخ کردن مشخصات و ویژگی‌های دینی و ملی جامعه مسلمان افغانی به خرج دادند، اما موفقیت چندانی نداشتند.

«دستاوردهای هجده و نزده ساله» که به خط‌سرخ سیکولاران و دموکراتان در مذاکرات بین‌الافغانی تبدیل شده، در حقیقت همان موفقیت‌های جزوی است که استعمار غرب با همکاری دست‌نشاندهان داخلی شان در جنگ دو دهه‌ی فرهنگی به‌دست آورده‌است.

اکنون که اداره دین‌ستیز و چهره‌های سیکولار کابل غوغا دارند چرا طالبان تغییر نکرده‌اند، هدف‌شان اینست که طالبان باید به این دستاوردهای مزعوم آن‌ها ارج بگذارند و خود را با باورهای سیکولاری آنان هماهنگ بسازند. این سیکولاران عجب نازدانه‌های هستند که پس از شکست استعمار هنوز در خیال تحمیل افکار و باورهای بیگانگان بر جامعه اسلامی افغانستان هستند.

چنانچه چند روز پیش برنامه‌ای با جلوه‌نمایی ده‌ها تن دختران نیمه‌برهنه به‌عنوان انتخاب آقا و بانوی سال ۲۰۲۰ افغانستان و یا رقابت‌های مدلینگ، در کابل به راه انداخته‌شد، که در حقیقت گام نهایی در برابر ارزش‌های دینی و تشخص ملی افغان‌ها بود. رسانه‌های دموکرات و سیکولار با استقبال گرم از این پروسه‌ی ترویج فحشا و برهنگی، وانمود می‌ساختند که این‌گونه برنامه‌های ضد اخلاقی جزو عمده‌ی دستاوردهای نزده ساله‌ی آن‌هاست، و گویا آن‌ها را در راستای مقابله با اسلام‌گرایی و تغییر جامعه سنتی افغانستان جرات و مورال می‌بخشد.

بالمقابل طالبان بارها تصریح کرده‌اند که حامی آزادی واقعی بیان وحقوق واقعی زنان وهمه قشرهای جامعه در چهارچوب شریعت والای اسلامی هستند، اما آنچه به‌عنوان آزادی و حقوق زنان پیش می‌شود و در حقیقت اهانت به کرامت و حرمت زنان است، برای شان هرگز قابل تحمل نیست.

بلی، هنری که امثال حفیظ منصور ازان لاف می‌زنند و به‌شکل برنامه‌ی مدلینگ به جامعه ما عرضه می‌گردد، نه تنها طالبان، بلکه برای هیچ فرد جامعه مسلمان افغانستان قبول نیست و اینگونه ایستادگی و پافشاری بیجا در برابر موازین اسلامی و اخلاقی، واکنش‌های تند مردمی را در قبال خواهد داشت، که به نابودی دموکراتانِ سیکولار از جامعه منتج خواهد شد.

درک این درس تاریخ نیاز به فلسفه‌ی پیچیده‌ای ندارد که گلیم اشغال به تنهایی نه، بلکه همه دسایس و توطئه‌های آن باید برچیده می‌شود، تا کشور و ملت از پیامدهای شوم آن نجات یابد و همه خارها از مسیر رفاه و پیش‌رفت مادی و معنوی کشور برداشته شود، وگرنه، اثرات زهرآگین آن با گذشت زمان به ناسور تبدیل می‌شود و روح و پیکر جامعه از گزند آن مصون نمی‌ماند.

یقینا وقت آن فرا رسیده‌است که دموکراتان افغان حقایق زمینی را درک کنند و برای زندگی راحت در افغانستانِ آینده و اسلامی، از همین اکنون خود و مسیرشان را تغییر دهند.



رحیمي

# د اسلامي شریعت پیژندګلوی

## د غربیانو لخوا د اسلامي اصطلاحاتو د «تنقید او تضحیک» لړۍ!

کله چې د اتلسمې پېړۍ په نیمايي کې د اسلامي نړۍ زیاتره برخه او هېوادونه د مغربي استعمار د پراختیایي عزایمو ښکارشول، په وړاندې یې د هر اسلامي هېواد دننه مجاهدینو په مقاومت او مزاحمت لاسونه پورې کړل.

دلته باید په یاد ولرو چې په اکثرو اسلامي هیوادونو کې د مقاومت رهبران او مخکښان د وخت وتلي جید علماءِ کرام او روحاني مشایخ وو، چې په قیادت او رهبرۍ کې یې مسلمانانو د مغربي استعماري هیوادونو د پراختیایي عزایمو شوم ارمانونه د خاورو لاندې دفن کړل.

په هغو مجاهدو علماؤ او روحانیونو کې د اندونیزیا دامام «نجول»(۱) څخه نیولې د مراکش تر امیر عبد القادر الجزایري(۲) د افغانستان د مجاهدو علماؤ او روحانیونو نه نیولي، د هندوستان تر شیخ الهند (مولانا محمود الحسن دیوبندي) او د داغستان د امام شامل(۳) نه نیولې؛ د صومالیه تر امام محمد بن عبد الله الحسیني(۴) پورې هر هیواد کې د استعماري ځواکونو په وړاندې د جهاد او ازادۍ بیرغ پورته کوونکو په مخکې د مجاهدو علماوو، روحانیونو او د دیني بزرګانو یوه ولاړه سلسله په نظر راځي.

کومو چې د بهرنیو یرغلګرو ځواکونو په مقابل کې د وسلوال جهاد بیرغ پورته کړی او د «دار الاسلام» د ازادۍ او د اسلامي لاربښوونو سره سم د ژوند تیرولو په هدف یې د خپلو سرونو بې دریغه قرباني ورکړې. د جهادي مقاومت او مزاحمت دا سلسلې د نولسمې پېړۍ تر وروستیو پورې وغځېدې او نږدې یو نیم سل کاله یې دوام وکړ.

په همدې اوږده موده کې مغربي لیکوالانو او پوهانو یوه داسې ستراتېژي جوړه کړه، د کومې له مخې چې هغوی په لومړي قدم کې د جهاد او مجاهدینو په اړه د غلطو او ګمراه کوونکو معلوماتو او د ناسمو برداشتونو په خورولو لاسونه پورې کړل، له هغه مهال راهیسې مسلسل هغوی او د هغوی شاګردان لګیا دي، د جهاد په باره کې خطا معلومات، ګمراه کوونکي مفاهیم او الحادي مواد د رسنیو، کتابونو او بېلا بېلو چینلونو له لارې خپروي.

او بیا کله چې په لوی شمیرکې عیسایي پاپان اسلامي هیوادونو ته را وارد شول؛ هغوی په ډېر زور او شور سره د مسلمانانو د مرتد کولو کوښښونه پیل کړل، خو ډېر ژر هغوی ته جوته شوه چې د دوی کوښښونه او هڅې د ناکامۍ ښکار

گرځي، نو پخپلو منځو کې د دې لپاره سره جرګه شول، څو د خپلو ناکامیو په اسبابو غور او فکر وکړي، د غور او فکر کولو وروسته هغوی ته دا احساس وشو چې د مسلمانانو ترمنځ د اسلام پرېښودل او د هغه پرځای بل دین غوره کول نه یواځې معیوب کار ګڼل کېږي؛ بلکې ورته د بغاوت په نظر کتل کېږي، مرتد شخص د اسلامي ټولنې څخه بیرون ګڼل کېږي او هغه(مرتد) په اسلامي قانون کې د مرګ د سزا مستحق او مستوجب دی او ارتداد یو داسې نه بښونکی جرم دی چې ورباندې د مرتکب شخص وجود د اسلامي هیواد دننه هم نه زغمل کېږي.

کله چې مغربیانو او په خاصه توګه مستشرقینوته دا احساس وشو، نو هغوی هم مهال دا پرېکړه وکړه او خپله فریضه یې و ګڼله، چې دوی به خامخا د «ارتداد» سزا باره کې ګمراه کوونکي مفاهیم او ناسم معلومات پیداکوي او په باره کې به یې داسې شکوک او شبهات پیدا کوي چې په اسلامي ټولنه کې د هغو پیدا کېدل پکار ندي.

د نولسمې پېړۍ په پای کې چې کله د استعماري هیوادونو په دې باور پوخ شو چې عثماني خلافت نور د زوال په وروستۍ مورګه ولاړ دی، دې سره هم مهال د مغربي هیوادونو ترمنځ دا سیالي او مسابقت پیل شو، چې د عثماني خلافت تر بیرغ لاندې کوم، کوم ښارونه او هېوادونه به څوک نیسي او یا په څه ډول به ویشل کېږي؟ څکه د هر غربي هېواد خواهش او کوښښ دا و چې هغه ډېر ښارونه ونیسي، د عثمانیانو زیاتې شتمنۍ او وسائل قبضه کړي، د دې په سر هغوی د یو بل حریفان او رقیبان وګرځېدل، خو د دې باوجود په دې کې یې هم د یو بل سره سیالي کوله چې څنګه د مسلمانانو سیاسي نظام(خلافت) په بدنامولو کې تر نورو زیاته ونډه او رول اداء کړي؟ او هر یو په دې بوخت و، چې څنګه د مسلمانانو په سترګو کې د خاورو په شیندلو د خلافت موجودیت د هغوی د ټولو ستونزو او کړاوونو د قوي لامل اوسبب په توګه وړاندې کړي؟

همدا راز هغوی په دې غور وکړ، چې د ترکانو په خلاف د نورو مسلمانانو بالخصوص د عربانو په زړونو کې د قومیت او ملت پالنې جذبه او هغوی نه د نفرت او مخالفت تومنه څنګه واچول شي؟ د دې لپاره یې یوه د قیقه ستراتېژي جوړه کړه او د هغې په پلي کولو یې لاسونه پورې کړل. د کوم په ترڅ کې چې د مسلمانانو ترمنځ د سیاسي، عقیدوي وحدت او اخوت شته نظریه له منځه یوړه، د مسلمانانو ترمنځ د اتحاد او اتفاق مفکوره یې د یو موهوم څېز په توګه وړاندې کړه او بیا د دې لپاره چې د دیني او سیاسي وحدت او د ملي هماهنګۍ روحیه ښه وځپل شي، یا د دې لپاره چې پر خلاف یې عامه رایه جوړه کړي، نو دپان اسلام ازم)(۵) اصطلاح یې وضع وکړه، د هغې په پرده کې یې د مسلمانانو سیاسي او دیني وحدت په نښه کړ او په ټوله کې یې لوی هدف یا موخه د اسلامي خلافت ړنګول وګرځول!

د دې اوږده تمهید نه مو غرض دا دی چې څو دا روښانه شي، چې د اسلامي اصطلاحاتو، دیني اندونو او افکارو په باره کې د مغربیانو مغرضانه هڅې په ظاهره دومره ژورې او مؤثرې نه بریښي، خو د معنویت او پایلو په اعتبار زیاتې ژورې او مؤثرې دي او ترشا یې اوږده سیاسي محرکات او اسباب شتون لري او مغربي پالیسي- جوړونکي داسې کول د خپلو سیاسي، اقتصادي او پوځي مصلحتونو لپاره ضروري ګڼي، همدا وجه ده چې هغوی دوامدار بېلابېل اسلامي اصطلاحات هدف ګرځوي او د تحقیقاتو او څېړنو په پلمه یې د مسخ کولو یا په ناسمه توګه تعبیرولو جسارتونه کوي، د دې لپاره په لومړي قدم کې کله داسې اصطلاح وړاندې کړي، چې هغه عموماً په مغربي ژبو کې د کومې ژبې نه را اخیستې وي او بیا ترڅه وخت پورې هغه نوی وضع کړی لفظ یا اصطلاح د « تنقید او تضحیک» هدف ګرځوي، کرار کرار چې کله په اړه یې د خلکو ذهنونه جوړشي، نو بیا په اصل اسلامي اصطلاح او د هغې په مفهوم باندې برید وکړي او دا لړۍ د تیرو دوه سوه کلو راهیسې جریان لري.

په تېرو څو لسيزو کې چې کوم اصطلاحات او الفاظ د غربيانو لخوا د « د تنقيد او تضحيک» نښه گرځېدلي دي په هغو کې يوه اصطلاح پخپله د «شريعت» هـم راځـي، چې د مغربي پوهانو لخوا د تنقيد او تضـحيک پـه خنجرونـو يـې د وهلو ناکام کوښښونه شوي دي.

د يادولو وړ ده، چې په مغربيانو سربېره دې کار کې کم علمه او کم فهمه مسلمان اشخاص هم شريک دي، يا په بل تعبير پـه دې اړه د مستشرقينو د شـاگردانو او عقيـدت منـدو مسلمانانو ونډه هم کمه نده، د شريعت لفظ چې څـومره عـام دی، هغومره يې په باره کې تيروتنې او ناسم برداشـتونه عـام دي، کومو ته چې مـوږ د دې ليکنـې پـه لـومړۍ برخـه کـې اشاره وکړه او بيا معاد کولو ته يې اړتيا نشته.

په مغربي مستشرقينو(٦) علاوه مغربي ژورنالستان او نور قلمـوال هـم پـه دې کـار کـې سـهيم دي، چـې د اسـلامي اصطلاحاتو په خاصه توگه د شريعت لفظ په اړه يې د ناسمو تاثراتو ورکولو کوښښونه کړي دي.

هغوی ( مغربيانو ) د شريعت د مأخذ او مصدر پـه اړه د شکوکو پيدا کولو پـه بـاره کـې د جاهليـت دورې دودونـه او طريقـې ښـودلې دي او بيـا د هغـو وروسـته څـو مستشـرقي عقيدت مندو يې هم هغسې خيـالات او افکـار تکـرار کـړي دي او د اسلامي نړۍ دننه يې د هغوی بيهوده اندونه او نـاوړه افکارتيت کړي دي او ښکاره ده چې د شريعـت د مأخـذ او مصدر په توگه د جاهليت دورې طريقې ښـودل پـه اسـلام او شريعت خورا لوی بريد دی.

هم دا لامل دی چې د اسلامي نړۍ په لادينه طبقـه کـې د شريعت په اړه گمراه کوونکي برداشـتونه شـتون لـري او پـه اړه يې هغوی د خپلو مغربي استادانو څخه متاثر دي.

هغوی (لادينه ډله) که څه هم د شمېر د پلـوه محـدوده ده، خو د خپل اثر او رسوخ په وجه ځواکمنـه او مـؤثره ده او هغـوی دا سـې انگيـري، چـې شريعـت د منځنـۍ دورې يـو پخوانی ديـن دی چې پـه اوس عصر ـ کـې يـې (معاذ اللـه) افاديـت لـه لاسـه ورکـړی دی، د هغـوی پـه انـد: نـړۍ اوس عصري ده، د روڼ اندۍ په لور درومي او د عصريت او روڼ انـدۍ پـه دې دور کـې منځنيـو پېړيـو کـې اسـتعمال شـوي کارتوس کارول هوښياري نه ده.

يـاده ډلـه د اسـلامي تـاريخ، اسـلامي لاربښـوونو او د اسلامي تهذيب و تمدن نه يومخ ناخبره ده او په دې ډله کـې د اسـلام، اسـلامي زده کـړو، اسـلامي تـاريخ او د اسـلامي تهذيب و تمدن څخه د ځانونو خبرولو جذبه شـتون نلـري،د دې ډلې غړي د خپل فکـري جوړښت، تعليمـي شـاليد او د اخلاقي کردار په اعتبار د مغربيانو نه جلا او هغوی سره تـوپير نلري او پـه پـوره توگـه د ژوندانـه د معيـارونو، فکـري ذوق و مزاج له پلوه غربيـان دي، خـو کـه بيـا هـم د دې ډلـې ځينـې غـړي د کـومې اړتيـا لـه مخـې د اسلام او اسـلامي تهـذيب پېژندل وغواړي نو د اعتماد او باور مصادر او مأخذونه يـې د غربي مصـنفينو او مستشرقينو کتابونـه وي، کـه اتفاقاً د کـوم غربي مصنف يا ليکوال قلم نه اسلام په باره کې کومه د خير خبره يا کليمه وتلې وي، نو ياده ډله په جزوي توگـه د اسـلام په هم هغه يو افاديت اعتراف کوي. په نور نه! کنه د دې ډلې د غالب اکثريت په نظر کې د شريعـت حيثيت د اروپايـانو د تاريک دور او رومي قوانينو سره توپير نلري،دا خـبره پـه دې سربيـره چـې پـه زړه پـورې ده، هيښـوونکې هـم ده چـې د همدې ډلې ډيرۍ غړي د اسلامي تاريخ د يوې لـويې برخـې د منځنيـو پېړيـو، قـرون مظلمـه يـا تاريـک دور مغـربي او اروپايي اصطلاحات استعمالوي.

بله داچې داستعمار له دورې راهيسې په اسـلامي نـړۍ باندې د سياسي او پـوځي واکمنـو اکثريـت پـه همـدې ډلـې پورې اړه لري نو ځکه د دې ډلې لخوا د شريعت په باره کـې سختې نيوکې کېږي او داسې ښکاري چې د هغوی ترمنځ پـه دې اړه يوه داسې نااليکلې لوظنامه شتون لـري، چـې د يـادې ډلـې هـر غـړی بـه د اسـلامي شريعـت د نفـاذ او د شريعـت خوررولو او احيا کولو په اړه کيدونکي کوښښونه سبوتاژ کوي او که دا ورته ممکن نه وه او يا مصلحت نه وه، نو بيا به يـې د محدودولو کوښښونه کوي.

د حقــوق پوهــانو تــرمنځ ځینــې مخلــص او دینــدار مسلمانان هم د دوی د تیروتنو او ګمراه کوونکو برداشتونو ښکار ګرځیدلي دي، په خاصه توګه د هغو هېوادونو په حقوق پوهانو کې ګمراه کوونکي برداشتونه ډیر لیدل کېږي، چېرته چې انګریزي قوانین پلي دي، وجه یې داده چې مختلف اسلامي هیوادونه لکه مالیزیا، اندونیزیا، د هند د نیمې وچې هیوادونه ( هند، بنګال، پاکستان) نایجیریا او نور چې تر اوږدې زمانې د انګریزي ښکېلاک د اشغال لاندې پاتــه شــوي دي، هلتــه پــه شروع، شروع کــې انګریزانــو د مسلمانانو د مطمئن کولو لپاره دا ژمنه کړې وه چې د هغوی معاملات بـه د شریعـت سره سـم فیصله کېږي، کله چې د ۱۷۶۵ز شاوخوا د جزایر شرق الهند (ایسټ انډیا) په نوم کمپنۍ او د هند مغول پاچا ( شاه عـالم ثـاني)(۷) تـرمنځ دیواني تړون لاسلیک شو، په هغه کې دا شرط ایښودل شوی و، چې د مسلمانانو قضایا بـه د شریعـت سره موافق فیصله کېږي، خو بیا وروسته په هغه وعده د عمل نوبت رانغی.

البته د مسـلمانانو شخصي ـ او عـایلي قـوانین تـر ډېره د هغوی د فقهي مسلک سره سـم فیصله کیدل، د دې هـدف لپاره یې د هند په نیمه وچه کې د حنفي فقهې او جعفري فقهې ځینې کتابونـه انګریـزي تـه وژباړل، د نومیـالي محقـق عالم «مرحوم محمود احمد غازي رح» په وینا:هغه ژباړې د ګڼو تیروتنو او نیمګړتیاوو څخه ډکې دي، د هغو ترڅنګ په ځینو مسلمانانو او نامسلمانو حقوق پوهانو یې ځینې درسي کتابونه هم ولیکل، د کومو مآخذونه او مصادر چې هـم هغه د تیروتنو او نیمګړتیاوو نه ډکې ژباړې غوره شوې او هـم د انګریزي محاکمو د پریکړو نظایرو ته په کتو جوړه د حقوقو زخیره یې مأخذ او مصدرګرځولې ، هم حقوق پوهانو هغه د شرعي قوانینو په زخیره ونومولـه او د همـدې څـه بانـدې دوه سوه کلـن روایـت لـه مخې د شریعـت اصـطلاح هـم د څو عایلي قوانینو او اندونو پورې محدود کـړای شـوې ده، کومـه چې په اصل کې د انګریـزي محـاکمو لـه نظایرونـه سرچینـه اخـلي او هغـه نظـایر چې د څـو محـدودو فقهـي کتـابونو د نیمګړو او ناسمو ترجمو نـه اخیسـتل شـوي دي، کله چې د دې ډلي د غړو په وړاندې د شریعت نوم یاد شي نو د هغـوی ذهن ته د شریعت یو ډیر محدود، نیمګړی او پخوانی تصـور ورشي کوم چې په دې دور کې اهمیت نلري.

هو! د شریعت په باره کې د محـدود تصـور پـه زېږولـو کې ځینې دیني کړی هـم برخـه لـري، بلکـې د هغـوی ونـډه پکې تر نورو ډېره ده، کومو ته چې موږ د دې لیکنې پـه پیـل کې اشاره وکړه.

مثلاً: یو وخت کم علم صوفیانو بـه شریعـت د طریقت او حقیقت په مقابل کې د کمې درجې څېز باله، په ځانګړې توګه ځینو فارسي شاعرانو تر اوږدې زمانې پـورې د تصوف تر عنوان لاندې د ځینو شرعي اصطلاحاتو په باره کې طنزیـه جملې کـارولې، دا سمه ده چې کله بـه د هغـوی نـه «کـوم صـاحبِ دل او صـاحبِ تزکیـه شخصـیت» د ځینـو ظـاهري علماوو د ظاهر پرستیو نه پـه شـکایت لرلـو سره شـکوه کـول ضروري بللـي وي او بیـا وروسـته بـه د هغـې اظهـار د منفـي تبصرو په بڼه د نورو له اړخـه شـوی وي، لکـه ځینـې مثالونـه چې د مولانا روم، حکیم سنائي خواجه فریدالـدین عطار پـه کلامونو کې لیدل کېږي او بیا د فارسي نور شـاعران ولګیـدل نور هم مخ ته لاړل، تردې چې د هغوی په تقلیـدکې د نـورو ژبو لکه د اردو او پښتو ځینو شـاعرانو هـم شریعـت، مسـجد، قـاضي، محتسـب، زاهـد، شـیخ، مـلا، کعبـې او داسـې نـورو الفاظو او اصطلاحاتو ته د منفي معانیو اغوسـتلو پـه جسـارت کـې بوخـت وو، تـردې چـې همـدې کـارب یـا د اباحیـت خوښوونکو ( چې حرام جایز ګڼي لکه اباحیه فرقه) د ذهنونـو په مسمومولو کې یو خاص منفي کردار اداء کړ.

دا چې په دې کـې د چا قصـور دی؟ نـو د دې خـبرې شدید ضرورت دی چې د شریعـت اصـل مفـاهیم بایـد عـام شي، د شریعـت بـاره کـې د جـامع اسـلامي او عـربي مفهـوم وضاحت پکار دی، څو وښودل شي چې شریعـت څـه دی؟ او د هغه پـه دایـره کـې کـوم، کـوم کارونـه راځـي؟ دڅونـد د مختلفو میدانو سره یـې څـومره او څـه تعلق دی؟ د شریعـت اسـاسي تصـورات، احکـام او مقاصـد څـه دي؟ د شریعـت

امتيازي خصايص او اوصاف څه دي؟ او پردې سربيره په نوي عصري دور کې مغربيت او عقليت ځيلي ذهنونه په څه ډول مطمئن کيداى شي؟ او د هغوى د اطمنان لپاره د شريعت حکمت او فلسفه څه ده؟ او د تغيرو ثبات په روان کشمکش کې د شريعت دريځ څه دى؟

په لومړي قدم کې دا خبره په ذهن کې کينول ضروري ده چې شريعت يوازې حقوقي نظام ندى، نه تنها د ديواني او جزايي قوانينو څخه عبارت دى، شريعت نه مراد د ژوند طرز دى، د کوم اساس او اصل الاصول چې په الهي وحي ايمان او د نبوي لارښوونو پيروي ده او شريعت د ژوند لپاره هغه طرزالعمل دى، کوم چې په دين، اخلاقو، روحاني اقدار او په انفرادي او اجتماعي حيات ولاړ دى.

شريعت يو داسې تهذيب وړاندې کوي؛ کوم چې د رنګ و نسل د امتيازاتو او د لساني او جغرافيوي تعصباتو نه پاک دى، کوم چې ټول انسانان په عقيده، نظريه او د ژوندانه په طرز باندې يوځاى کوي د علامه اقبال په الفاظو: اسلامي تهذيب نه مکاني نهايت لري او نه زماني.

دقرآن مجيد له مخې: حقيقي او دايمي ژوند د اخرت دى، د الله تعالى ارشاد دى: وإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ. يعنې د اخرت ژوند حقيقي ژوند دى، شريعت هغه لار ده چې وربانديې په تلو سره انسان حقيقي ژوند ته رسي.

او ښکاره ده چې الله تعالى پخوانيو قومونو ته هم د شريعت مختلف احکام ورکړي وو، د هغو شريعتونو اساس يو و، ليکن د هغو عملي تفصيلات، سيميز ضروريات او د زماني غوښتنې د يو بل نه جلا وې،هر قوم ته چې د کوم ډول تعليم او قوانينو ضرورت و هغه ته يې هم هغسې قوانين او احکام ورکړي دي.

که څه هم شريعتونه او پر هغو باندې د عمل اساليب و مناهج يو بل سره توپير لري، خو د هغو ټولو اساس په دايمي اصولو ولاړ و، د هند د نيمې وچې او اسيا «امير المؤمنين فى الحديث شاه ولى الله دهلوي» پخپل مشهور کتاب «حجة الله البالغه» کې په تفصيل سره د دې خبرې وضاحت کړى دى، چې په ټولو اسماني کتابونو کې د دين اساسي اصول يو دي او ټولو «انبياء عليهم السلام» د هغو تعليم ورکړى دى، حضرت شاه ولى الله هغه متفقه ديني اصول په ګوته کړي دي او په لړ کې يې لاندېني عقايد او تصورات ذکر کړي دي، کوم چې به په راتلونکې برخه کې راوړو ان شاء الله.

**لمن ليکونه**

۱ـ امام نجول(۱۷۷زکې ۱۸۶۴ز) د اندونيزيا ملي اتل ياديږي، د خپل پلار او نورو علماوو نه د علم حاصلولو وروسته ټولنې نه د شرک و بدعت ختمولو لپاره يې تبليغ وکړ او بيا يې د ولنديزي استعمار پر خلاف جهاد کې د خپل قوم قيادت وکړ، په ۱۸۳۷ز کې ونيول شو او د جلا وطنۍ په حالت کې وفات شو.

۲ـ امير عبد القادر الجزايري(۱۸۰۸ز۱۸۹۳ز) الجزاير کې ديني او مجاهد مشر و، د تصوف د قادريه سلسلې پير و، په ۱۸۲۵ز کې حج کې د امام شامل رح سره يې ملاقات وشو او د فرانسوي ښکېلاک پر خلاف تر اوږدې زمانې پورې په جهاد بوخت و، بيا د هغوى لخوا ونيول شو او شام ته يې جلا وطن کړ چې بيا هم هلته په د مشق کې وفات شو.

۳ـ امام شامل ۱۷۹۷ ز ۱۸۷۱ ز) په شمالي ققفاز کې مجاهد مشر و، د روسي ښکېلاک په وړاندې سم د همت او جرأت غر و.

۴ـ امام محمد بن عبد الله الحسني(۱۸۵۶ ز-۱۸۲۰ز) د سوماليه په شمال کې زيږيدلى و، د قران حافظ و عالم و، د ايټاليا، برتانيا او ايتوپيا استعماري ځواکونو پر خلاف يې شلو کالو نه زياته موده د مسلمانانو قيادت وکړ.

۵ـ پان اسلامزم يعنې نړيوال اسلامي وحدت

۶ـ مستشرقين د غربي هيوادونو هغه وګړي دي چې اسلامي علوم و فنون يې حاصل کړي او هدف يې د اسلام په باره کې شکوک و شبهات پيدا کول دي.

۷ـ شاه عالم ثاني. د(۱۷۲۸ ز-۱۸۰۶) پورې په هند کې ۱۸م مغول واکمن و، د عمر تر پايه يې شاعري کوله او «ديوان افتاب» په نوم شعري مجموعه يې هم شته ده.



خبیر احمد م

# هند د افغاني مقدساتو

## او ارزښتونو توهین د یو پلان له مخې کوي!!

دا چې امریکا په ښکاره له افغانستان د خپل جنګ ټغر ټول کړی، اوس یې جنګ ته بل رنګ ورکړی، دا چې کفر یو واحد ملت دی نو ټولو خپل سیاسي او جغرافیی اختلافات شاته غورځولي او په عموم کې یې د مسلمانانو پر خلاف لاسونه یو کړي؛ خو یوازې په دومره توپیر چې ځینې یې په نظامي ډګر کې را ورانده‌ې شوي او ځینې نورو یې په فکري جګړه لاس پورې کړی.

د امریکا په مشرۍ ناټو ځواکونو، چې دوه لسیزې ورانده‌ې یې پر ګران هیواد افغانستان هجوم او یرغل راوړ، یوازې په نظامي وحشت او بربریت یې بسنه ونه کړه، بلکې د افغانستان د مجاهدو پرګنو ددیني او ملي غرور او عظمت د ځپلو او ټکولو لپاره یې هر ګبر و ترسا ته ددې زمینه برابره کړه چې مداخله وکړي او د دوستۍ ،مرستې او بیا رغونې په نوم خپل کرغیړن او شوم اغراض پلي او تطبیق کړي.

په تېرو دولسیزو کې به یوشمیر نورو مغرضو هیوادونو هم په افغانستان کې د افغان اصیل اسلامي فرهنګ او ارزښتونو په ورانده‌ې زیاتی، تیرى او جفا کړي وي؛ ولې په مشخص ډول دهندوستان رول او چلند زمونږ دمؤمن ولس د مقدساتو، تاریخ ،عنعناتو او فرهنګ په باب ډیر غلیمانه، انتقام جویانه او له نفرتونو ډک و/ دی.

په هندي سریالونو او ډرامو برسیره چې ټول په شرکي او مجوسي مفکورو ولاړ او جوړ شوي او پښتو او دري ته ترجمه شوي یو کال ورانده‌ې د هندي فلمونو لوبغاړي (سنجېدت) د هندي فکري جګړې د مراکزو د عقدې د ښکاره کولو په نیت د احمدشاه بابا تاریخ تحریفولو ته ملاوتړله او فلم یې ورباندې جوړ کړ او اوس تازه یې د (توریاز) په نامه نوی فلم جوړ او لیدلو ته ورانده‌ې کړی چې هدف یې په مستقیم ډول د اسلامي مقدساتو (استشهاد او جهاد) توهین کول دي .

هندوستان د خپلو همدغو کرغېړنو موخو او افغان دښمنه عقیدوي زهرو د خپرولو لپاره په افغانستان لسګونه تلویزونونه او سوونه نوری رسنۍ تمویلوي. افغان مؤمن او باغروره ولس دهندوستان له دغو غلیمانه حربو څخه خبر دی او نور هغه وخت تللی چې دغه هیواد خپل زهر او کینه د مرستو او خواخوږۍ په پوښ او عنوان کې د افغانانو ذهنونو او پاکو مفکورو ته ولیږدوي.

اسلامي امارت له هندوستان څخه غواړي چې د افغانستان له خلکو سره له فرهنګي او فکري دښمنۍ څخه لاس واخلي او نور دې د افغانانو د مشاهیرو، مقدساتو او ارزښتونو د توهین لړۍ ته د پای ټکی کیږدي.



# په کابل کې موډلینګ پر افغاني کلچر ناروا تیری

عبدالولي خلیل

افغانی ټولنه د نړۍ پر مخ هغه ټولنه ده چې ټول کلتور، کلچر او عنعنات یې له اسلامي احکامو سره سم دي، د اسلام مبارک دین چې د ژوند په هره برخه کې کوم تعلیمات وړاندې کړي دي، دوی یې تر ډېرې کچې پیروي کړې ده او همدا تګلاره یې غوره کړې ده.

له همدې امله دغه ټولنه د ژوند په اوږدو کې د نړۍ د واکمنو بې دینو قوتونو له لوري تر خار، یرغل او ګذار لاندې راغلې او هڅه کیږي؛ چې دغه ټولنه له خپل اسلامي دین څخه لرې وساتل سي، کفري عقیدې پکې خورې سي، افغانی کلتور، کلچر، هویت او غیرت تري سلب سي او دا هرڅه یې په اسلام ضد غربي فرهنګ او کلتور رنګ سي.

دا هڅې د افغانستان مسلمان ولس په وړاندې هر وخت سوي دي خو د اوسني نولس کلن یرغل (غربي یرغل) کې یې لا وده کړې او په ډول ډول نومونو، دسیسو او پلانونو سره یې پر مخ وړي.

د نولس کلن اشغال په نتیجه کې دلته تر ټولو ستر سانسور د دیمکراسۍ په نوم نوې نظریه ده چې پر مسلمانو افغانانو تپل کیږي او له اسلامي او افغاني کلتور او فرهنګه یې بې برخې کوي، د غرب څخه دغه راغلی وائرس لومړی د یو څو تنو غربپالو په وسیله دلته خور سو چې په افغانی ټولنې په ډېرو دماغونو کې تر یوې اندازې ځای ومونده او لا دوام لري.....

تر ټولو ستره موخه یې دلته د فحشا او بې حیایۍ خپرول دي، د یادې موخې د تر لاسه کولو لپاره هر ډول پلانونه په کار اچولي چې له جملې څخه یو هم په دې وروستیو کې په کابل کې د موډلینګ په نوم یو پروګرام جوړ سو چې پکې ۶۵ نجونو او هلکانو برخه اخیستې وه، دوی هر یو تر بل بربنډ، فحاش او اسلامي او افغاني کلچر سره ضد لباس اغوستی وو، په پایلې کې له یادې جملې لس تنه غوره ماډلان انتخاب سوي او دوه تنو ته د ۲۰۲۰ کال د "ښائسته ښاغلي او آغلې "په نامه مډال ورکول سو.

د یاد محفل د ګډونوالو بربنډ او فحاش انځورونه چې رسنیو خپاره کړل، کتونکي به دا فکر کاوه چې دا د کومې یورپي ټولنې د کومو پیغلو او ځوانانو انځورونه دي خو حقیقت دا و چې دا دهغه هیواد د ښځو او هلګانو انځورونه دي د کوم هیواد چې هره ډبره د شهید په وینو رنګ ده، چې میلیونونه شهیدان یې په همدې خاطر ورکړل چې خپل اسلامي او افغاني کلتور وساتي.

خو بیا یې هم پر سپېځلي کلتور د موډلینګ داسې ناروا تېری کیږي؛ چې په خپل ټول تاریخ کې کومه ادنی بېلګه هم نه لري، یاد ناروا یرغل د هغه مفسدینو له لوري تر سره کیږي کوم چې د نولس کلنو لاس ته راوړنو دعوې کوي، ښځو ته حقوق غواړي، دیمکراسي پلي کوي، ښځو ته آزادي غواړي او فحشا ته لار هواروي.

موږ وایو؛ چې دغه خاوره تل د یرغلونو ښکار سوې خو بیا یې هم د بل هیڅ په ځان نه دي منلي، د موډلینګ په څېر د ډېرو فحشاوو خوبونه دلته کمونستان هم له خاورو سره خاوري کړل، ستاسو دغه شوم ارمانونه به مو هم هیڅ کله دلته تحقق ونه مومي.

پښتـــنې لوپـــټه کلـــکه په ســـر نیسه
ګوره بیا غربي شمال دی په کابل کې

پای...

# د جارح خنجر او زما قلم




حافظ نور احمد سعید

«د جارح خنجر او زما قلم» د مولوي شمس الدین منصور صاحب د مقالو مجموعه ده. په دې ټولگه کې را ټولې شوې مقالې د گران هیواد د اشغال په تېرو څه کم دوو لسیزو کې لیکل شوې. داچې همدغه مقالې اوس په کتابي بڼه چاپ او خپرېږي، خورا گټور او اړین اقدام دی.

په دې ټولگه کې د لویدیځ په تېره امریکا د دوه مخی، وحشت، دسیسو، بد اخلاقی، فساد، غصب او.... په اړه مستندې لیکنې ترتیب شوې. په منځني ختیځ،جنوبي اسیا،شرقي اروپا، افریقا او ځانگړې توگه گران افغانستان، عراق او فلسطین کې د استعمار د وحشت، پروپاگند، جنگ او نیرنگ په اړه ویښوونکې او دردونکې واقعې او شننې وړاندې شوې دي.

هو! جارح که دخپل خوني خنجر په څوکه د مسلمه امت د ارزښتونو، تاریخ، ثقافت او هویت د مسخه کولو هڅې کوي، خو زما قلم بیاد خپلو اقدارو، نوامیسو، فرهنگ او منافعو ساتنه کوي او د ظالم او غاصب سره د مبارزې جرس یې ځوانان د غفلت له خوبه راویښوي او د مبارزینو صفونو ته یې سوقوي.

**د جارح خنجر او زما قلم پر لاندې موضوعاتو نسبتا ډېر ترکیز کړی:**

**اول:** د لویدیځ له اصلي څېرې یې پرده پورته کړې،مثلا دایې په ډاگه کړې چې د امریکا له لوري د بشر-دوستی، بیان ازادی، ښځینه حقونو او د ادیانو او مذاهبو ترمنځ د تعادل خبرې فقط یو شعار دی او د خپلو استعماري گټو د ترلاسه کولو په موخه ابزاري استفاده ځني کوي.

**دوهم:** د اسلامي نړۍ د واکمنانو غلام، خو عیاش کرکټرونه او حالتونه یې انځور کړي. د مسلمان ملت د محکومیت رازونو او سببونو ته یې نغوته کړې او په همدې کتاب کې د مظلوم امت د حقوقي، سیاسي او جغرافیوي ستونزو دردونکې واقعې او کیسې ذکر شوې دي.

**دریم:** په دې کتاب کې په ځانگړې توگه پر افغانستان دامریکا د یرغل او وحشت، منافقت، فساد او ... بېلگې وړاندې شوې او د لویدیځ د همدې لوی او هر اړخیز یرغل او فساد پر ضد د خاکسار- مجاهد طالب او مظلوم ولس د ایثار او اتلولۍ شهکارونه ذکر شوي دي.

**څلورم:** مسلمان ملت ته سپارښتنه شوې چې نور باید د محکومیت او غفلت له بستره راپورته شي. د استعمار، ظلم او فساد پر ضد پاڅون وکړي او خپل شرعي، مدني او ټولنیز حقونه ترلاسه کړي.

د غرب د فکري او فرهنگي یرغل په اوج کې د منصور صاحب هڅې او خدمتونه د هېرولو نه دي. منصور صاحب په سختو حالاتو کې د استعمار له ظلم، چلونو او فساد څخه ولس اگاه کړی او د یرغمل شوې خپلواکۍ د بیرته گټلو لپاره یې د پاڅون جرس کړنگولی دی. منصور صاحب پر جهادي، سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو ډېرې لیکنې کړې او په همدې کتاب کې راټولې شوې مقالې یې د هماغو لیکنو یوه برخه ده.

منصور صاحب د سیرت نبي صلی الله علیه وسلم، اسلامي سیاست او اجتماعي مسایلو په اړه یو شمېر مستقل اثار هم ترتیب او لیکلي دي. د جارح خنجر او زما قلم د منصور صاحب د لیکنو او ناچاپ اثارو یوه بېلگه ده. له نیکه مرغه چې همدا گټور اثر هم چاپ ته تیار کړل شو، په دې هیله چې منصور صاحب د غرب د فکري او فرهنگي یرغل پر وړاندې لا قوي او متحرک شي او د ټولنې د فکري ویښتابه او فرهنگي بډاینې لپاره نور گټور او اړین اثار هم لیک او خپاره کړي. په مینه او درنښت



## د څلورو شهيدانو ورور

# شهيد مير اکبرکامران

ليکنه: مولوي عبدالرشيد کامران

قال الله تعالى: إن الله اشترى من المومنين أنفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة. [التوبة:۱۱۱]

موږ او تاسي په ژوندکې ډېر پلورونکي او پېرونکي وينو، همدا راز ډېر توکي او سامانونه هم د يو بل لاس ته لوېږي، خو هغه بيه چې الله تعالی يې کوي، ډېره لوړه ده. الله تعالی فرمايي: چې زه له مومنانو نه د هغوی سر او مال د جنت په بدل کې اخلم، شهيد خرڅوونکی او الله تعال اخيستونکی دی، د اسلام تاريخ له شهيدانو ډک دی، ډېر پخوانی تاريخ نه يادوم، افغان ولس د روس او امريکا د اشغال خلاف په ميليونونو شهيدان لري، چې يو هم له دې لړۍ نه شهيد مير اکبرکامران دی.

شهيد مير اکبرکامران رحمه الله د مرحوم حاجي مير حيدر مجاهد پنځم زوی او د خدای نظر اکا لمسی دی، چې په ۱۹۵۵ميلادي کال کې يې په يوه ديندار او مجاهده کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې. مرحوم مير حيدر مجاهد د سليمان خېل قام د لنډېزو د ښاخ مشهوره او بارزه جهادي څېره بلل کيږي، چې د پکتيا ولايت په زرمت ولسوالۍ کې يې ګڼ شمېر جهادي خدمتونه کړي دي.

مرحوم مير حيدر مجاهد د شهيد مولوي نصر الله منصور رحمه الله له مخلصو ملګرو څخه و، چې د هغه په جهادي جبهه کې يې يو ستر پياوړی جهادي ګروپ لره او په هر جهادي کارکې يې د هغه د ځانګړي مشاور حيثيت لرلو. د ثور د اوومې له کودتا نه وروسته مرحوم مير حيدر مجاهد سره له خپلې ټولې کورنۍ په جهاد پيل وکړ او د نورو زرګونو مسلمانانو په څېر دی هم دې ته اړ شو، چې سره له خپلې ټولې کورنۍ ګاونډي هيواد پاکستان ته هجرت وکړي، د قام او قبيلې د نورو په لسګونو شهيدانو تر څنګ مرحوم مير حيدر مجاهد دا وياړ هم لري،چې د پنځو شهيدانو زامنو پلار او د يوه شهيد ورور دی.

### قيافه:

شهيد مير اکبرکامران د درميانه قد، غنمرنګې نوراني څېرې، غټو بربټونو، اوږدې ږيرې او د مضبوط پياوړي وجود څښتن و.

### خوی خصلتونه:

شهيد مير اکبرکامران صېب ډېر متواضع، بې تکلفه، خوش مزاج، نرم دل او د قوي عزم او ټينګې ارادې خاوند و، کله به چې په مجلس کې ناست و، د هغه اصول به يې کاملا مراعت کول. عام عادت يې دا و، چې خبرې به يې بيخي کمې کولې، په کور او سنګرکې به يې د يو عادي فرد غوندې ژوندکاوه، ځان ته يې څه امتياز نه ورکاوه، قناعت او صبر يې دومره و، چې په

اوبو او وچه ډوډۍ به یې هم ګوزاره کوله، په خپل ځان به یې تل بل مسلمان ته لومړیتوب ورکاوه، د بل د زړه به یې ډېر خیال ساته، له مشرانو سره مشر، له ځوانانو سره ځوان او ماشومانو سره ماشوم و. لنډه دا چې د بېلا بېلو اوصافو او عادتونو یوه داسې مجموعه و، چې قلم یې د احاطې توان نلري.

## علمي سویه:

قرآن کریم او لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار مرحوم میر حیدر مجاهد نه ډېرې ژر پای ته ورسولې، الله تعالی ډېر ښه ذهن او قوي استعداد ورکړی و، کله چې د نور محمد تره کي د رژیم په وخت کې د افغانستان جیدو علماوو د جهاد فتوا ورکړه، نو د نورو اولسونو په څېر مرحوم میر حیدرمجاهد هم د هغوی په خلاف عملي مبارزه پیل کړه، نوموړی به سره له خپلو اوو زامنو د جهاد په سنګرونوکې و او د کور ټولې چارې به تر پاتې وې، شهید میر اکبرکامران هم له هغه وخته د جهادي بهیر ملګری شو، چې له امله یې نورې لوړې دیني زده کړې نیمګړې پاتې شوې.

## د کمونستانو په خلاف جهادي مبارزه:

د شهیدکامران صاحب شمېر یو له هغو پخوانیو غازیانو څخه کیږي، چا چې دکمونستانو په خلاف لومړۍ عملي او نظامي مبارزه پیل کړه او د جهاد ډګر ته یې ودانګل، په هغه وخت کې چې په مقاومت کوونکو مبارزینو باندې کوم تکلیفونه تېرېدل، هغه له تاریخ پوهانو نه پټ نه دي، د مجاهدینو سر، مال او اولاد هر څه په خطرکې وو، شهیدکامران صېب هم د خپل پلار تر څنګ د هیواد د ستر جهادي مشر شهید مولوي نصرالله منصور صېب په جهادي حبهه کې د یو عادي فرد په حیث د جهاد پیل وکړ، په ډېر لنډ وخت کې یې د خپل بې ساري همت، مضبوط عزم او بې پایه حوصلې له وجې د شهید منصور صیب توجه ځان ته جلب کړه او په جبهه کې د یو ستر قومندان په صفت معرفي شو. په ۱۹۸۹میلادي کال کې چې کله د ایران په پلازمېنه تهران کې د افغانستان دقضیې په اړه دویم کلنۍ کنفرانس و، نو شهید کامران صېب هم د نورو نامتو قومندانانو په شمول له شهید منصور صېب سره په هغه کې ګډون کړی و.



د جنګ په میدان کې به تر نورو ملګرو مخکې ملا تړلې روان و، کله چې به دکمونستانو په قطار باندې کمین و، یا به د هغوی کومه قرارګاه مجاهدینو محاصره کوله، نو شهیدکامران صېب به د نورو مجاهدینو سر ته و، دکمونستانو مشهوره خونړۍ قوه چې جهان پنا نومېدله، دګردېز په مربوطاتوکې شهیدکامران صېب سره له ملګرو له هغې سره د مقاومت په وخت کې محاصره شو، چې بالاخره یې درې روسي شوبلې د خپل راکیټ په مټ تخریب کړې او ځان او ملګري یې له محاصرې نه وژغورل. د جهاد له پیل نه بیا د روسانو تر وتلو پورې یوولس کاله ژوند یې ټول د جهاد په سنګرونوکې تېرکړ.

## دطالبانو د تحریک پیل او ورسره د شهید کامران ملګرتیا:

په کال ۱۹۹۲ میلادي کې چې کله د روسانو د اخیري ګوډاګي ډاکټر نجیب رژیم نسکور شو، نو د نورو مخلصو مجاهدینو په څېر، چې له جهاد نه یې هدف یوازې د روسانو د اشغال پای و، مرحوم میر حیدر مجاهد او شهید میر اکبرکامران هم نوره له اسلحې سره مخه ښه وکړه او د عادي ژوند په چارو بوخت شول. په دې دوران کې د افغانستان په مختلفو ولایتونو په ځانګړې توګه کندهارکې داسې حالات را څرګند شول، چې د تېر جهاد سپېڅلو مجاهدینو او شهیدانو یې خیال هم نه وکړی، په زیاتره ولایتونوکې زورواکو پاټکونه اچولي وو او د عامو خلکو نه به یې په زور پیسې اخیستلې. د چا عزت، مال او ابرو خوندي نه وه. پیاوړی هغه و، چې ډېر وحشت به یې کاوه، د داسې حالاتو په پایله کې چې کله په ۱۹۹۴ میلادي کال کې له کندهار نه د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په مشرۍ د طالبانو سپېڅلی اسلامي تحریک را څرګند شو، نو د نورو بې غرضه مجاهدینو په څېر مرحوم میر حیدر مجاهد او شهید میر اکبرکامران هم د شهید ملا سیف الرحمن منصور صاحب ترڅنګ ددې تحریک ملګري شول، چې تر پایه د دې سپېڅلي تحریک وفادار ملګري پاتې شول.

## د طالبانو د واکمنۍ پر مهال خدمتونه:

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال چې کله شهید سیف الرحمن منصور دکابل په قرغه کې د اتمې فرقې معاون او د ټانک کنډک مسئول و، شهیدکامران صیب هم ورسره و او په شمال کې یې د شر او فساد په خلاف له خپلو ملګرو سره برخه اخیسته.

د شر او فساد په خلاف جهادکې برخه او محاصره کېدل:

په ۱۹۹۷ میلادي کال کې په شمال کې د شمالي ټلوالې په خلاف د پروان ولایت په پل متېک سیمه کې د طالبانو سخته جګړه روانه وه، شهیدکامران سره له خپلو ملګرو په دې جنګ کې شریک و، د شمالي ټلوالې د غدر او دوکې په نتیجه کې طالبانو ته ډېر زیان ورسېد، په دې جګړه کې د شهیدکامران صېب شپږ ملګري اسیران شول او اووه ملګري یې په شهادت ورسېدل. د شهیدانو له جملې څخه یو د شهیدکامران صېب مشر ورور شهید حاجي ایوب خان هم و، چې د مرحوم میر حیدر مجاهد تر رحلت وروسته د هغه ځای ناستی و، ترشهادت وروسته یې مسئولیت شهیدکامران صېب ته ور له غاړې شو، شهیدکامران صېب هم سره له یوه بل ملګري محاصره و، له ډېرو سختو تکلیفونو اوکړاوونو وروسته غوربند درې ته واوښت، بیا له هغه ځایه په یوه الوتکه کې پنځلسمه ورځ کابل ته را ورسېد.

د طالبانو د واکمنۍ په اخیري کال کې شهیدکامران صېب په کابل کې د راکټ لانچر د نښې د ویشتلو پر مهال د مرمۍ د انفجار له امله په مخ باندې سخت ټپي شو او د کابل په چهارصد بستر روغتون کې څو ورځې بستر و، د پرهر تر نورمال کېدا وروسته د استراحت له پاره کور ته راغی، په کورکې یې زخم جوړ او صحت یې برابر شو، د تقدیر فیصله وه، چې په دې وخت کې شهید کامران صېب په یوه ترافیکي پېښه کې سخت ټپي شو، دا هغه وخت و، چې امریکا په افغانستان باندې یرغل کړی و او شهید ملا سیف الرحمن منصور صېب په شاهي کوټ کې د هغوی سره د مقاومت تابیا نیولې وه او سنګرونه یې جوړول، شهید سیف الرحمن منصور شهیدکامران صېب ته احوال را ولیږه او له خپلې ارادې یې خبرکړ، شهیدکامران صېب که څه هم په ټپي حالت کې و او د تګ توان یې نه لاره، خو بیا هم خپل مجاهدین ملګري او علماء کرام یې سره راټول کړل او شاهي کوټ ته یې د تګ پرېکړه وکړه، کله چې روانېده،



نو احوال راغی، چې د شاهي کوټ معرکه پای ته رسېدلې ده.

د امریکا په خلاف مبارزه:

د امریکایانو د اشغال په لومړیوکالونوکې ډېر داسې متزلزل خلک وو، چې په اند یې له امریکا سره مقاومت ناشونی و، نو ځانونه یې د پناه اخیستلو له پاره دکرزي ادارې ته تسلیمول، خو بې شمېره هغه مجاهدین چې د الله تعالي په دې ارشاد "وتلک الأیام نداولها بین الناس" باندې یې عقیده او ایمان درلود، هغوی هیڅکله هم فاسد حکومت ته سر ټیټ نه کړ.

د شهیدکامران صیب یوه پخواني مجاهد ملګري اراده لرله، چې کامران صېب د ځان ملګری کړي او د کرزي ادارې ته ځان وسپاري، تر څو د راتلونکي په اړه اطمینان تر لاسه کړي، کله یې چې له شهیدکامران سره دا خبره شریکه کړه، هغه ته یې په ځواب کې اوویل، چې دکرزي ادارې ته ورتګ خو دا مانا لري، چې موږ دا دېرش کاله هسې چتي لګیا وو او موږ چې کوم جهاد کړی، یا مو په دې لاره کې کوم شهیدان ورکړي دي، هغه هم عبث وو، اوس به د غلامۍ ژوندکوو.

د امریکا تر اشغال وروسته شهیدکامران صیب مسلسل د مشرانو سره په اړیکه کې و او دې ته انتظار و، چې کله به په دښمن باندې غلچکي بریدونه پیل کوي. کله چې د خارجیانو په وړاندې د مجاهدینو بریدونه پیل شول او مقاومت ورځ تر بلې په زیاتېدو و، نو شهید کامران صېب هم له هغې ورځې د دوی په خلاف مبارزه کې ودرېد او تر ۲۰۱۱ میلادي کال پورې یې د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ کې په خارجیانو باندې محشر جوړ کړی و، که یوه خوا یې خارجي اشغالګر او د هغوی غلامان له سترګوابښ سره مخامخ کړي وو او د ژوندکړۍ یې پرې تنګه کړې وه، بلې خوا ته یې بیا د افغان اولس په زړه کې داسې ځای لره، چې هر چا خپلې د زړه دروازې ورته خلاصې کړې وې او له خپلو ځانونو نه ورته ډېر خوښ و.

په۲۰۱۰ میلادي کال کې چې کله امریکایانو ته ډېر ستر ستر تلفات واوښتل او یوازې په زرمت کې یې سلګونه ټانګونه په ماینونو او بریدونوکې له منځه لاړل. همدا راز په ۲۰۱۱میلادي کال کې چې کله شهیدکامران صیب د اسلامي امارت په تشکیل کې د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ نظامي مسئول و؛ هم په زرمت کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. دغه وخت دښمن ته په زرمت کې تر هر څه لوی هدف شهیدکامران صیب و، همدا لامل و، چې څو څو ځله پرې سختې چاپې ولوېدې، خو الله تعالی به په خپل قدرت سره د هغوی له ضرر نه په امن کې ساته.

## د شهادت ارزو:

دا چې شهیدکامران صېب ټول ژوند او ځواني د جهاد په لاره کې تېره کړه، مختلف زحمتونه او تکلیفونه یې وګالل، د څنګ ملګري یې شهیدان شول، نو طبعي خبره ده، چې د شهادت شوق او تمنا یې هم تر بل هر

چا زیاته وه، دا خبره به یې اکثره کوله، چې ژوند د غیرت او مرګ د شهادت خوندکوي، په خپلو زړو کتابچو او یاداښتونوکې یې ډېر ځایه دغه شعر لیکلی دی، چې:

پروت په سرو وینو لت پت په پټ کې ښه یم
نه د سرو زرو په تخت باندې بې پته

هغه به ویل: چې جهاد زموږ ارزو او شهادت زموږ ارمان دی، موږ غواړو، چې خپل سر، مال او اولاد هر څه د خدای په لاره کې قربان کړو، تر شهادت دوه ورځې مخکې یې د دعا پر مهال په سلګیو سلګیو ژړل او له الله تعالی نه یې د شهادت غوښتنه کوله.

## شهادت:

د ۱۴۳۲هق کال د روژې مبارکې په اتمه باندې چې د ۲۰۱۱ میلادي کال د اګست د اتمې سره سمون خوري، شهیدکامران صبب سره له خپلو پنځو ملګرو د زرمت په سلیمانزوکلي کې د شپې پر مهال په یوه کورکې و، چې نا وخته پرې امریکایانو چاپه واچوله، د حالاتو په درک کولو سره سم کامران صیب او ملګري یې له کوره ووتل او مخامخ یوه غره ته وختل، امریکایان هر لورې ته ښکته شوي وو، او ټوله ساحه یې محاصره کړې وه، غوښتل یې چې کامران صیب سره له ملګرو ژوندی ونیسي. کامران صیب او ملګرو یې همت له لاسه ور نکړ او د یوې لویې ډبرې تر څنګ یې سنګر ونیوه او ځانونه یې مقاومت ته چمتوکړل، یو امریکایي چینوک څرخکه چې د غره په څوکه یې عسکر پیاده کول، وار له مخې د شهیدکامران د راکټ لانچر ښکار شوه، د ویشتلو سره سم څرخکې پرواز وکړ، خو دګوزار له امله یې نور د زړه زور ختم شوی و، تر لږ ځنډ پرواز وروسته د زرمت د سهاکو په موسی والوکلي کې د یوې زړې کلا په برج باندې را نسکوره شوه، پکې سپاره ګڼ شمیر خارجیان ځای په ځای مړه او څرخکه په بشپړه توګه تخریب شوه، چې ورسته یې بیا ډانچه امریکایانو د یوې بلې څرخکې په مټ له دې ځایه یوړه.

له دې نه وروسته بیا شهیدکامران صیب او ملګرو یې په هغه پیاده امریکایانو باندې چې لاندې په غره باندې ور ختل، د پیکا ماشیندارو اوکلاشینکوفونو ضربې پیل کړې، امریکایان ډېر ور نږدې وو، ګڼ شمیر یې ووژل شول، د سیمې خلګو د سترګو لیدلی حال بیانوو، چې تر سهاره پورې یې څو څو ځله د خپلو وژل شویو عسکرو جسدونه د څرخکو په مټ له ساحې نه انتقال کړل، کله چې امریکایانو خپل درانه تلفات ولیدل او د ژوندي نیولو تمه یې وخته، نو یې خپله اخیرنۍ حربه وکاروله او دروند بمبار یې پرې وکړ، د هوایي بمبار له امله شهیدکامران صیب سره له خپلو ملګرو له اوږد مقاومت وروسته په شهادت ورسېد. نحسبهم کذلک، والله حسیبهم

د یادونې وړ ده، چې د شهیدکامران صیب یو تره "ملنګ" او یو ورور "روزي خان" د روسانو د اشغال په وخت کې دکمونستانو په مقابل کې په شهادت رسېدلي دي، بل ورور یې "حاجي ایوب خان" په ۱۹۹۷ میلادي کال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د شر او فساد په مقابل جهادکې په پروان ولایت کې شهید شو، دوه نور وروڼه "ظریف" (حقاني) او "محمدکبیر" د شهیدکامران صیب تر شهادت یوه نیمه میاشت وروسته د ۲۰۱۱ میلادي کال د سپتمبر په ۲۲مه د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ د سیکانو په کلي کې د امریکایي چاپې په پایله کې په شهادت ورسېدل.

نعرض للسیوف اذا التقینا
وجوها لا تعرض للطام

پای




مشوره (شورایي نظام) او مشورتي ماحول د اسلام مبارک دین د لویو امتیازاتو څخه یو دی او الله تعالی په عظیم الشان قرآن کې د مسلمانانو د ځانګړتیاؤ څخه یاد کړی دی « و امرهم شوری بینهم» د هغوی خپلمنځي چارې په مشورې سره طی کېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې د الله تعالی له لوري وحې راتله او په ظاهره ورته صحابه و سره د مشورې کولو ضرورت هم نه و، خو ددې باوجود رسو الله صلی الله علیه وسلم ته د الله تعالی له لوري دا حکم و؛ چې «وشاورهم فی الامر» چې په امورو یعنې معاملاتو کې ته د مسلمانانو سره مشوره کوه، نو په دې وجه په ټول ژوند کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمول دا و، چې په ټولو هغو امورو کې چې پکې وحې نه راتله، د صحابه وو سره مشوره کوله، همدا وجه ده چې په لسګونو داسې واقعات په احادیثو کې شته دي، چې په هغو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه و سره مشورې کړې دي، چې د هغو نه دلته د دوه یادونه کافي ګڼو، څو د مشورې ضرورت او د هغې اهمیت و حیثیت په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسوه احسنه ښکاره شي.

بدر غزوه چې د اسلامي تاریخ یوه تر ټولو لویه معرکه وه او د هغې وروسته دوه مسئلې مخ ته راغلې، یوه دا چې کوم غنیمت ترلاسه شوی، هغه سره څه وکړای شي؟ په پخوانیو شریعتونو کې جهاد ترلاسه شوی غنیمت مال استعمالول جایز نه و او هغه ته د شنه اسمان لاندې یو میدان کې اور اچول کیده، خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وفرمایل «احلت لی الغنائم» ماته چې کوم امتیازي امور رابښل شوي دي، په هغو کې یو د غنیمت مال یعنې زما د امت لپاره غنیمت حلال کړای شوی دی او استعمالولی یې شي. نو کله چې په بدر کې د ترلاسه شوي غنیمت مال په باره کې پوښتنه پیدا شوه؛ نو قرآن پاک کې ایت نازل شو چې پنځمه برخه د بیت المال لپاره جلا کړئ او باقي غنیمت په مجاهدینو باندې ووېشئ.

دوهمه مسئله: د جنګي بندیانو پېښ شوه، بدر کې اویا تنه بندیان نیول شوي وو، د هغو په باره کې فیصله د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه و سره په مشوره باندې وکړه. په بدر کې چې کومو صحابه وو ګډون کړی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی سره مشوره وکړه کله چې یې د صحابه و نه وپوښتل: چې بندیانو سره څه وکړو؟ د حضرت عمر رضی الله عنه رایه دا وه، چې ټول دې ووژل شي، خو حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل: چې ورڅخه دې فدیه واخیستل شي او پرېښودل دې شي، د بحث و تمحیص وروسته فیصله د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په رایه یا نظر باندې وشوه او د ټولو بندیانو څخه فدیه واخیستل شوه او پرېښودل شول، په دې فیصله باندې الله تعالی په قرآن پاک تنبیه وکړه؛ لکه د الانفال سورة په ۶۷، ۶۸، ۶۹ ایت کې



دي، چې د هغوی وژل پکار و، دا ایاتونه د حضرت عمر رضی الله عنه په موافقاتو کې شمارل کېږي، یعنې په کومو ایاتونو کې چې د حضرت عمر رضی الله عنه د کومې رایې تائید شوی وي، خو دلته یوه خبره د یادولو وړ ده، چې د تنبیه باوجود فیصله بیا هم نافذه شوه، کومه خبره چې په مشوره کې طی کړای شوې وه، هغه تبدیل نکړای شوه، بلکې الله تعالی وفرمایل « فکلوا مما غنمتم حلالا طیباً» دا مال چې ترلاسه شوی دی، حلال و طیب دی هغه خورئ. د دې نه د مشورې د اهمیت ادراک کېږي، چې کومه خبره په مشوره کې طی کړای شي که څه هم په ظاهره هغه نا خوښه وي، خو بیا هم ورباندې عمل پکار دی.

دوهمه واقعه: د احد غزوې ده، چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر ورسید چې د مکې مکرمې نه د قریشو لښکر په مدینې منورې باندې د حملې کولو روان شوی دی، نو صحابه و یې د مشورې کولو لپاره مسجد ته راټول کړل او په دې باندې مشوره وشوه، چې ایا موږ په مدینه منوره کې دننه پاتې شو او دفاعي جنګ وکړو او که بیرون ووځو او په خلاص میدان کې برملا مقابله وکړو؟ پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منورکې دننه پاته کیدو او د دفاعي جنګ کولو رایه ورکړه، خو کومو خلکو چې د مدینې منورې نه بیرون ته د وتلو رایه درلوده، فیصله هم د هغوی په رایه باندې وشوه .

چې د مدینې منورې نه بهر ووځو او د قریشو د لښکر سره به مقابله کوو، خو کله چې د جنګ لپاره د ځانونو په تیارولو لګیا شول. په هغوی کې ځینو سره دا فکر پیداشو چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم رایه په ښکاره میدان کې د مقابلې کولو باره کې نه وه. نو موږ یې ولې پر خلاف رایه ورکړه. تېروتنه مو وکړه، هغوی ندامت ښکاره کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلل؛ غوښتنه یې تړې وکړه، موږ خپلې رایې بیرته اخلو او تاسو مدینې منورې نه بیرون ته د وتلو فیصله بېرته واخلئ! رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمایل: دالله تعالی پیغمبر د وسلې تړلو وروسته د جنګ پرته یې نه ښکته کوي. علماؤ لیکلي: د دې مطلب دا دی چې کومه فیصله په مشوره کې طی کړای شي، پر هغه باندې به عمل کېږي او د هغې سره سم یې ملګري ځان سره واخیستل او د مدینې منورې نه بهر لاړ او هلته یې سنګر ونیو، دا واقعه ښوونه کوي چې په مشوره کې چې کومه فیصله وشي، د هغه وروسته که د چا رایه بدله شي، هغه پر فیصله باندې تاثیر نلري.

علماوو دا هم لیکلي دي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شورى په فیصلې باندې عمل وکړ او عملاً یې داسې صورت غوره کړ، چې د مدینې څخه بیرون میدان ته ووت او هلته د احد په لمن کې تم شو، چې په دې سره یو خواته د مدینې څخه د بهر وتلو خبره هم پوره شوه اوبل خوا د مدینې څخه ډېر زیات لرې هم لاړ نشو، څو تر شا ورته د مدینې منورې د وګرو ملاتړ او کومک هم هر وخت حاصل وي چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم جنګي حکمت عملي و.

د مشورې او مشورتي فیصلو باندې د عمل کولو په اړه درسول الله صلی الله علیه وسلم نور ګڼ احادیث او واقعات هم په تاریخ کې شته دي، چې د هغو ټولو مطلب دا دی؛ چې خپلمنځي مشاورت، مشوره د مسلمانانو ښکاره خصوصیت او د اسلام د اجتماعي نظام یوه مهمه څانګه ده، د کومې برکات، ثمرات او منطقي نتایج چې ښکاره دي، د راشدینو خلفاوو د فیصلو اساس هم اکثر مشاورت و، او نن هم د مسلمانانو لپاره محفوظه او خوندي لار خپلمنځي مشاورت دی.



# د مدرسو په تعلیمي نصاب کې

# کوم ټکي په پام کې نیول پکار دي؟

مولوي صبغت الله

متاسفانه د مسلسلو جګړو له امله په ګران هېواد کې د ژوند د نورو برخو په څېر تعلیمي سیستم هم ویجاړ او ځپل شوی دی، علمي کدرونه مو تیت په ترک، هڅې مو خورې ورې او د هرې سیمې نصابونه مو مختلف دي.

هر چا له خپلې خوښې سره سم تعلیمي نصاب چمتو کړی او تر خپله وسه یې تعلیمي سلسله روانه ساتلې.

دا چې د لوی الله په فضل مو نور له ګران هېواد څخه د کرغېړن صلیبي اشغال تغر په ټولېدو دی ځکه په تعلیمي کړیو کې د مدرسو لپاره د واحد تعلیمي نصاب د رامنځته کېدو خبره کیږي.

د پوهانو په اند د جهاد د ثمرې د حفظ لپاره ډېره اړینه ده، داسې قوي تعلیمي نصاب چمتو کړل شي؛ ترڅو داسې جید او رباني علماء وروزي، چې په هر ډګر کې د باطل مقابله وکړي او د اشغال له رحم څخه د زیږېدلو فتنو مخه ډب کړای شي.

له څه مودې راهیسې د دیني مدرسو په ښوونیز نصاب کې د بدلون په اړه په علمي حلقاتو کې خبرې تاویږي، ځینې په دې نظر کلک ولاړ دي، چې په تعلیمي نصاب کې هیڅ بدلون باید رانه وستل شي. دوی د اسلافو رحمهم الله له لوري تعین شویو کتابو ته د یو مقدس نصاب په سترګه ګوري او له برکت څخه ډک نصاب یې ګڼي او د ټولو بالاستیعاب لوستل لازمي ګڼي.

خو ځینې نور بیا په دې اند دي، چې د وخت او سیمې د بدلون له امله باید په تعلیمي نصاب کې هم لازم بدلون رامنځته شي، دوی د عثمان بن عفان رضي الله عنه هغه کړنه د ځان لپاره دلیل ګرځوي چې کله د مسلمانانو شمېر زیات شو او په مسجد نبوي کې یې ځایېدل ستونزمن شول، نو عثمان رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوي مسجد ونړاوه او په پوخ شکل یې په ښایسته تیږو او ګچ باندې له سره جوړ کړ، ځینې اصحابو رضي الله عنهم د عثمان رضي الله عنه دا عمل مناسب ونه ګڼه او ډول ډول خبرې پیل شوې.

عثمان رضي الله عنه چې کله خبر شو؛ دا خبره یې وکړه (انکم أکثرتم) «تاسي ډېرې خبرې وکړې» خو ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي؛ چې فرمایل یې: څوک چې د الله تعالی لپاره مسجد جوړ کړي الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کې کور جوړ کړي.

د عثمان رضي الله عنه له دې اثر څخه جوتیږي؛ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکو لاسونو تعمیر په خپل حال پرېښودل ښه کار وو خو د وخت د بدلون او د

مسلمانانو د کثرت له امله د مسجد نبوي په تعمير کې تغير کول له دې څخه ډېر ضروري کار و.

کله چې د مدرسو په نصاب کې د تغير خبره مطرح کيږي، مطلب ورڅخه کلي تغير او يو مخيز بدلون نه دی؛ بلکه غرض ورڅخه تدريجي او جزي بدلون دی، چې د خپلو طالب العلمانو، استادانو، او مدارسو د حال او د خپلې ټولنې د اړتياؤ په نظر کې نيولو سره بايد وخت په وخت رامنځته کړل شي.

نه غواړم د هرې درجې په هر يو کتاب نظر وليکم، ځکه دا د نصاب د پوهانو کار دی چې له نږدې به په تفصيلي توګه هر يو کتاب تر بحث او مناقشې لاندې نيسي-او په اړه به يې تصميم او پريکړه کوي، خو په دې اړه مې په ذهن کې لاندې يو څو وړانديزونه او مشورې وې چې غواړم له تعليمي حلقاتو او د مدارسو له مهتممانو سره يې شريکې کړم.

## تدرج او دوامداره اپډيټ

د مدارسو په نصاب کې تغير او اصلاح معنا دا نه ده چې د يو څو مجالسو څخه وروسته دې وربانديې د مسک الختام ټاپه ووهل شي، بلکه د مدارسو نصاب بايد د هر کال په پای کې وارزول شي، له مدرسينو، مهتممانو او استادانو سره مشورې جاري وساتل شي، د طالب العلمانو رايه پکې واخيستل شي او ورسره سم نصاب کې لازم بدلونونه راوستل شي.

همدغه راز د نصاب سازۍ په برخه کې بايد د تدرج اصل هم له پام غورځول نه دي پکار، کوم کار چې په تدريج ترسره شي هغه پوخ او پايدار راځي، مثالي نصاب ته رسيدو په لار کې بلها مشکلات، خنډونه او کړليچونه شته او هدف ته رسيدل کلونه مزل غواړي.

## سيمييزې ژبې

زموږ د مدرسو د اوسني تعليمي نصاب يوه نيمګړتيا دا ده چې د سيمه ييزو ژبو زده کړې ته پکې ځای نه ده ورکول شوی، د پښتو هيڅ قابل ذکر کتاب په نصاب کې شتون نلري او د فارسي داسې مغلق، پيچيده منظوم کتابونو ته په نصاب کې ځای ورکول شوی، چې د مبتدي طالب لپاره پرې پوهيدل ډېر ستونزمن کار دی.

د يو عالم او داعي لپاره د سيمه ييزو ژبو زده کړې ډيرې اړينې دي؛ ترڅو وکولی شي خلک په احسنه توګه د الله لارې ته راوبولي.

همدغه راز د هيواد د رسمي ژبو زده کړه د دې لپاره هم ډېر ضروري دي چې که چيرې علماء دفتري ژبې زده نکړي، له نظام څخه لرې پاتې کيږي، ځای يې اشرار نيسي-چې بيا هر ډول بې لارۍ ته لاس اچوي د مخنيوي لپاره به يې څوک نه وي.

مولانا مناظر احسن ګيلاني رحمه الله د هندوستان د لرغوني زمانې د نصاب په اړه ليکي:

پخوا زمانه کې د هندوستان مسلمانانو کې چې کوم نصاب رواج و، په درس نظامي بانديې يې شهرت لاره، په دغه نصاب کې د هغې زمانې دفتري ژبې (فارسي) زده کړې ته ډېره پاملرنه شوې وه، ګڼ شمېر کتابونه يې په نصاب کې تدريسيدل.

## عربي ژبه

د مدرسو اوسنی نصاب د سيمه ييزو ژبو د زده کړې په برخه کې د تفريط ترڅنګ د عربي ژبې د زده کړې لپاره هم کوم ځانګړی ميتود نلري، سره له دې چې د نصاب غوښنه برخه عربي کتابونو محتوا کړې، خو منتهي طالب العلمان او حتی فاضلان نشي کولی په عربي ژبه اظهار ما في الضمير وکړي او يا يوه فقره ليکل وربانديې وکړي.

د مدارسو د طالب العلمانو همدا خلا زموږ ټولنې ته د شاذه افکارو د را واردولو ستره دروازه ده، موږ که دا تشه ډکه کړو له ډيرو ناخوالو څخه به په اسانه خلاص شو.

## ليکدود او حسن خط

زموږ په اوسني ښوونیز نصاب کې لیکدود او حسن خط هم له پامه غورځول شوی او کما حقه پاملرنه نه ورته کیږي، زموږ د مدرسو ډیر فاضلان نشي ـ کولی د ما في الضمیر د اظهار لپاره څو جملې ولیکي، تصنیف او تالیف خو ډیره لرې خبره ده.

خو دا خبره له لمر روښانه ده، چې د یو عالم لپاره د دعوت په لار کې چې څومره وینا ارزښت لري څو چنده ورځخه لیکوالي زیات ارزښت لري.

دا نکته زموږ اسلافو درک کړې وه، د ګران هیواد افغانستان پخوانیو علماوو د لیکوالی او حسن خط فن ته ډیره پاملرنه کوله چې اندازه یې له هغه شعر څخه فهمولی شو چې زموږ د سپین ږیرو علماوو ترمنځ مشهور و :

اگر خواهي که شوي خوشنویس

بنـویس و بنـــویس و بنـــویس

مولانا مناظر احسن ګیلاني رحمه الله لیکي: د هندوستان په مدارسو کې حساب او خطاطي زده کړې ته ځانګړې پاملرنه کیدله.

## د پخوانیو تاریخ

د نورې نړۍ په تعلیمي نصابونو که نظر واچوو؛ وبه ګورو چې د شرعي او آلي علومو ترڅنګ پکې د اسلام په ځانګړې توګه د هغې سیمې د مسلمانانو تاریخ ته ځای ورکول شوی خو زموږ په تعلیمي نصاب کې دا تشه هم له ورایه تر سترګو کیږي.

په نصاب کې په سیمه ییزه ژبه داسې کتابونه ځای پرځای کول اړین دي چې نوی کهول مو په عموم کې د اسلام او په ځانګړې توګه د خپلو اسلافو له کارنامو سره اشنا شي او د هغوی په پله د پل کیښودلو اراده وکړي.

دا اړینه نه ده، چې دغه تعلیمي مواد دې درساً درساً ولوستل شي، بلکه په دې برخه کې دا هم کفایت کوي چې د درس نظامي د لوړو درجو څخه په یوه درجه کې د اړونده کتاب مطالعه جبري او کلنۍ ازموینه پکې واخیستل شي، په دې توګه به هم طالب العلمان له مطالعې سره اشنا شي او هم د خپلو اسلافو له اتلولیو خبر وي.

## د تطبیق وړ نصاب

د تعلیمي نصاب د تدوین په برخه کې دا هم اړینه ده چې د نصاب لپاره په کومو کتابونو پریکړه کیږي، باید لاس رسی ورته اسانه وي، ښوونکي او لوستونکي ولري.

د نصابونو، کتابونو مطالعه او له پوهانو سره سلا مشورې

یوه خبره دا هم اړینه ده چې نصاب جوړولو پر مهال مختلف تعلیمي نصابونه باید تر دقیقې مطالعې لاندې ونیول شي، همدغه راز باید په کور دننه او بهر د تعلیم له پوهانو سره مشورې ترسره شي، سربیره پر دې د هغو کتابونو دقیقه مطالعه هم اړینه ده چې د نصاب سازۍ په اړه د اسلامي امت علماوو لیکلي دي.

## دعوت، اسلامي سیاست او جغرافیه

لله الحمد له څو کلو راهیسې د مدارسو په نصاب کې د سیرت، تاریخ، تفسیر او احادیثو ګڼ شمیر کتابونه ځای پر ځای شوي چې مثبت اثرات یې له ورایه محسوسیږي، طالب العلمان او مدرسین یې په ډیر شغف سره تدریسوي او خپله علمي تنده پرې خړوبوي.

په دې سربیره که د دعوت، اسلامي سیاست او جغرافیې په اړه هم ځینې مضامین د نصاب برخه وګرځول شي په علمي حلقاتو کې به له ډیر هرکلي سره مخ شي، په دې توګه به مو هم خپل مسؤولیت ادا کړی وي او هم به مو د ټولنې اړتیا رفعه کړې وي.

په نصاب کار کوونکي علماء باید مایوسه نشي په پوره حوصلې، متانت او زغم خپل کار ته دوام ورکړي ان شاء الله ستاسي هڅې به ارو مرو رنګ راوړي او یوه ورځ به افغانان له غښتلي تعلیمي نصاب څخه برخمن کیږي.

وما ذلک علی الله بعزیز

## سولې ته !

**پیر محمد کاروان**

موسم د منې دی خو ته په کې سپرلی راوله
سولې زین کړی د ګل ګل مینې نیلی راوله

زمونږ سندرې ساندې چیغې چیغې د ویر
په کې جوهر د خوشحالۍ په سُر و لی راوله

نه چې پردی شي په پردي وطن کې ورک شي رانه
د مور وطن واوره ناره وایي لالی راوله

د لمر قاصد ویل چې شپې مو سپینې سپینې راځي
سپوږمۍ د امن ته د ستورو هرکلی راوله

په سرو سکروټو کې روانې اوبه وینم په خوب
د ګلابونو د نرګسو بوزغَلی راوله

سپل د باګرام د بلبلانو دې کابل ته راځي
خپل آباسین ته تږی تږی کابلی راوله

پر پاڼه پاڼه یې کاروان لیکي افغانه غزل
و خړو دښتو ته د سره غاټول ټولی راوله

۸ میزان ۱۳۹۹ هجري شمسي

## ځاځکي کې درياب

**مفتون**

که ثواب دی که عذاب دی
د انسان خپل انتخاب دی

د ایمان په مسیر یون کړه
راروان یوم الحساب دی

ستا د حسن نمونې دي
که نرګس دی که ګلاب دی

د مظلوم مظلومې اوښکې
ظالمانو ته سېلاب دی

دا پردي لباس کې مشر
دا د خپل ولس قصاب دی

چې تورفکرو ته جناب دی
ترې پکار سپین اجتناب دی

دا بدنام چې انقلاب دی
همدا وخت د انقلاب دی

ماته دواړه بې توپیره
واشنګټن دی که کولاب دی

د سرزورو هر یو سوال ته
د طالب نامه ځواب دی

چې ځما جونګړه سیزي
کوریې ړنګ حال یې خراب دی

د پښتون په لمن داغ دی
خان،ارباب دی که نواب دی

ته به څو کاله پس نه یې
مالوستلی ستا نصاب دی

دا به شِعر د مفتون وي؟
که په ځَاځکي کې دریاب دی

## د شهید محراب په لټه

تپاند زُهاد

زه د یــو ورک ارمــان پــه لټــه کــي یــم
زه د یــو ورک جانــان پــه لټــه کــي یــم

را ټولومـــــه سـوزیدلـــــي پاڼـــي
زه د یــو ورک قــران پــه لټــه کــي یــم

محــراب شــهید بــلال لــه کــلي تلــلي
زه د یــو ورک اذان پــه لټــه کــي یــم

زمـا د زړه ټوټـــه ولچـــک کـــي حِصـــار
زه د یــو ورک انســان پــه لټــه کــي یــم

لاره وهـــو منـــزل مـــو نـــه دي معلـــوم
زه د یــو ورک کــاروان پــه لټــه کــي یــم

غــواړم چــي بــرم او عــزت مــو لــوړ شــي
زه د یــو ورک دوران پــه لټــه کــي یــم

تپـــاند زُهـــاد تـــل بي ټکـــوره یمـــه
زه د یــو ورک درمــان پــه لټــه کــي یــم

## غزل

شفاعت ریحان

مـوږ د نـړۍ لمبـې د تـن پـه وینـو مـړې کـړې راغلـو
مـوږ نمـرودي سـکروټې ځـان بانـدې سـړې کـړې راغلـو

پــه نــهٔ لیــدو مــو د چــا حُســن بانــدې زړهٔ بــایللی
ژونــدی مــو څــهٔ د لېــونی مینــي کیســې کــړې راغلــو

ځــه د بــې مرگــه زنــدگۍ نــړۍ تــه ور پرانېــزو
د ځــوانۍ هیلــې مــو پــه دې تمــه ویــدې کــړې راغلــو

څــهٔ سر ســپارلی محبــت مــو وکــړ ســپینه یــاره!
د چــا دیــدن پســې مــو ډکــې هــډېرې کــړې راغلــو

د نړیوالــــو بــــارودي زهــــرو وهــــلي و خــــو
پــه شــهادت مــو جنتــي خــولگۍ خــوږې کــړې راغلــو

ســتا لــه کــوثر نــه د اوبــو د اخیســتو پــه هیلــه
اور تــه ډالــۍ مــو د نــازک وجــود ســینې کــړې راغلــو

دغــه گنــاه شــوه، شــفاعت مــو تنهــا پرېښــودلو
او دا ثــواب شــو ور پېــرزو مــو خــاطرې کــړې راغلــو

## غزل

دا کــور د معشــوق دی، دې کــې بایــد بیروبــار نــه وي
زړه صــفا ســوتره وي پــه کــې یــوه ذره غبــار نــه وي

دې نفـــس و شـــیطان د انســـان مینـــه تمبـــولې ده
اوښ بــې لارې درومــي چــې پــه پــوزه یــې مهار نــه وي

تشـــو تـــورو تیـــږو هـــم خـــالي خـــالي اوړې راوړې
چـــا چـــې تـــرې لـــوټلی د رڼـــو غمیـــو بـــار نـــه وي

بـــل ځَـــراغ د بـــل ځَـــراغ لاســـونه د رڼـــا نیـــسي
چـا سره چـې تـار نـه وي لـه چـا سره یـې تـار نـه وي

تاتــه بــه کــړی کــړی وربښــم ښــکاري خــو هســې نــه
لاس کــې یــې راواخــلي چــې زریــن میناتور مــار نــه وي

نـــه پـــه کـــې ټپـــه وه د درخـــو نـــه د آدم ربـــاب
نــه منــم دا ښــار نــه منــم داســې خــو نــو، ښــار نــه وي

شــغ شــو د حــق چیغــه یــې آســمان تــه پــه ختلــو وه
چېرتــه چــې پښــتون لالــی اوچــت پــر سر د دار نــه وي

خـــدای خـــو بـــه یـــې راولي د امـــن د نغمـــو موســـم
لاس تـــر زنـــې ناســـت بـــه د شـــپېلیو اُســـتکار نـــه وي

دا ځلـــې دې نـــوم پـــر پـــاڼو پـــاڼو زړونـــو ولیکـــه
تـــل خـــو بـــه کاروانـــه دا د بـــر کـــلي چینـــار نـــه وي

# قربانی توطئه‌ها چیست و کیست؟

حبیبی سمنگانی

امرالله صالح، معاون اول ارگ نخست حمله‌ی مرگبار پوهنتون کابل را ناکامی استخباراتی خواند. سپس این سلسله‌ی ناکامی‌ها دوامدار شد و اکنون هر رویدادی که در شهر کابل رخ بدهد، لیست ناکامی‌ها درازتر می‌شود. اما جریان این‌قدر هم ساده نیست، چون چگونگی رویدادها و به‌خصوص موقف‌گیری‌های غیر معقولانه‌ی مقامات ارگ به‌ویژه امرالله صالح نشان می‌دهد که زیر کاسه نیم کاسه ای است. اکنون این سوال دامنگیر مقامات ارگ شده‌است که آیا رویدادهای مختلف و همه‌روزه‌ی امنیتی واقعا محضِ ناکامی هاست و یا اینکه ادامه‌ی توطئه‌های مغرضانه‌ی ارگ‌نشینان است؟

قتل‌های زنجیره‌ای و پیهم ژورنالیستان به‌خصوص یما سیاوش، الیاس داعی و فردین امینی نیز این سوال را تقویت می‌بخشد. ابا ورزیدن مسئولانِ «د افغانستان بانک» از اشتراک فوتیج یا شواهد ویدیویی موتر یما سیاوش و همچنان خودکشی خواندنِ مرگ فردین امینی از سوی وزارت داخله اداره کابل و آن هم بدون هیچ‌گونه تحقیقات، داد و فغان وارثان این دو جوان را برانگیخته‌است.

یکتن از همکاران امینی در تلویزیون آریانا در گفتگو با بی‌بی‌سی ضمن اینکه قتل او را مرموز خواند، گفت که آقای امینی از لحاظ روانی وضعیت خوبی داشت. همچنان خانواده او ادعا دارد که امینی خودکشی نکرده، بلکه کشته شده است. اما امرالله صالح که بر خودکشی کردن امینی پافشاری داشت، خانوادهٔ او را تهدید کرد که اگر بر مرموز بودن قتل امینی اصرار ورزند، تمامی اعضای خانواده او و به شمول زنان بازپرس می شوند.

از سوی دیگر داود سیاوش، پدر یما سیاوش پس از اینکه اداره کابل اعتنای به ضرب الاجل یک ماهه خانواده‌ی او برای تشخیص قاتلان پسرش نکرد، در صفحه‌ی تویترش گلایه کرد که هیاهوی خواندن فریاد مادر داغدار و پدری را که پارچه‌های فرزندش را از در و دیوار شهر با دستان خود جمع کرده است، جز به استهزا گرفتن خانواده‌های داغدار از سوی دولتِ مدعی عدالت عمری، چیزی دیگری نمی‌توان تعبیر کرد.

سوالاتی که از سوی خانواده‌ی یما سیاوش مطرح شده‌بود و بالمقابل عدم پاسخگویی به آن، نقش اداره کابل را زیر سوال آورده، ازین قرار است:

۱ :چرا کامره‌های بانک، چارراهی‌ها، بالون فضایی و جی‌پی‌اس موتر بانک، مخفی نگه‌داشته می‌شود؟

۲ :چرا به هیئت پارلمان در زمینه معلومات داده نمی‌شود؟

۳ :چرا به رسانه‌ها زمینه دسترسی به اطلاعات مساعد نمی‌شود؟

۴ :چرا بانک مرکزی در همکاری ارگان‌های امنیتی، قاتل، عامل قتل و حامی عامل قتل یما سیاوش را به مردم معرفی نمی‌کند؟

۵ :آیا مخفی نگه‌داشتن کامره‌ها برای وقت کشی و دستکاری در آن‌ها نیست؟

امرالله‌صالح و تیم تبلیغاتی ارگ که در گذشته حتی از گرفتن نام داعش به جدیت خودداری می‌کردند و پیوند ارگ و داعش زبان زد عام و خاص شده‌بود، اکنون به‌جای که عدم وابستگی خود با پدیده‌ی داعش را ثابت بسازند، به مصداق "بگیر که نگیرد" طالبان را داعش می‌خواند، و گویا کارهای را که داعش به همکاری ارگ در کابل انجام داده‌است، کار طالبان بوده‌است. اگر دقت شود این در حقیقت ادامه‌ی تلاش‌ها برای انکار از وجود داعش در مهمان‌خانه‌های

امنیت ملی و یا در شهر کابل است. این چیزی‌ست که حتی نگرانی‌های بسیاری از حامیان اداره کابل را هم چندگون ساخته‌است.

انکار از وجود داعش، که موقف دیرینه‌ی امرالله‌صالح و بهانه‌ی برای نسبت‌دادن هر جنایت به طالبان است، اما در حقیقت بیان‌گر پیوند عمیق ارگ و داعش در کابل است. پیوندی که نه تنها مایه نگرانی برای شهروندان کابل شده، بلکه مقامات و ماموران ملکی اداره کابل را هم نسبت به یکدیگر بی‌باور ساخته و هر یکی نگرانِ جان خود شده است که مبادا فردا شکار توطئه‌ی دیگری داعشی‌های ارگ، آن‌ها باشند.

چنانچه چند روز پیش امرالله‌صالح در یک گزارش فیسبوکی‌اش از تهدید مسلخ شدن کابل برای شیعیان خبر داده‌است، اما او به‌جای که بگوید این هشدارِ داعش است، هشدار را به طالبان نسبت می‌دهد، تا اگر در آینده حمله‌ی بر اهل تشیع طراحی و راه‌اندازی می‌شود، فوری انگشت‌ها به‌سوی طالبان دراز شود و ازان برای ایجاد فاصله میان مردم افغانستان و زیان‌مند ساختن پروسه صلح استفاده شود.

مهم اینست که باید اهداف نظامی و ملکی از هم تفکیک شوند. طالبان مسئولیت اهداف نظامی در شهر کابل را، که بیش‌تر آن عملیات‌های چریکی و تاکتیکی بوده‌اند، علی‌رغمِ همه انتقادات به‌دوش گرفته‌اند. زیرا هنوز توافقی بر آتش‌بس بین جهت‌های مقابل نشده‌است. اما مقامات ارگ با هدف قرار دادن ملکیان تلاش می‌کنند بار مسئولیت هر دو گونه اهداف را به‌دوش طالبان بیاندازند و ضمن توجیه ناکامی‌های خود در عرصه امنیتی و نظامی، افکار عامه به‌خصوص ذهنیت جامعه جهانی و دولت جدید امریکا به‌رهبری جو بایدن را در مورد آینده‌ی پروسه صلح افغانستان مخدوش بسازند.

امرالله‌صالح پس از اینکه در کنار معاونیت ارگ، ماموریت امنیت شهر کابل را هم به‌دوش گرفت، با راه‌اندازی جلسات و گزارش های روزمره‌ی شش و نیم صبح، ظاهرا شهروندان کابل را به پایین‌آوردن گرافِ بالای جرایم جنایی امیدوار ساخت، اما برعکس کابلیان با حوادث بی‌پیشینه‌ی امنیتی روبه‌رو شدند و نسبت به امنیت جان، مال و آبروی خود بیش تر بی‌باور شدند.

اکنون مردم به این باور رسیده‌اند که اصلا در اداره کابل اراده‌ی برای پایین آوردن جرایم جنایی وجود ندارد، بلکه صالح و امثال او چتری برای دزدان، آدم‌ربایان و قاچاق‌بران که از همجنسان شان هستند فراهم کرده‌اند، تا کاروبار خود را که ایشان دران سهم وافر دارند، رشد بدهند.

چنانچه یک ماه پیش هرگاه دزدان مسلح ۲۵ لک افغانی یک صراف را در روز روشن در ناحیه سوم شهر کابل به‌زور سلاح بردند و کلیپ ویدیویی آن در رسانه‌های اجتماعی بازتاب گسترده ای پیدا کرد، امرالله‌صالح چند روز پس در گزارش شش‌ونیم صبح خود از گرفتاری آن دزدان خبر می‌دهد و ادعا می‌کند که غلام‌حیدر (صراف) دزدان را شناسایی کرده‌است. اما صراف نامبرده به رسانه‌ها گفت که نه دزدان گرفتار شده‌اند و نه او کسی را شناسایی کرده‌است، گویا باید هیچ کسی دزدان را دیگر دنبال نکنند، وگرنه...

این محض یک نمونه ایست که نشان می‌دهد مقامات کابل به‌جای محاکمه واقعی دزدان، چتر مصون برای آن‌ها فراهم می‌کنند و کسانی زیان مند را تنبیه می کنند که صدای بلند نکنند.

خنده‌آور اینست که صالح همزمان با دو ماموریت یاد شده، مسئولیت مبارزه با فساد اداری را هم از سوی اشرف غنی، رئیس ارگ به عهده گرفته‌است، که حال آن از ماموریت‌های قبلی هم بدتر بوده، و گراف فساد اداری در اداره فاسد کابل به‌جای سیر نزولی سیر صعودی داشته‌است.

فشرده‌ی بحث اینست که هدف قرار دادن ملکی‌ها توطئه ایست که قربانیان آن پروسه صلح و یا به تعبیر آسان‌تر مردم افغانستان هستند. ارگ‌نشینان بقای خود را در حضور نظامی خارجی‌ها دیده، و ناامنی‌ها را راه آسان‌تر برای جلب بیش‌تر توجه خارجی‌ها می‌دانند. بلی، اداره کابل که امید ایستادگی به پای خود را از دست داده، ناگزیر است برای دوام اشغال دست و پا بزند.

### له ماشومتوبه تر شاعرۍ: له یوې قدرمنې خور

# نومیالۍ شاعرې حنیفه زاهد سره

## د قلم او کاغذ په ژبه تفصيلي مرکه



مرکه کوونکی: مفتي حبيب

**پوښتنه:** ګرانې خورې زاهدې! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

**محترمې خورې!** دا چې ستاسي ډېر شعرونه خپاره شوي، د خړ کلي له کونجه کتاب دې چاپ شوی، ډېر خلک دې له نوم سره شناخته دي او ته له ټولنې څخه ګوښه کې یو کليواله پښتنه يې، نو څکه مې وغوښتل چې د ليک په مرسته څو پوښتنې درڅخه وکړم. که درته تکليف نه وي او لطفًا جوابونه وليکئ، مهرباني به دې وي.

**لومړۍ پوښتنه:** د خپل ځان، نسب، کلي او خپل عمر په اړه که معلومات راکړئ.

**ځواب:** وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته. زما نوم حنيفه د ملا محمد عبدالله جان اخندزاده لور د نورالحق اخندزاده لمسۍ يم. د زابل ولايت د شاه جوی ولسوالۍ د جعفرو کلي يم او په قوم توخۍ يم. په ۱۳۴۲ کې پيدا شوې يم. عمر مې ۵۸ کاله دی او اوس په ملا محمد علي کلي کې اوسم.

**دويمه پوښتنه:** ستاسو کورنۍ څومره غړي درلودل؟

**ځواب:** زه چې ماشومه وم، زموږ په کورنۍ کې زما ګران پلار، ګرانه مور، موږ اووه خويندې او زموږ څلور کشران ورونه او زما يو اکا و چې د روسانو په انقلاب کې بندي او بيا د هغوی لخوا شهيد شو.

**دريمه پوښتنه:** هغه وخت چې ته ماشومه وې، ستاسي د کلي تعليمي طريقه څنګه وه؟ مدرسه يا ښوونځی مو درلود که نه؟

**ځواب:** زموږ په کلي کې مدرسه او ښوونځی بالکل نه و. له ملا صاحب څخه په مسجد کې ماشومانو سبقونه ويل.

**څلورمه پوښتنه:** زاهدې خورې، لومړنۍ زده کړې دې څنګه او له چا پيل کړې؟

**ځواب:** لومړنۍ ديني زده کړې مې د کلي له ملا صاحب او خپل پلار څخه کړي دي. عصري زده کړې مې له خپل اکا څخه کړې دي؛ هغه د حربي پوهنتون محصل، د هېواد په کچه د لوړ فکر خاوند او يو تقوادار شخصيت و. خدای پاک دې ټولو ته جنتونه ورکړي.

**پنځمه پوښتنه:** زاهدې خورې! څوک چې ماشوم وي، که د شاعرۍ استعداد ولري په دې نه پوهیږي چې زه شعر لیکلای شم. ستاسې د شعر د ویلو او لیکلو ابتداء څنګه وه؟

**ځواب:** ما به د خپل اکا د پښتو کتابچې کتلې، کله کله به مې د نامتو شاعرانو شعرونه وکتل، ډېر به مې خوښ شول او له ځان سره به مې زمزمه کول. زه نهه کلنه وم چې ما ته د شعر ویلو الهام وشو. په نورو موضوعګانو خو نه پوهېدم، یوازې حمد او نعمت به مې لیکل.

**شپږمه پوښتنه:** زاهدې خورې، عموما زموږ په کلیو کې خلک له قلم او کتابچې سره ډېره علاقه نه لري، په ځانګړې ډول که کومه نجلۍ شعرونه وایي، له تا سره د خپلې کورنۍ او کلیوالو رویه څنګه وه؟

**ځواب:** زما پلار د خپلو زامنو او لوڼو په زده کړه ډېر زیار ایستلی دی. موږ اووه خویندې ټولې د زده کړې له لوی نعمت څخه برخمنې یو. زما شعرونه د کورنۍ ډېر خوښ وو، کلیوالو مې هم مخالفت نه کاوه.

**اوومه پوښتنه:** زاهدې خورې! څوک چې له شعر سره مینه لري، هغه د ادب کتابونو ته اړتیا لري. ته چې یوه کلیواله پښتنه او له کتابخانو لیرې وې، تا ته دا کتابونه پیدا کېدل که نه؟ که پیدا کېدل نو له کومه؟

**ځواب:** ما تر ډېره وخته د هیڅ کتاب نه دی کتلی. نه مې د چا له شعر څخه اخذ کړی دی. کله چې مې زامن لویان شول، هغوی راته څه کتابونه پیدا کړل.

**اتمه پوښتنه:** زموږ او ستاسې په سیمه کې په کوزدو او ودونو کې ښځې په کورونو کې دریې وهي او اوازونه وايي. ته چې پخپله یوه شاعره وې، هغه خوند درکاوه که نه؟ او هلته تا څه ویلي دي که نه؟

**ځواب:** ما هلته پخپله څه نه دي ویلي، خو سیل ته به یې ورتلم.

**نهمه پوښتنه:** شاعران خپل مینه وال شعر لیکلو ته هڅوي او دا بېل بېل خلک وي. له تا څخه د شعرونو غوښتنه چا کوله؟

**ځواب:** زما پلار او ماماګانو زما شعرونه خلکو ته ښکارول. زه به یې تشویقولم.

**لسمه پوښتنه:** د نورو خلکو په شاعرۍ کې دې د چا شاعري خوښه ده؟ آیا په هغوی کې د کومې ښځې شعرونه شته که نه؟



**ځواب:** په پخوانیو پښتنو شاعرانو کې خو د رحمان بابا نازکخیالي بې مثله ده. او په نن عصر کې مې د درویش دراني استعارې او تشبیهات خوښ دي: په عادتونو کې دا یو عادت د غره لرمه – لمن مې ډکه ده له کاڼو څوک پرې نه ولمه.

**یوولسمه پوښتنه:** زاهدې خورې! تا په یوه شعر کې ویلي: دغه میدان یوازې ګرم په ځوانانو نه دی:: دلته کې پیغلې قهرمانې زړورې زیږي. دا خبره سمه ده، خو د شعر دغه میدان په نارینه وو ډېر ګرم دی. د دې څه وجه ده؟

**ځواب:** دا ځکه چې زموږ په ټولنه کې د ښځو د زده کړې سطحه بیخي ټیټه ده – حتی په نیست نابود کې شمېرل

کیږي. زموږ خویندې ذهني قوت لري او شعري الهام هم لري، خو دا چې دوی نالوستې دي نو هغه معیار چې شعر ویلو ته پکار دی له دوی سره نشته. ګورو چې په ودونو کې زموږ خویندې سندرې وایي، دا ټول د ښځو د تخیل زېږنده دي.

**دوولسمه پوښتنه:** تراوسه دې له کوم شاعر، لیکوال سره لیدنه شوې او که نه؟ له کومې ادبي ټولنې سره دې رابطه شوې ده که نه؟

**ځواب:** نه مې تراوسه له کوم شاعر، لیکوال سره لیدنه شوې او نه مې له کومې ادبي ټولنې سره رابطه نیولې ده.

**دیارلسمه پوښتنه:** زاهدې خورې، په هېواد کې دې کوم ولایتونه او کوم ښارونه لیدلي دي؟

**ځواب:** په هېواد کې کابل، غزني او کندهار ته تللې یم. په کابل او کندهار کې زموږ خپلوان شته. دا ښارونه مې لیدلي دي.

**څوارلسمه پوښتنه:** خورې که ستا اجازه وي یوه پوښتنه به ستا د واده په باب درڅخه وکړم، زموږ د خلکو عادت دا وي چې د هلک او نجلۍ خپلوان د دوستۍ خبرې سره وکړي، پخپله هغه دوه ډېره مداخله نه پکې لري. ستا د ژوند دا ګرانه فیصله څنګه وشوه؟

**ځواب:** زما خسرګنۍ زموږ پخواني خپلوان وو. ښه مو سره پېژندل. زه په دې هکله له کوم مشکل سره نه یم مخ شوې. د خاوند په کور کې خوشحاله یم.

**پنځلسمه پوښتنه:** زاهدې خورې! له واده وروسته ښځې ته د کور کارونه ورپرغاړه شي. دا نورې ښځې خو دا وخت هیڅ فراغت نه لري. ته چې واده شوې، بیا دې خپل درسونه څنګه جاري ساتل او مطالعې ته دې وخت څنګه پیدا کاوه؟

**ځواب:** له واده وروسته ما ته د کور کارونه په یوازې سر راپرغاړه وو. د خسر (رحمه الله) او خاوند مې ښه عزت او خدمت کړی دی. اته زامن او څلور لوڼې مې د بل چا تر کوچنیانو صفا او سوتره ساتل. دا چې ما له درسونو سره ډېر مینه درلوده، نو هرومره مې وخت ورته پیدا کاوه. له درسونو علاوه مې د نورو کتابونو مطالعه هم کوله. د شپې به تر ډېره وخته ویښه وم. خسرمې ما ته په ډېر شوق درس وایه. تل به زما کوټې ته راتله، زه به په کارونو بوخته وم، ده به راغږ کړ: کارونه پرېږده! راشه سبق ووایو. زما خاوند هم مدرس او عالم و او ما ډېر څه ترې زده کړي دي. الحمدلله چې ما د کور له مصروفیت سره سره له خپل خسر او خاوند څخه خپلې لوړې زده کړې په ښه ډول سر ته رسولې دي.



**شپاړسمه پوښتنه:** د زده کړو له فراغت څخه وروسته هر څوک غواړي چې دا علم بل چا ته ورسوي، او دا یوه دیني فریضه هم ده. ستا دا تعلیمي سلسله څنګه وه؟

**ځواب:** زه هر وخت او هر چیرې چې وم، ما د خپل ماحول نجونو ته څه ورښودلي دي. اوس هم په خپل کور کې ۵۲ نجونو ته درس ورکوم. په اووو ګروپونو مې وېشلې دي، درې مضمونونه لري.

**اوولسمه پوښتنه:** له نن څخه شل کاله وړاندې هغه وخت چې موږ ماشومان وو، ستا شعرونه په خلافت مجله کې، چې له کندهاره خپرېده، نشر کېدل. همدا ډول هغه

وخت او بیا تر ننه ستا شعرونه د هېواد وتلیو نعت خوانانو ویلي دي. له هغوی سره دې رابطه څنګه وه؟

**ځواب:** موږ په مجاهدینو کې او هم په نشراتي څانګو کې خپلوان او دوستان لرل. د هغوی په رابطه دغه کار راته اسانه و.

**اتلسمه پوښتنه:** که لږ ستا د خږ کلي له کونجه کتاب باندې راسره وغږېږې. دغه کتاب ستا د کوم وخت شاعري ده؟

**ځواب:** دا کتاب زما له ۱۳۷۱ کال څخه بعد شاعري ده، البته ډېره برخه یې.

**نولسمه پوښتنه:** په کتاب کې دې ازاد شعرونه نشته، دا څه وجه ده؟

**ځواب:** ازادو نظمونو ته ما تراوسه توجه نه ده کړې او ژبې ته مې هم نه دي راغلي.

**شلمه پوښتنه:** د کتاب د چاپ کار دې څنګه سره برابر شو؟

**ځواب:** ما په نشراتي ادارو کې خپلوان او دوستان درلودل. د هغوی په مرسته دا کار اسانه ترسره شو.

**یوویشتمه پوښتنه:** د دې لومړي کتاب تر چاپ وروسته دې څومره شعرونه لیکلي دي؟ ډېر شاعران د شعر ترڅنګ نثر هم لیکي. تا تراوسه نثر لیکلی دی او که نه؟ که وي، په کومه برخه کې دی؟

**ځواب:** د لومړي کتاب تر چاپ وروسته مې نور شعرونه لیکلي دي. یوه ټولګه مې تر ډېر حده نشر ـ ته تیاره ده. او د ((خویندې دې وپوهیږي)) په عنوان نثر مې تر قلم لاندې دی، خو پوره شوی لا نه دی.

**دوه ویشتمه پوښتنه:** زاهدې خورې، روغتیا د الله جل جلاله یوه لویه پیرزوینه ده، د تعلیم، مطالعې او خدمت لپاره ډېره ضروري ده؛ ستا صحت څنګه دی؟

**ځواب:** الحمدلله ښه یم. کومه لویه ناروغي نشته. د کور ډېر کارونه اوس هم پخپله خوښه پخپله کوم.

**دوه ویشتمه پوښتنه:** زاهدې خورې! وروستی پوښتنه کوم؛ افغان ولس، افغان مېرمنې، په ځانګړي ډول د قلم خاوندانو ته څه پیغام لرئ؟ نور دې په خدای سپارم. په دنیا او آخرت کې کامیابه او خوشحاله اوسې. والسلام، ستا مؤمن ورور حبیب.

**ځواب:** له خپل ولس څخه مې دا خواست دی چې خپلمنځي دښمنی دې یوې خوا ته لیرې کړي، د وروروليی لاسونه دې سره ورکړي. له میندو څخه غواړم چې اولادونه دې د دین په هدایاتو په سره سینه او ارامو خبرو وپوهوي. له کوچنیوالي دې د دښمنی خبرې نه ورزده کوي. او د قلم له خاوندانو څخه دا درخواست لرم چې حقایق ووایي. له مبالغې، افراط او تفریط څخه دې ځان وساتي. په ډېره مننه.

حنیفه زاهد

۱۳۹۹/۲/۱۵





صارم

# پټې بوختیاوې

د کابل پوهنتون له پېښې وړاندې په امریکـا کـې د جمهوري ریاست د انتخاباتو د احتمالي نتیجې پـه اعـلان سره چې شاید جوبایډن به د امریکا راتلونکی ولسمشر وي، د ارګ ویاند صدیق صدیقي او پخپله امرالله صـالح دواړو د یوې داسې خبرې اعلان وکړ، چې په هغه وخت د چا دومره پاملرنه ورته نه وه اووښتې، خـو خلـک یـې بیا هم یو څه په حیرانتیا کې واچول .

هغـوی وویـل : د مجاهـدینو پـه ضـد د تبلیغـاتي جګړې لپاره تیاری روان دی او یو منسجم پـلان بـه پـه کار اچول کیږي، د ارګ ویاند دا خبره ډېره په شد اومـد وکړه چې په امریکا کې د نوي بدلون په راتلـو سره دوی ته په کار ده، چې ټول په ګډه د طالبانو په ضـد پـه دغـه تبلیغاتي جګړه کې برخه واخلـي او د دښـمن پـه وړانـدې خپله تبلیغاتی جګړه منسجمه او خـورا پـلاني کـړي، پـه دې وخت کـې د دې ضرورت دی چـې دغـه بېلابېلـې او پراګنده هڅې له یوه ادرسه او منظمې شي.

د اعـلان پـه دویمـه ورځ د ارګ معـاون امرالـلـه صالح وویل: طالبان اراده لري چې مـدني فعـالان هـدف وګرځوي او شاید ځیني یې ووژل شي، نو په کار ده چې له دولت سره په همغږۍ د دوی له طرحـو څخـه ملاتـړ وکړي او د طالبانو په ضد په دغه تبلیغاتي محـاذ کـې لـه دوی سره په ګډه برخه واخلي، که څوک له مونږ سره په دې لار کـې همکـاري نـه کـوی او لـه مـونږ سره نـه ودریږي، ژوند به یې په خطر کې وي. امرالله صالح پـه دې ډول مدني فعالان او لیکوال ښه په ښـکاره پـه مـرګ تهدید کړل .

دادی نن له څه وخته راپه دې خوا یې عمـلي نتیجـه په سترګو وینو او ربښتیا هم چې د لیکوالو، خبریالانو او ځیني مدني فعالانو ژوند په خطر کې شو او ډېـری د دې فرضیې یا پلان ښکار شول. هغه لیکوالان، خبریـالان او مدني فعالان ترور شول چې په اصطلاح حکومت ته یـې په تېرو ور اچولې او سپین غږېدل او یو شمېر یې نـورو هیوادو ته په تېښته بریالي شول .

د دغې لړۍ له پیل نه پـه دې اړه بېلابېلـې انګېرنـې کیږي، څوک هسې په حدس او ګومان غږیږي، څـوک بیا د حکومت له تبلیغـاتو نـه پـه تـأثر د حکومـت لمنـه نیسي او پړه پر طالبانو ور اچوي او څوک یې بیا د یـوې دریمې خارجي مافیـایي کـړۍ لاس بـولي او داسـې نـور ....حقیقت چې هر څه وي خو یو څه چې پـه سـترګو یې وینو؛ هغه د دغو هستیو ترور او بې رحمـه وژل دي چې دوام لري .

که پوښتنه دا وشي؛ چې ښاغلي صالح او د ارگ ویاند لومړی دا خبر له کومه او په کوم اساس کوله، بیا یې په وړاندې څه وکړل؟ تر ټولو مهمه دا چې د طالبانو په ضد دغه تبلیغاتي پلان ولې له مطبوعاتو سره شریک نه شو؟ معلومیږي چې تر کاسه لاندې نیمه کاسه ده او همدا علت دی چې په دغو هدفي وژنو کې اکثر هغه څوک وژل کیږي چې د حکومت په وړاندې سپین غږیږي او په یو ډول په حکومت انتقادونه کوي.

ویل کیږي دغه کار ته د حکومت د استخباراتو ځانگړي گروپونه ټاکل شوي او د خاصو اهدافو د ترسره کولو لپاره یې ورته کار ویلی، ځکه له ډېره وخته راپدېخوا حکومت داسې کوم د پام وړ حرکت نه دی کړی، داسې حرکت چې د چارواکو په شمول د رسنیو او خلکو پام پرې مصروف وي، ښکاري چې چارواکي په پټو بوختیاوو کې غرق دي، یابه دا وي چې د سولې راتلو ته به لارې هواروي او د تحقق په لار کې به یې سرگردانه وي! یابه یې په وړاندې د خنډونو ایجادولو او پرمختگ په مخنیوي کې لالهانده وي؛ چې څه ډول یې قدرت وغځیږي او هسې نه چې د سولې په راتلو سره یې قدرت له لاسه ووځي او دغه د حاکمیت له گډۍ راوغورځیږي، ځکه خو له رسنیو او حکومتي چینلونو د سولې د راتلو او خوشبینۍ په اړه څه نه اورېدل کیږي.

دا چې له دغه کاره د حکومت غرض څه دی، ډېری شنونکي په رسنیو کې په واضح ډول وایي: چې د حکومت غرض د سولې حرکت اخلالول دي او نه غواړي داسې سولې ته دوی ژمن شي، چې دوی به له قدرته پکې لېرې کیږي، ظاهرا به د بهرنیو فشارونو له امله وچ انکار هم نه شي کولای خو په عمل کې یې د سولې په وړاندې د خنډونو د ایجادولو لپاره بېلابېلې حربې په کار اچولې دي، چې هدفي وژنې یې هم یوه کړۍ کېدلی شي.





# فکري جګړه!



## اصول، اهمیت او ضرورت!

### د اصل استعماري دورې اووه کوڼي مراحل

دوهمه مرحله: د اسلامي نړۍ اقتصادي او پوځي کلابندي

د څو کلو دننه، دننه د اروپا نه د مختلفو هیوادونو پوځي سمندري بېړۍ راغلې، د اسلامي نړۍ د ګڼ شمېر هیوادونو په سمندري ساحلونو یې لنګرونه وغورځول او ورباندې یې خپل استعماري اشغال ټینګ کړ او بیا کرار، کرار د هغوی اشغال دومره مستحکم شو، چې نږدې ټوله اسلامي نړۍ یې د اقتصادي او پوځي پلوه کلابنده کړه.

پرتګالیانو په ۱۵۱۵ ز کې مسقط، هرمزاو د بحرین پشان مهم سمندري بندرونه اشغال کړل او په دې د عربي او عجمي نړۍ د تجارت په سمندري لارو اروپایان قابض شول.

د هسپانیې بېړۍ وان په ۱۵۲۱ز کې د «الکاهل سمندر» نه په پوریوتو «فلیپین» ته ورسیدل او په ۱۵۵۵ز کې یې د فلیپین ټول سمندري بندرونه ونیول.

د هند د نیمې وچې په ساحلونو هم تر یوې پېړۍ پورې د پرتګالیانو قبضه وه، خو په شپاړسمه پېړۍ کې ورته «ولنډیزي» (ډچ) ورسېدل او په ۱۶۰۰ز کې انګریزانو ورته د ځانونو رسولو هڅې پیل کړې او د جزایر شرق الهند (ایسټ انډیا) په نوم د یوې سوداګریزې کمپنۍ جوړولو پلان یې جوړ کړ او بیا یې د مغول پاچا جهانګیر نه د ایسټ انډیا کمپنۍ لپاره د کار کولو اجازت لیک ترلاسه کړ، په ۱۹۶۴ زکې فرانسوي سوداګرو هم د «فرنچ ایسټ انډیا» په نوم یوه سوداګریزه کمپنۍ جوړه کړه او هغوي هم د هند په ساحلونو کې خپل کارپیل کړ. لنډه دا چې په دې سره د هندي نیمې وچې په ساحلونو باندې د سوداګرۍ په نوم د استعماري سازشونو او رقابتونو غومبر پیل شو.

مغول واکمن د عیشونو و عشرتونو په مزو او چړچو کې ډوب وو، د بهرنیو هېوادونو د سوداګرو له دې انډوخر څخه یې هېڅ کوم خطر نه محسوسوه؛ اګر که په هغوی یواځې عالمګیر پاچا چې کله دا ولیدل، چې اروپایي سوداګر د تجارت ترڅنګ د سیاسي او پوځي ځواک په جوړولو لګیا دي، نو پرې دوه ځله یې بندیزونه ولګول، خو انګریزان چالاک خلک وو، سملاسي یې بښنه وغوښته او ځانونه یې وژغورل. خو کله چې عالمګیر مړ شو، بهرنۍ کمپنۍ یو مخ ازادې شوې، تر دې چې د فرخیر پاچا په زمانه کې چې کله هغه په یوه داسې ناروغۍ مبتلی شو، چې هندي طبیبان یې له درملنې څخه عاجز شول، نو ایسټ انډیا کمپنۍ چې ځان سره ډاکټران راوستي وو، هغوی یو ډاکټر ورولېږه او د فرخیر درملنه یې وکړه، فرخیر روغ شو، غوښتل یې هغه انګریز ډاکټر ته یو لوی انعام ورکړي، خو کله چې د انعام ورکولو نه

انګریـز ډاکتیـر خبر شـو هغـه وویـل: پاچـا سـلامت! ماتـه د شخصي انعام راکولو پرځای ښېګڼه به مو وي کـه زمـا هېـواد ته د هندوستان یوه سمندري بندرګاه ورکړئ. پاچا تـه د هغـه غوښتنه ردول د خپـل شـان و شـوکت تـوهین ښـکاریده، نـو ورته یې سر وښوراوه، خو چې کله ددې خبر د هنـد مشـهور عالم «شاه ولی الله رحمه الله» تـه ورسـېد، هغـه د کـوم ځنـډ تېرولـو پرتـه فرخیـر تـه ورغـی او د بنـدرګاه ورکولـو لـه بـدو عواقبو یې خبر کړ، فرخیر یې خبره ومنله او خپله پریکړه یـې لغوه کړه.

مؤرخین وایي: امام شاه ولي الله په دې ګام پورته کولـو سره تر سلو کلو پورې په هندوستان د برتـانوي «ایسـټ انـډیا کمپنی» لخوا توطیئه وځنډوله، کله چې فرخیر مړشـو د نـورو مغول پاچایانو په دورو کې یعنې د ۱۸مې عیسـوي پېړۍ پـه مـنځ کـې انګریزانـو هنـد کـې د خپلـې اقتصـادي او پـوځي کلابنـدۍ کـړۍ تنګـه کـړه، یـا پـه بـل تعبیـر یـې اقتصـادي کلابندي یې بشپړه کړه.

درېیمه مرحله: په تجارت او اقتصاد کې غلبه موندل:

کله چې د اسلامی نـړۍ اقتصـادي او پـوځي کلابنـدي مکمل شوه، نو د نړیوال تجارت واګی هـم د اروپایـانو لاسـو ته ورغی، اروپایـانو د فرصـت نـه پـه ګټـه د څـو لسیزو دننـه خپلې خزانې ښې ډکې کړې او د ۱۸مې پېړۍ په نیمایـي کـې اروپـا د صـنعتي، تجـارتي او اقتصـادي ځـواک پـه توګـه د اسلامي هېوادونو په وړاندې ودرېده.

## څلورمه مرحله: په اسلامي نړۍ قبضه:

انګریزانو د خپلې سلطې او اقتصادي کلابندۍ پـه دوام او دفاع کې ځای پر ځای غداران پیداکړل، هغوی ته یـې پـه سلګونه او زرګونه جریب زمکې او پرېمانه پیسـې ورکـړې او هم یې د هغـوی پـه مـټ پـه ۱۷۵۷زکې سراج الدولـه تـه پـه شکست ورکولو بنګال اشـغال کـړ. ۱۷۹۹زکـې یـې د هغـوی (غدرانو) په مرسته میسـور ایالـت قبضـه کـړ او د هغـه ځـای زړور او مجاهـد واکمـن (ټیپـو سـلطان) یـې شـهید کـړ. پـه ۱۸۴۳ز کې یې سېند، په ۱۸۴۹ز کې یې پنجاب او ۱۸۵۷ز کې یې دهلي ښـار ونیـو، تـر دې چـې وروسـتی مغـول پاچـا «بهادر شاه ظفر» یې ونیو او مغول سلطنت یې ړنګ کړ.

لـه دې سره هـم مهـال برتـانیې پـه نـورو هیوادونـو هـم یرغلونه روان ساتلي وو، ۱۸۵۱ ز کـې یـې نایجیریـا، ۱۸۸۸ز کې مصرـ. ۱۸۹۸ز کـې سـوډان، ۱۹۱۴ز کـې عـراق، ۱۹۱۸ز کې اردن او فلسطین ونیول، پـه همـدې دوران کـې یعنـې پـه ۱۸۴۰ ز- ۱۸۸۰ ز-۱۹۱۸ز کـې یـې زمـوږ پـه ګـران هیـواد (افغانسـتان) بانـدې هـم درې ځلـه یرغلونـه وکـړل، خـو د مجاهدینو او د هیواد د ازادۍ د ننګیالیو په تاریخي مقاومت او مېړانه درې واړه ځلې ناکام شـول او پـه اشـغالولو کـې یـې شرمنده پاته شول.

دا خو د جنوبي آسیا او د هنـد د نیمـې وچـې د محـاذ سرګزشت و، هر چې زموږ د هېـواد (افغانسـتان) سره د نښـتې مرکزي آسیا شاوخوا هیوادونـو محـاذ و، هلتـه د نـړۍ یـو بـل استعمار(روسـیې) پـه ۱۵۵۶ز کـې د نویـو مسـلمانان شـویو تاتاریانو پلازمېنـه «اسـتراخان» قبضـه کـړه، د منځنـۍ آسـیا د اسلامي هیوادونو په شمول یې تر ایران پورې د اشـغال لیکـې وغځولې، پـه ۱۶۷۰ز کـې «جهیـل اورال» قبضـه کـړ، ۱۶۹۶ز کې یـې د ترکیـې مهـم ښار(شـهرازوف) او ۱۷ـــ ۱۸ ز کـې د ترکیې یو دفاعی مرکز (کریمیا) قبضه کړه.

۱۸۲۴ز کې تور سمندرګي کې یـو مهـم دفـاعی مرکـز (جزیره قرم) قبضه کړ، ۱۹ مې پېړۍ کې یې د منځنۍ اسیا پـه لور پرمختګ وکړ، ۱۸۶۴ زکې قفقـاز، ۱۸۶۷ز کـې تاشـقند، ۱۸۶۸ ز کې بخارا،۱۸۷۳ ز کې خیـوه او ۱۸۸۴ ز کـې «مـرو» اشـغال کـړ، پـه ۱۹۱۷ ز کـې روسـیه کـې کمونسـتي انقـلاب راغی، د منځنۍ اسیا هیوادونو ازادي یې لغوه کړه، مسـاجد او مدارس یې بندکړل او په لکونو مسلمانان یې شهیدان او جـلا وطن کړل.

فرانسه: پـه درېـیم اسـتقامت فرانسـوي اسـتعمار ۱۸۳۰ز کـې الجزایـر، ۱۸۸۱ ز کـې تیـونس، ۱۸۸۲ز کـې سـینیګال، ۱۹۱۲ز کې مراکش او په ۱۹۲۱ز کې په شام قبضه وکړه.

**ایټالیا:**

څلور محاذ: ایټالیا ته په نړېدې پرتو اسلامي هیوادونو باندې د هغې لخوا د حملو او یرغلونو لړۍ روانه وه، چې په ترڅ کې یې ۱۸۳۰ زکې صومالیه،او ایتریا او په ۱۹۱۱ز کې لیبیا قبضه کړه.

غرض دا چې د۲۰مې پېړۍ په پیل کې نږدې ټوله اسلامي نړۍ استعماري ځواکونو لاندې کړې وه او د اغیارو په منګولو کې ښکېل وه.

**پنځمه مرحله: د اسلامي نړۍ د سیاسي مرکز (خلافت) ړنګول:**

له دې وروسته د ترکیې عثماني خلافت ړنګولو محض د استعمار اشاره غوښته، خو ددې نه وړاندې یې هلته (د انجمن اتحاد و ترقي) په څېر ګوندونه او تنظیمونه جوړ کړل، څو د هغوی له لارې اسلامي شعایر ختم کړي او د مصطفی کمال پاشا په څېر ګوډاګیان یې وروزل، ۱۹۰۹ز کې هغه راولاړ شو، د خلیفه واکونه یې لغوه کړل او په ترکیه کې یې د مغربي جمهوریت اساس کېښود.

د لومړي نړیوال جنګ په پای ته رسېدو فاتح قومونه د ترکیې، شام او فلسطین څخه لاس په سر کېدو ته اړ شول او ۱۹۲۴ز کې مصطفی کمال پاشا د نړیوالو کفري ځواکونو په اشاره د خلافت پای اعلان کړ.

**د اسلام د سیاسي مفکورې (خلافت) د احیاء کولو کوښښونه ځپل:**

د دې لپاره چې د اسلام سیاسي مفکوره( خلافت) دوهم وار بیا ژوندۍ نشي، لاندیني ګامونه یې پورته کړل:

۱ــ د جدیدیت خوښونې په کمپاین کولو یې خلکو کې د اسلام سره رشته کمزورې کړه.

۲ــ په مسلمانانو کې د ملت پالنې او قومیت پالنې جذبات پارول، څو په خلافت اتفاق راتلل محال شي.

۳ـ او دا پروپاګند یې کاوه چې خلافت فالج ځپلي اندام په څېر غیر مفید دی.

۴ـ او جمهوریه طرز حکومت د ترقۍ د ضامن په توګه وړاندې کول.

۵ـ د نړیوالو تنازعاتو د حل لپاره د خلافت په ځای ۱۹۱۷ز کې د متبادل په توګه نړیوالې ادارې (لیګ آف نیشنز) بنسټ کېښودل.

٦ــ خلافت یې د مسلمانانو په لاس ړنګ کړ، څو اسلامي نړۍ کې د مغرب په خلاف څوک غبرګون و نه ښيي.

**شپږمه مرحله: اسلامي نړۍ په څو ټوټو وېشل:**

د خلافت د سقوط وروسته استعماري ځواکونو شپږمه مرحله پیل کړه او اسلامي نړۍ یې په مختلفو برخو تقسیم کړه، بیا یې هغه په وړو وړو ټوټو ووېشله او پخپله ترې ووتل.

**د مسلمانانو ترمنځ اختلافي حربې کارول:**

کفري هیوادونو د اسلامي نړۍ ویشلو لپاره لاندې دسیسې او حربې په کار واچولې:

۱ـ د ملګرو ملتونو شکنجه: د ملګرو ملتونو په پلمه یې د استعماري ځواکونو د اسلامي نړۍ ستونزې لاینحل وګرځولې.

۲ــ نړیول قوانین: د ملګرو ملتونو له لارې یې په اسلامي نړۍ داسې قوانین مسلط کړل، چې په خوله «نړیوال» بلل کېدل؛ خو د هغو عملي اطلاق یواځې په اسلامي هیوادونو کېږي.

۳ـ معاهدې: استعماري ځواکونه کله پخپله او کله د ملګرو ملتونو له لارې اسلامي هیوادونو سره مختلفې لوظنامې کوي، د کومو له امله چې تنازعات راپورته کېږي.

۴ـ په مسلمانانو باندې تپل شوي جنګونه: ددې لپاره چې په اسلامي نړۍ کې د دوی د لاسوهنو لپاره هر وخت

فرصت چانسونه برابروي، نو وخت په وخت پرې جنګونه تحمیلوي.

۵ـ بلاکونه: په مختلفو بلاکونو کې اسلامي هیوادونه تقسیمول، څو یو هیواد د یو بلاک غړی او بل د بلاک غړي په ګرځېدو سره اسلامي هیوادونه پخپل منځ کې د یو بل حریفان وګرځي.

٦ـ په اسلامي نړۍ تحمیل کړي جنګونه: اسلامي هیوادونه او مسلمانان پخپلو کې جنګول او د هیوادونو دننه کورني جنګونه تحمیلول.

۷ـ امنیت: استعماري ځواکونو په ځینو اسلامي هیوادونو کې د امنیت ساتلو په موخه خپل پوځیان ګومارلي دي، چې د دوستۍ په نوم دښمنۍ کوي.

۸ـ د مغرب د سیاسي اندونو خورول:

په اسلامي هیوادونو کې د مغربي طرز جمهوریت، لادینیت او سیکولر نظریاتو ته فروغ ورکول، څو هلته د اسلام سیاسي اندونه ونه غوړېږي.

۹ـ سیاسي او لساني ګوندونه تقویه کول، څو هغوی د مغربیانو د خوښې سره سم سیاسي او لساني فتنې پرمخ یوسي او د اسلامي هیوادو دننه د انتشار او افتراق فضا رامنځته کړي.

۱۰ـ ملت پالنه اوسمتیت: د هر اسلامي هیواد دننه لساني او سمتي ویشونه تقویه کول او د دې لپاره داسې ګوندونه جوړول چې هغه به د لسانیت اوسمتیت لپاره کار کوي.

۱۱ـ فرقه یز اختلافات: مذهبي او فرقه یزو اختلافاتو ته هوا ورکول او د دې لپاره د مختلفو فرقو او ډلو ټپلو سره پټ کومکونه کول او په دې توګه د مسلمانانو سواد اعظم ته زیان رسول.

۱۲ـ جعلي قیادتونه: استعماري هیوادونه په اسلامي نړۍ کې د خپلې خوښې لیډران او قایدین رامنځته کول او د هغوی له لارې د هیوادونو دننه خپلې استعماري ارادې پرمخ وړي.

۱۳ـ لاسپوڅي واکمن: د هر اسلامي هیواد دننه د واک په لیږد کې لاسوهنې کول، څو هلته خپل لاسپوڅي او ایجنټان واک ته ورسوي او بیا د هغوی له لارې خپل اهداف ترلاسه کړي.

نو اوس د استعماري هیوادونو د دې یادو سازشونو په وجه په کورنۍ او بهرنۍ کچه د پیدا شویو اختلافاتو په وجه تر اوسه پورې اسلامي نړۍ د خپلمنځي اتحاد و اتفاق نه محرومه ده.

## اوومه مرحله: د اسلامي نړۍ ځانګړتیاوې له منځه وړل:

د اسلامي نړۍ د تشخص نابودولو لپاره مختلفې حربې او وسلې کارول.

### بې لارې ګوونکي مفکران روزل:

۱ـ داسې مفکران روزل چې د هغوی په زریعه د اسلام روح له منځه وړي، کوم چې د دین په نوم خلک د دین څخه لرې بوځي.

### د استعمار د اطاعت تلقین:

تش په نوم اسلامي مفکرانو او مجتهدینو په زریعه د استعماري ځواکونو د اطاعت تلقین کوي، هغوی پخپلو لیکنو، کتابونو او ویناوو کې د نړیوالې ټولنې او مدني نړۍ پسې د اقتداء یعنې تګ توصیې او سپارښتنې کوي.

۳ـ د فاسدو او ناسمو تاویلاتو په کولو سره جهادي مفکوره ختمول:

جهاد چې د استعماري زهرو لپاره د تریاق حیثیت لري، نو د استعمار علمي او فکري ایجنټان یې په اړه فاسد تاویلات کوي او د هغوی په زریعه د جهاد تصویر ړنګولو کوښښونه کوي.

۴ـ اسلامي عقاید بدلول او د استعماري موخو سره سمې یې جوړول:

د جدیدپالو مفکرانو په زریعه د اسلامي عقایدو او د دین د حقیقي شکل مسخ کولو لپاره کوښښونه کول، څو هغه د استعماري اغراضو سره مطابق جوړکړي.

۵ــ د مســلمانانو ثقافـت مجروحـول: د اسـتعماري ځواکونـو گوډاگیـان غـواړي، د مسـلمانانو ثقافـت لـه منځـه یوسي، هغوی په تېره نیمه پېړی کې د فکري جنگ په زریعه د تهذیب،ثقافت ناستې ولاړې او استوگنې پـه گـډون هرڅـه تر ډېره تبدیل کړي دي او په دې توگه هغـوی د مسـلمانانو تشخص مجروحولو په کوښښونو کې بری موندلی دی.

پـورتني اجـمالي معلومـاتي یاداښـتونه زیـاتره د مولانـا اسماعیل ریحان د اوږدې مطالعې غور چاڼ دی، چې مـوږ دلته کټ مټ ددې لپاره راوړل؛ څـو پـه راتلونکـو پـاڼو کـې ورباندې بحث وکړو.

وړاندې مو وویـل: چـې د اسـلامي خلافـت ړنگـول د ټولو اروپایي او مغربي هیوادونـو پخـواني لـوی ارمـان او گـډ پلان و، نو هر کله چې د نولسمې پېړی پـه شروع کـې نـږدې ټوله اسلامي نړی د عیسایت تر سـیاسي، پـوځي او اقتصـادي سلطې لاندې راغله، ورسره هم مهـال ختیځ پوهـان متحـرک شول او په مختلفو برخو کې یې د اسلام د اصـلي روح مسـخ کولو لپاره مغرضانه څېړنې او پلټنې پیل کړې.

**هو! یواځې د دین په توگه د مسیحیت مطالعه بس نده:**

البته دلته د دې خبرې یادونه هم ضروري بـولم، چـې د مسیحیت ناقدانه مطالعه مسلمانانو تل یو اهم کـار گڼلـی دی او په اړه یې بیدار پاته دي، تردې پـورې چـې پـه صـحابه وو کې حضرـت عبـد اللـه بـن عبـاس او حضرـت عبـد اللـه بـن عمروبن العاص پشـان شخصـیتونو کـې هـم دا ذوق او شـوق موجود و او بیا د هغوی (صحابه وو) په اتباع کـې د هغـوی د سنت پـه جـاري سـاتلو سره هـر دورکـې علـماؤ د مسـیحیت مطالعه خپله ځانگړې مطالعه او مشغله گرځولې، چې پـه لـړ کې یې د علامه شهرستاني، ابن حزم، امام ابن تیمیه او نورو د امت علماوو مستقل کار کـړی دی او د عیسـایت پـه رد کـې یې علمي اصول متعین کړي دي. نږدې ماضي کې د هنـد پـه نیمـه وچـه کـې مولانـا رحمـت اللـه کیرانـوي او د دارالعلـوم دیوبنـد مؤسـس مولانـا محمـد قاسـم نـاتوي او پـه اوسـني عصرکې مولانا مفتي محمد تقي عـثماني مدظلـه د عیسـایت ناقدانه مطالعې په لړ کې گټور علمـي خدمتونـه تـرسره کـړي دي.

د مسیحیت مطالعې په لړ کې دا خبره پـه پـام کـې لـرل ضروري ده، چې د مسیحیت مطالعه یواځې د دین پـه اعتبـار بس نده، بلکې د هغه تاریخ، تمدن او د سیاست مطالعـه هـم ضرور ده، د عیسایت په ټولو فرقو او ډلو ټپلو باندې ژور نظر لرل ضروري دي، کـه هغـه یـې واکمـن دي، سیاسـتوال دي، محققیـن دي، مستشرـقین دي او یـا مبلغیـن او مبشریـن... د عیسایت تاریخ د دې ښوونه کوي؛ چې هر چیرې سوداگر او واکمن لومړی لاړ دي، هلته پسې متصل د عیسایت پاپان هـم د خپل دین د تبلیغ لپاره رسیدلي دي او هـر ځـای تـه چـې د عیسایت مبلغین او تبشیري کسان مخکې رسـیدلي دي، هلتـه ژر د عیسایي واکمنو ورتگ ته هم لارې پرانیستل شوې دي، په دې لړ کې د افریقا او هندوستان جلا، جـلا مثالونـه لـه دې وجې کافي دي، چې هندوستان تـه اول د برتانویـانو سـوداگر راغلل او بیا یې واکمن؛ او د هغوی د رسیدو سره سم عیسوي مبلغینو په هند کې په اسلام حمله وکړه او هـر چـې افریقـا وه هلته لـومړی عیسـوي پاپـان او مبلغین لاړل، هغـوی عیسـوي ښکېلاک ته لار پرانیسـتله نـو حاصـل دا شـو، چـې عیسـایي واکمن او مبلغین پخپل منځ کـې د یوبـل سره ژورې اړیکـې لري،که څه هم په ظاهره هغوی جلا جـلا درومـي او د یوبـل نه لرې ښکاري، خو د هغوی ترمنځ پلان او نصـب العیـن یـو دی، د کوم له مخې چې هغوی ټول په گـډه مربوطـه چـارې پرمخ بیـایي او د یوبـل سره مرسـتو او کومکونـو تـه وړانـدې کېږي.

مثلاً: مستشرقین د عیسویانو هغه ډله ده، چې په ښـکاره د بیطرفـه علمـي تحقیـق پـه اړه پیژنـدل شـوې ده، خـو کـه د هغوی کړه وړه پـه ژور نظـر سره مطالعـه شي، نـو دا خـبره بـه لکه د لمر روښـانه شي؛ چـې مستشرـقین د تبشـیري ډلـو سره

ژورې اړيکې لري او هـم د عيسـايي واکمنـو سره يـې نـږدې روابط دي.

په هر صورت مستشرقين د عيسايي مبلغينو سره نهايـت ژور روابط لـري او دواړه د يـو بـل سره همکـاران او معـاونين دي، کله چې د عيسايي واکمنو مطالعه وکړای شي، نو جوتـه بـه شي، چـې عيسـوي حکومتونـه پـه عيسـوي پاپـانو او مستشرقينو باندې څومره لګښتونه کوي؟ د نورې نړۍ په تېـره د مسلمانانو تېـر اېستلو لپـاره پـه خولـه دا دعـوه کـوي، چې «دوی دين او سياست له يو بل جلا کړي دي» خو که بل پلو ته يوه مسلمانه نجلۍ پخپل سر معمولي پړونی پـه سر کـړي، دې سره ټوله اروپا کـې توپـان پورتـه کېـږي، چـې ولـې هغـه پخپل دين عمل کوي؟

نو پوښتنه دا ده! که د سېکولرزم دعوه حقيقـت وي، نـو بيا د اروپا او امريکا واکمـن د خپلـو ګرجـو او چرچونـو سره ولـې د عيسـويت د تبليـغ لپـاره دومـره بې دريغـه او پريمانـه مرستې کوي؟ د څه لپاره په مليونو او مليـاردونو ډالـر مرستې ورکوي؟

نو د مستشرقينو او پاپانو سره د پريمانه مرستو کول ښيي چې عيسوي مستشرقين، عيسـوي واکمـن او مبلغـين ټـول پـه ګډه د يوشريک پلان لاندې کار کوي او د متفقـه پـلان سره سم د مسلمانانو په مرتد کولو پسې دي.

البته دا هم څرګند او نه پټېدونکې حقيقت دی، چې په دې لړ کې د دوامدار کوښښـونو او پريمانـه لګښـتونو سربيـره څو پيړۍ تېرې شوې او نن هغوی پخپله اعتراف کوي چې د مسلمانانو په عيسايي ګرځولـو کـې يـې بـری ترلاسـه نکـړ او خپل هدف ته رسيدو کې د ناکامۍ سره مخ دي، هـو! دومـره يې ضرور وکړل چې د مسلمانانو دننـه يـې د يـو لـوی شـمېر خلکو په ذهنونو کې د اسلام په باره کې د شکوکو او شبـهاتو په اچولو کې بری ترلاسه کړ او په دې کې چې څـومره برخـه د عيسيانو د تبليغ ده، همغـومره برخـه د مسـلمانانو د تعليمـي نظـام ده او تـر ډېـره پـورې د مسـلمانانو د کمـزورو خلکـو کمزورې ونډه هم پکې ده.

خو بيا هم د دې جايزې د اخيستلو لپاره چې مسلمان د عيسويت د تبليغ نه ولې نه متاثرکېږي، د نـن څخـه څـو کالـه وړاندې څنګه چې هغـوی تمـه درلـوده؛ مسـلمانان بـه متـاثر شي، خو دا ارمان يې پوره نشو. دې لپاره د عيسايي مفکـران وخت په وخت جمع کيدل او په دې يې غـور او فکـر کـاوه، چې ولې د دوی کوښښونه نتيجه نـه ورکـوي او مسـلمانان نـه متاثر کېږي. په دې لړ کې هغـوی يـوه هڅـه پـه ۱۸۶۰ ز کـې يعنې د نن څخه شـاوخوا يـو سـل شـپېته کالـه وړانـدې يـوه غونډه وبلله، په هغه کې چې د نـړۍ زيـاتو عيسـايي مفکرانـو ګډون کړی وو، پر دې يې غور و فکر وکړ، چې د عيسـويت لپاره د دوی لخوا کيدونکی تبليغ ولـې د ناکـامۍ سره مواجـه دی؟

## د هغه اسباب او لاملونه څه دي؟ او هغه څنګـه لـرې کېدای شي؟

د زياتو بحثونو او چنو وهلو وروسته يې جوته کړه، چې ددوی د ناکامۍ عمده اسباب درې دي، څـو چـې هغـه درې واړه لـرې نشيـ، دوی بـه پخپلـو مقاصـدو کـې بـری ترلاسـه نکړي.

لومړی: هغوی ته جوته شوه چې لومړی لامـل عيسـايي استعمار دی، او هغه داسې چې څو عيسايي واکمـن اسـلامي هيوادونه او د مسلمانانو خاورې د ځواک په متو اشـغالوي او مسلمانان غلامان ګرځوي، نو په فطري توګه هـر غـلام قـوم د فاتح قوم نه نفرت کوي او دا نفرت هغوی د عيسـويت پـه اړه د مثبـت سـوچ کولـو نـه راګرځـوي، نـو پـه اينـده کـې دې د مسلمانانو زمکو نيولو پرځای دې واکمن کومه بله داسـې لار غوره کوي... چې هغـه د اقتصـادي، مـالي او فکـري غلامـۍ لاره هم کېدای شي.

دوهم لامل: بل لامل دا دی چې مسلمانان د ارتـداد پـه باره کې قوي عقيده او قانون لري، چې هـر کلـه د هغـوی نـه کوم تن خپل دين ترک کـړ، هغـه مسـلمانان مرتـد او واجـب القتل ګڼي، د دې قانون شتون د عيساييت تبليـغ پـه وړانـدې قوي خنډ دی، نو هغـوی ولګيـدل د مسـلمانانو تـرمنځ يـې د

ارتداد سزا په باره کې د شبهاتو او شکوکو اچولو کوښښونه شروع کړل او د دې لپاره چې دا سزا غیر معقوله وښیي او د بشري حقونو څخه یې سرغړونه وګرځوي، نو په اسلامي هیوادونو کې د دې سزا د ختمولو لپاره یې هڅې پیل کړې او د دین بدلون یې د بشري حقونو اساس منلو ذهن په جوړولو یې ټینګار وکړ.

دریم لامل: چې د عیسویت تبلیغ یې بې اثره کړی دی، هغه په مسلمانانو کې د ثقه او جیدو علماوو شتون دی، نو اړتیا ده؛ چې د هغوی پر خلاف نفرتونه پیدا کړای شي او د هغوی پرځای داسې جعلي مشران او علماء رامنځته کړای شي، چې هغوی په مسلمانانو کې خپل دیني تصلب کمزوری کړي، څو په دې توګه د عیسایت لپاره لار پرانیستل شي د ۱۸۶۰ز پریکړو جریان، لږه زمانه وروسته په یو کتاب کې چاپ شو، اوس د هم هغه کتاب په رڼا کې د عیسایت د تبلیغ لپاره د پخوانیو طریقو پرځای یې نوې طریقې غوره کړې دي، د تیرو درې څلورو پیړیو په دوران کې داسې څو پیښې مخ ته راغلې، چې د هغو نه دا اندازه کېږي چې د یاد کتاب د لارښوونو په رڼا کې ټول عیسوي مبلغین اړونده کارونه پرمخ وړي.

نو دا څو خبرې په هغه غونډه او کانفرانس کې طی کړای شوې دي ، په کومو چې اوس ټوله عیسوي ورورولی په عمل کولو لګیا ده.

لومړی: دا خبره طی شوه چې عیسوي واکمن به مخامخ په یو اسلامي هیواد باندې د حکومت کولو پر ځای هلته د جمهوریت او دیمکراسۍ په پلمه عامو خلکو ته د ملوکیت او آمریت نه د خلاصون، ازادي ورکولو او د نړیوالې ټولنې سره یوځای ژوند کولو؛ په زړه راښکونکو شعارونو او نارو مداخلت کوي او هلته دې مؤثر دیني علماء له منځه وړي او د هغوی پرځای دې بې دینه قیادت مسلط کولو لپاره کردار اداء کوي.

دوهم: دا طی کړی شوه چې د عیسویت د پراختیا په وړاندې نړۍ کې تر ټولو لوی او قوي خنډ عثماني خلافت دی، هرځای چې عیسوي مبلغین درومي، وروسته سم هلته د عثمانیانو مامورین هم وردرومي او زموږ کوښښونه شنډوي، خپلو خلکو ته مرستې ورکوي او هم د عیسویت د عقایدو تردید کوي، نو پریکړه یې وکړه چې په هرقیمت کېږي باید مسلمانانو کې د خلافت قایمولو نظریه کمزور کړای شي او د هغوی د سلطنت مشروعیت دې ختم شي، هر کله چې عثماني خلافت ړنګ شو، بیا دې اسلامي نړۍ په کوچنیو، کوچنیو هېوادونو وویشل شي، نو په دې سره به په هر هیواد کې د عیسویت تبلیغ لپاره کار اسانه شي، هغوی پر دې باندې عمل وکړ او ټولې مسیحي نړۍ د عثماني خلافت په ړنګولو او بیا په وړو وړو هیوادونو او حکومتونو د اسلامي نړۍ ویشلو کار یې په ټول قوت اوشدت سره وکړ.

خو بیا هم تر دیرش څلویښت کلو پورې هغوی مطلوبه بریاوې ترلاسه نکړې او د نن څخه شاوخوا څلویښت کاله وړاندې یې یوه بله لویه غونډه جوړه کړه او په هغې کې یې د ټولو اسلامي هیوادونو څخه درې، درې یا څلور ،څلور عیسایي مبلغین او پاپان ور وبلل او د هر هېواد په اړه یې جلا، جلا، مقالې ولیکلې او بیا یې په هغو تر څو ورځو بحثونه وکړل، د هر هیواد په حالاتو یې ژور غور وکړ او پکې د عیسایي تبلیغ ارزونه یې وکړه، هم یې په باب سپارښتنې او وړاندیزونه ترتیب کړل، دا غونډه تر شپږو میاشتو روانه وه، خو د دې غونډې جریان یې نهایتي پټ وساته، خو بیا هم په کومه طریقه یوه نسخه کوم مسلمان ته په لاس ور غله. هغه نه یواځې هغه خپره کړه، بلکې یو عرب عالم د انګریزي نه عربي کې یې ژباړه هم نشر کړه، په هغه کتاب کې چې زموږ د ګاونډي هیواد پاکستان دننه د عیسایت د تبلیغ لپاره کومه برخه ځانګړې کړای شوې ده، هغه د خپلو لوستونکو سره شریکوو:

وایي: په پاکستانۍ ټولنه کې عیسایانو ته په سپک نظر کتل کېږي او د هغوی د کار له امله ورته «چوړیان» ویل کېږي، ترڅو چې دا ټولنیز توپیر له منځه وړل شوی نه وي، تر هغه پورې هلته عیسویت ته تبلیغ کوم تاثیر نشي کولی.

د پاکستاني څېړونکو په وينا: د يادې غونډې وروسته پاکستان کې په لويو، لويو کمپنيو، دولتي ادارو او لوړو پوستونو د عيسايي وګړو مقررېدل پيل شول، څو د مسلمانانو له زړونو څخه د هغوی (عيسايانو) په باره کې د حقارت تاثر ووځي او ورته دا احساس وشي، چې که ځينې عيسايان کمزوري دي، خو ځينې نور بيا په لوړو پوستونو مقرر دي اوپه دې سره به د هغوی نه شته نفرت را کم شي.

دوهم دا چې کله کوم مسلمان عيسايي کېږي، لازماً د نورو مسلمانانو دننه د هغه پر خلاف سخت نفرت پيداکېږي، د مسلمانانو له ټولنې څخه پرېکېږي او په خاصه توګه د انګريزي نوم په اېښودو سره د هغه عيسوي حيثيت نور هم ښکاره کېږي او بيا هم د هغه په زريعه مسلمانانو کې د مسيحيت تبليغ لپاره کومه دروازه پرانيستل کېږي نه، نو هغوی دا طی کړه چې مسيحيان دې نور پخپلو اولادونو باندې نومونه د مسلمانانو نومونه ته ورته بردي او هرکله چې کوم مسلمان(معاذالله) عيسوي دين غوره کوي، نو هغه به يا پخوانی نوم په ځای ساتي اويا به يکې معمولی ردوبدل کوي او داسې نوم به غوره کوي چې هغه نه دا نه معلوميږي چې دا سړی مسلمان دی که عيسايي، نو اوس د تېروشل پنځه ويشت کلو راهيسې مشترک نومونه بردي لکه: پرويز، داود، سليمان، يعقوب اونور... کوم چې د مسلمانانو دننه هم اېښودل دود دي.

دريم وړانديز يې دا وکړ، چې د مسلمانانو ديني ژوند يو جلا تشخص لري او د دين په باره کې د هر مسلمان مسجد او ديني ژوند سره ځانګړی تړون وي، همدا وجه ده چې که په پنجاب کې يو مسلمان لمونځ هم نکوي، خو د ربيع الاول په مجلسونو کې هغه خامخا ګډون کوي او په دې توګه د خپل دين سره خپل تړون مضبوطوي، نو هغوی دا طی کړه چې په ياد هيواد کې دې دغسې غونډو او مجلسونو توجه او پراختيا ورکړای شي او يکې مسلمان څوانان ځانو سره عيسايي ځوانان هم شريک کړي، نو ښکاره ده په وروستيو څو کلونو کې عيسايان خپلې ګرجې د خپل مخصوص تعمير نه علاوه پر داسې بڼه تعميروي چې په لومړي نظر کولو سره دا توپير مشکل وي، چې ايا دا مسجد دی که ګرجا ؟ او بيا په هغې د بره د ګرجي لوحې پر ځای د انبياوو عبادت ځای ليکلی وي. او د يوې عبادت په توګه يې متعارف کوي.

بل پلوه ته عيسايان د دسمبر په ۲۵ مه(کومه چې په واقعيت کې غلطه ده) نېټه د عيسی عليه السلام د زوکړې نيټه لمانځي، د عيسويانو لپاره د يو کلني ديني مجلس حيثيت لري او د يو پلان له مخې يې د ديني مجلس په ځای يې د يو ملي دوديز مجلس په توګه لمانځي او هغه ته د مسلمانانو د ورېللو کوښښ کوي، څو د مسلمانانو او عيسايانو ترمنځ قرب راشي، ديني او کلتوري لرې والی لرې شي او په دې توګه د عيسايت د تبليغ لپاره لار پرانيستل شي، يا لکه د مينې ورځې په نوم ګلان ورکول، چې يو مخ عيسوي دود دی، کومې ته «ويلنټاين ډې» ويل کېږي؛ پکې ځوانان هلکان او ځوانې نجونې د کوم ديني امتياز پرته يو بل سره د مينې اظهار کوي او يو بل ته د ګلانو ډالۍ ورکوي، دغسې ورځې ددې لپاره لمانځي، څو د مسلمانو ځوانانو تعلق د خپل دين سره کمزوری کړي او په راتلونکي کې يې خپل ښکار وګرځوي او د عيسايانو چارواکي په دې پوره پوهيږي چې مشران او سپين بږيري خو د خپل دين په باره کې حساس او پاخه وي، پر هغوی ډېر غرض نلري او په ځوانانو کوښښ کوي.

اوس د دې ټول حالت او د عيسوي فکري يرغل مقابله به څنګه کولی شي؟ او د دې لپاره کوم ګامونه پورته کول ضرور دي؟

راځئ! په راتلونکي برخه کې هم دا بحث ولولئ!



# د ایراني ساینسپوه وژنه،
## موخې او متوقع خطرونه

حسن مومند

ځو ورځې د مخه په ایران کې دننه د ایران ستر ساینسپوه دوکتور محسن فخري زاده چې د ایران د اتوم پلار ګڼل کېدلو، د مقناطیسي بم په حمله کې ووژل شو.

محسن فخري زاده چې د ایران د اتومي پروګرام له مهمو بنسټ ایښودونکو نه و، تر څنګ یې د دفاع وزارت کې د اختراعاتو او تحقیقاتو د ادارې مشري هم پر غاړه وه.

په ظاهره چې حالات پر کوم لور روان دي، که رښتیا هم حالات همداسې وي نو بیا د منځني ختیځ وضعیت ډېر خراب؛ ایران او امریکا یو بل ته مخامخ او دلته د یو خونخوار جنګ د رامنځته کېدو خطر مخ په زیاتېدو دی.

د محسن د وژل کېدو په اړه د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف وویل: چې داسرائیلو صهیونستي دولت له دې وړاندې هم دځینو ایراني ساینسپوهانو په قتل کې لاس درلودلو، د محسن فخري زاده وژل کېدل هم د همدې لړۍ یوه کړۍ ده.

د باندنیو چارو وزیر ددې تر څنګ د ایران اتومي انرجي هم د محسن مرګ او په جولائي کې د اتومي پروګرام په تتانز بټۍ کې حادثه د صهیونستانو کار ګڼلی دی.

د ایران استخباراتو وویل: چې موږ ته حمله کونکي او د حمله کونکو تر شا لاسونه معلوم شوي دي؛ په مناسب وخت کې به هر څه نړۍ ته ښکاره کړو.

د ایران قیادت د محسن فخري زاده د انتقام اخستلو اعلان کړی.

د روان ۲۰۲۰م کال د جنورۍ میاشتې په ۳مې نېټې د عراق پلازمېنې بغداد هوایي ډګر ته څېرمه د امریکا د بې پیلوټه الوتکو په هوایي برید کې د ایران د القدس ځواکونو مشر جنرال سلیماني وژل شوی و.

دده د وژل کېدلو پېښه د کال د پیل ستره حادثه ګڼل کېدله؛ داسې ستره حادثه چې شاید د یو داسې ستر جنګ سبب شوی وای، چې ټول منځنی ختیځ یې په لمبو کې لولپه کېدای شو. د شاه رضا پهلوي د واکمنۍ پر مهال ایران امریکا او نور لویدیځ ته ډېر نېږدې و؛ ایران د لویدیځ د نفوذ سیمه وه او دلته د لویدیځ ټولې غوښتنې پوره کېدې.

د شاه د واکمنۍ د ړنګېدو او د انقلابیانو د واکمن کېدو نه پس په ایران کې د (مرګ بر امریکا) نارې پورته شوې؛ د انقلاب د مشرانو له لورې امریکا د شیطان بزرګ په نومونو یاده شوه او له دې ځای نه د دوارو هېوادونو ترمنځ

ډيپلوماتيکې اړيکې پرې او په ښکاره د دواړو هېوادونو دوستي په دښمنۍ بدله شوه.

دا دښمني عقيدوي او د عامو خلکو په اند ژوره ګڼل کېدله، خو د چارو ګڼو عربو او ځنې غربي شنونکو د امريکا او ايران تر منځ دې دښمنۍ ته د شک په نظر کتل او دا دښمني يې ريښتوني نه ګڼله.

د انقلابيانو د راتلو نه پس دا دښمني ريښتوني وه او که نه؟ دلايل او شواهد څه راښايي؟

دا مستقله موضوع ده، چې پرې اوس د څه ويلو چندان اړتيا نه محسوسېږي او کله يې که اړتيا محسوسه شوه، نو بيا پرې مستقله ليکنه وکړم.

خو که تېرو دوه لسيزو ته زير شو، نو په يقين سره ويلی شو چې په دې دوه لسيزو کې د ايران او امريکا د دښمنۍ او دوستۍ خبره ډېره پېچلې شوې ده؛ له يوې خوا د جنګ ډګر کې ايران او امريکا اوږه په اوږه ولاړ دي او په شريکه د دښمن پر ضد جنګېږي او له بلې خوا پر ايران لګېدلي اقتصادي بنديزونه هم پوره نه پورته کېږي؛ د ايران د اتومي پروګرام په سر لانجه هم نه ختمېږي او د محسن فخري زاده په څېر ستر اتومي ساينسپوهان او د جنرال سليماني په څېر د ايران خورا لوړ پوړي فوځي مشران هم د امريکا په لاس وژل کېږي؟!

واک ته دټرمپ د رسېدلونه پس حالات نور هم پېچلي شول.

په خليج کې د تېر ۲۰۱۹م او روان ۲۰۲۰م کال ځينې اقداماتو او د رامنځته شويو بدامنيو ځينو پېښو؛ ددې پېښو په مقابل کې رامخې ته شويو غبرګونونو؛ ګواښونو او جنګي تياريو ته چې وکتل شي، نو داسې ښکاري چې د ښه سنجول شوي پلان له مخې په خليج کې د حالاتو خرابول او د حالاتو د خرابېدو په نتيجه کې خپلو موخو ته هر لوري ځان رسول غواړي.

دا سمه ده چې په افغانستان کې د مجاهدينو په مقابل کې د امريکا شکست د امريکا کړنلاره بدله او په ټولې اسلامي نړۍ کې يې د مخامخ جنګونو نه د ځان را ټولولو پرېکړه کړې ده، خو د امريکا استعماري فکر ندی بدل شوی او نه يې د نړۍ په مختلفو برخو کې د خپلو اډو د له منځه وړلو پرېکړه کړې ده؛ امريکا اوس هم خپله زړه کړنلاره تعقيبوي او په خليج کې يې ټول اقدامات د خپل نظامي حضور د لا پراخوالي لپاره دي.

د ايران د اتومي پروګرام په اړه په ۲۰۱۵م کال کې رامنځته شوی تړون امريکا لغوه کړ او په ايران يې نوي اقتصادي بندېزونه ولګول.

د ۲۰۱۹ م جون مياشتې په ۱۲ مې نېټې دوه د تېلو سمندري امريکايي ټانکرونه چې له دوبۍ نه يې سنګاپور ته تېل وړل، عمان خليج کې د ايران د ساحلي سرحد په ۲۶ کيلومترۍ کې د حملو ښکار شول .

امريکا ددې حملو پړه پر ايرانورواچوله او يوه داسې ويډيو يې هم خپره کړه، چې پکې داسې ښکارېده؛ لکه چې د حملې نه څو ساعته پس د ايران پاسداران انقلاب يوه کوچنۍ څارګره کښتۍ په دې دواړو ټانکرونو کې د يو له څنګ نه د داسې انفجاري موادو د لرې کولو هڅې کوي؛ چې لا چاودلي نه وو.

خو د ايران د باندنيو چارو وزير جواد ظريف په دې بريدونو کې د ايران لاس لرل په سختو ټکو رد او د امريکا دعوه يې بې بنسټه ګڼلې وه.

له دې وړاندې د مئ مياشتې په دوهمې لسيزې کې د عراق پلازمېنې بغداد کې د امريکا د سفارت ترڅنګ يو توغندی پرېوت، چې ځاني زيان يې نه درلود.

امريکا دا د ايران له لوري د امريکا پر سفارت توغندويي ناکام بريدګڼلی و.

له دې پېښې نه پس د امريکا ولسمشر ټرمپ ايران ته ګوت څنډنه کړې وه او ويلي يې وو، چې ايران دې له خپلو ناسمو کړنو لاس په سر شي، ګينې ناوړه عواقبو ته دې ځان تيار کړي.

ایران د امریکا دا دعوی هم بې اساسه ګڼلې او برید کې یې د خپل هېواد لاس لرل رد کړي وو. همدا راز د مئ په دوهمې لسیزې کې د عربو د متحده اماراتو پر ساحل د سعودي د تېلو پر بار وړونکو سمندري جازونو باندې بې پیلوټه طیارو بریدونه کړي وو.

دا بریدونه چې حوثي ملېشو یې مسئولیت پر غاړه اخستی و، د ایران او امریکا ترمنځ د تاو تریخوالي یو بل مهم لامل ګڼل کېدلو.

او د ۲۰۱۹م کال ستمبر میاشت په۱۴مې نېټې په سعودي عربستان کې د ارامکو په نوم د تېلو تولیدونکې د نړۍ تر ټولو ستر شرکت د تصفیې په دوه مرکزونو (بقیق اوخریص) د بې پیلوټه طیارو هوایي بریدونه خو بیا ډېره ستره پېښه وه.

دې حملې سعودي عربستان ته دومره درونډ اقتصادي زیان ورسولو، چې دا حملې د سعودي دولت د خپل هېواد ۱۱سپتمبر وګڼلو .

د یمن حوثیانو ددې بریدونو پړه پر غاړه اخستې او د داسې نورو بریدونو دړکه یې هم کړې وه.

خو امریکا او بیا ورپسې د سعودي دولت ددې بریدونو پړه پر ایران وراچولې وه او ویلي یې وو، چې بې پیلوټه الوتکې د ایران نه راپورته شوې وې، خو ایران دا ادعاوې هم په کلکه رد کړې وې.

زیاتره پوهانو ویل: چې ایران به د خپلې خاورې نه پر سعودي عربستان دا بریدونه نه وي کړي، ځکه پر ایران ددې بریدونو د ثبوت په صورت کې ایران د نړیوالو د سخت غبرګون سره مخامخ کېدای شو.

د نړۍ له سترو زبرځواکونو پرته بل یو هېواد هم د داسې بریدونو جرأت نشي کولای او نه یې هم د بدو عواقبو زغم لرلای شي.

په سعودي عربستان کې د امریکا د فوځي اډو او د پرمختللې پیټریاټ دفاعي نظام په شتون کې چې پر سعودي دومره ستر بریدونه کېږي، نو دا په ښکاره د امریکا ناکامي او په حقیقت کې په داسې پېښو کې د امریکا د لاس لرلو ډېر روښانه دلیل دی.

نو لنډه دا چې دې پېښو او د امریکا د ولسمشر- ټرمپ سختو دړکو ته په پام سره د ډېرو شنونکو په عقیده د امریکا له لوري د ایران پرضد د محدودو نظامي عملیاتو تمه کېدله، چې د سلیماني د وژلو په صورت کې یې ترسره کړل.

خو د منځني ختیځ د چارو هغه پوهان چې حالات په ډېر دقت څاري، هغوئ ایران ته د سزا ورکولو دا فکر ردوي او دا په اصل کې منځني ختیځ کې د یو شیطاني پلان د عملي کولو یو خورا ډېر مهم قدم بولي.

دا څېړونکي د سعودي سره د امریکا د دوستۍ او د ایران سره د دښمنۍ خبره د امریکا د شومو پلانونو د پوره کېدو لار بولي؛ نور د سعودي او ایران دواړو اقدامات د امریکا په ګټه تمامېږي. بس فرق همدومره دی چې سعودي امریکا د ځان محافظ ګڼي، نو د امریکا د حکم انتظار کوي او قدم پورته کوي او ایران د عربانو په پرتله په خپل قوي عسکري ځواک مغرور دی او فکر کوي چې هر څه په خپله اراده او د خپلو ګټو لپاره کوي.

د منځني ختیځ روان وضعیت ته په پام سره ایران په خپل ګومان امریکا ځان ته محتاج ګڼي، د ایران د اقداماتو په مقابل کې د امریکا د عکس العمل نه رامخې کېدلو لامل هم همدا د امریکا ضرورت بولي، دا حالت د ځان لپاره ښه موقع ګڼي، نو د امریکا سره اوږه په اوږه او کله ترې یو قدم مخکې مخ په وړاندې ځي، خپل نفوذ زیاتوي، ملېشې جوړوي، پر هېوادونو خپله سلطه قائموي او د سیمې د ولسونو او دولتونو د خفګان او خوشالۍ هېڅ پروا نه ساتي.

کله چې پر افغانستان امریکا یرغل کاوه، نو دا ګومان کېده چې د خپلو وفادارو خلکو له لارې به ایران دلته امریکا ته مشکلات جوړ کړي؛ خو موږ ولیدل چې د ایران تر نفوذ لاندې خلکو د امریکا پر لور یوه لوټه هم ورګوزار نکړه، بلکې د مجاهدینو پر ضد ورسره په صف کې ودرېدل، چې ترننه لا ولاړ دي. حال دا چې همدا خلک ایران سوریې ته د

جنګ لپاره لېږي، ورته جنګي روزنه ورکوي او د فاطميون په نوم يې ددوئ داسې لويه وسلواله ډله جوړه کړې ده، چې په رسنيو کې د تازه خپرو شويو ارقامو له مخې يې شمېر ۲۵ زرو ته رسېږي. د طلوع نيوز سره په يوې تازه مرکه کې د ايران د باندنيو چارو وزير جواد ظريف ښه په سپين سترګۍ ويلي: چې د ايران په لاس د فاطميون په نوم د افغان مهاجرينو نه جوړ شوی لښکر بهترين لښکر دی، که د افغانستان دولت غواړي؛ ددې لښکر نه د طالبانو پرضد کار اخيستلای شي.

هغه امريکا چې د طالبانو سره د تړاو په جرم د مسلمانانو په کورونو بمونه غورځوي، شهيدانوي يې او زندانونو ته يې وړي، نه يې کله پر ايران په دې هکله اعتراض وکړ؛ نه يې فاطميون تروريستان وګڼل او نه يې هم کوم يو پدې جرم ونيوه.

په عراق کې خو ايران او امريکا بيخي اوږه په اوږه د خپل دښمن پرضد جنګېږي، که هدف د دواړو يو نه دی دښمن خو يې يقيناً چې يو دی.

د ۲۰۱۷م کال د مارچ مياشتې په وروستيو ورځو کې چې په جنېوا کې امريکا د خپلو پنځو اتحاديانو په ملتيا د ايراني قيادت سره د ايران د اتومي پروګرام پر سر خبرې کولې ، په هماغو ورځو کې د داعش پرضد د عملياتو په نوم د عراق د تېلو غني ښار تکريت باندې د قبضې راوستلو په موخه د ايران په لاس جوړې شوې د بدر، قدس او اخوان حزب الله په نوم د ملېشو ۳ ډلې د امريکايي ځواکونو سره اوږه په اوږه ددې ښار د نيولو لپاره  جنګېدلې او ددې جنګ مشري جنرال قاسم سليماني کوله .

په دې جنګ کې د امريکا را داخلېدل د پاسداران انقلاب په خوښه شوي و او تړون ورسره د بدر،قدس او اخوان حزب الله په نوم د درې واړو ډلو مشترک وياند نعيم العبيدي کړی و. د شوي تړون پر اساس امريکا په ټول جنګ کې د پاسداران انقلاب او يادو عراقي ملېشو هوايي مرسته کوله چې په همدې لړ کې سهواً د امريکا په يوې ډرون حملې کې د پاسداران انقلاب دوه جګ پوړي افسران علي يزداني او هادي جعفري ووژل شول، چې مړي يې په تهران کې خاورو ته وسپارل شول. ددې دواړو لوړپوړو افسرانو په وژل کېدو د ايران مطبوعاتو ډېره غوغا جوړه کړې وه او ايله هغه مهال يې غوغا بنده شوه، چې نعيم العبيدي وويل: د امريکا په ډرون حملې کې ددوئ وژل کېدل قصداً نه وو.

پورته يادې شوې عراقي ملېشې هماغه ملېشې دي، چې په اړه يې د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکي مون ويلي وو؛ چې دا ملېشې کومې سيمې قبضه کړي، يکې د خلکو عامه وژنه کوي، ودانۍ د ځمکې سره برابروي او د خپل تسلط لاندې سيمو کې د خلکو اختطافونه او پر مېرمنو جنسي تېري کوي .

خو دا چې دا ډلې د امريکا د جنګ ملګرې ډلې وې، نو د ملګرو ملتونو د سرمنشي څرګندونو ته يې هيڅ اعتنا ونکړه؛ ځکه چې د امريکا تاريخ ددې خبرې شاهد دی، چې د چا خفه کول نه غواړي، نو په ډېرو سترو ناوړه کړو وړو يې هم نه يواځې دا چې سترګې پټوي، بلکې مرسته يې هم کوي او په دې لار کې د ټولې نړۍ د اعتراض پروا نه ساتي، چې قدم په قدم اوپه هرحالت کې د اسرائيلو نه حمايت يې ژوندۍ بېلګه ده.

د امريکا سره يوځای د دښمن پر ضد د جنګېدلو ملګرتيا ده، چې ايران ته يې په منځني ختيځ کې دخپل نفوذ زياتولو موقع په لاس ورکړېده .

ايران ښه په جهر وايي: چې د شام ،عراق ،يمن او لبنان څلور واړه هېوادونه يې تر نفوذ لاندې دي او يادو څلور واړو هېوادونو دولتونه يې د حکم تابع دي .

د ايران دا دعوی تشه دعوی نده، همدا حقيقت دی، په تېرو دوه لسيزو کې چې امريکا په منځني ختيځ کې ايران ته ډېره زياته مخه ورکړه، نو د پاسداران انقلاب د سليماني په څېر جنرال يې ددې څلور واړو هېوادونو عسکري قوت په خپل لاس کې واخيست او په اصلي معنو کې يې ددې هر هېواد وسلوال ځواک د سپاه پاسداران جز وګرځاوه.

که امریکا نه غوښتلای؛ آیا ایران په دا دومره سپین سترګۍ دا خود سري کولای شوه ؟ د ایران دې کړنو عربان سخت ورخطا کړیدي، چې همدا د امریکا هدف دی.




امریکا د ایران په اړه تر ډېره حده له مبالغې نه کار اخلي؛ ایران چې په فوځي ډګر کې څومره ځواکمن دی، امریکا یې د هغې نه ډېر زیات ځواکمن معرفي کوي، چې ددې ستر دوه هدفونه دي. یو خو دا چې ټوله عربي نړۍ د ایران نه په سختې وېرې کې وساتي، ترڅو عربي هېوادونه امریکا خپل نجات ورکونکې وګڼي؛ هر یو هېواد خپله دننۍ او بهرنۍ تګلاره د امریکا د خوښې سره سمه برابره کړي؛ په خلیج کې د امریکا حضور اړین وګڼي او په نتیجه کې یې ټل ترټله پر وسایلو د امریکا قبضه وي.

د ایران په اړه د مبالغې دوهم ستر هدف دا دی چې په سیمه کې د وسلو زیاتولو مسابقه رامنځته شي او بدای عربي هېوادونه ښې ډېرې وسلې له امریکا نه واخلي او امریکا هرکال له دې لارې په ملیاردونو ډالر ترلاسه کړي.

د چارو پوهان وایي: د شام، عراق او یمن په جنګونو کې د ایران د راښکېلولو او پر سعودي د حوثیانو د توغندویي بریدونو د نه مخنیوی ستر هدف هم همدا دی .

د ایران له لوري حوثیانو ته د ورکړل شویو بالاستیکي توغندیو د خنثی کولو لپاره سعودي د امریکا نه مصنوعي قمر په کرایه نیولی دی، چې میاشتینۍ کرایه یې ۴۵۰ ملیونه ډالر کېږي.

سعودي تر اوسه د حوثیانو پرضد ۹۰ زره جنګي پروازونه کړیدي چې پرې ۸ ملیارده ډالر مصرف شویدي.

پدې جنګ کې تر ټولو زیاتې پیسې د حوثیانو له لوري د سعودي پر ښارونو د توغول شویو بالاستیکي توغندیو پر خنثی کولو مصرفېږي، ځکه چې د هر توغندي د خنثی کولو لپاره ۳ پټریاټ توغندي توغول کېږي او د هر پټریاټ توغندي قیمت ۳ ملیونه ډالر دي .

د ۲۰۱۵ م کال د مارچ میاشتې نه تر دې دمه حوثیانو پر سعودي نېږدې ۱۵۰ بالاستیکي توغندي توغولي دي.

د پیټریاټ توغندیو پرته هم سعودي عربستان د روسیې نه ۴۰۰ S سستم او د امریکا نه تاډ سستم اخیستی، چې په ساتنې او پالنې یې هر کال تر ۱۰۰ ملیونه ډالر مصرفېږي.

سعودي عربستان لګیا دی، د یو بل پسې لویدیځو هېوادونو سره امنیتي تړونونه هم لاسلیک کوي او سعودي اوس د نړۍ څلورم هغه ستر هېواد ګرځېدلی دی، چې د خپلې دفاع لپاره ترټولو زیاته بودیجه ځانګړې کوي.

نو ایران ته د مخې ورکولو او په عربانو یې د وېرې خپرولو له لارې چې امریکا دا دومره پیسې ترلاسه کوي؛ ولې به د ایران د نفوذ مخه نیسي...

د ایران د باندنیو چارو وزیر؛ د ایران اتومي انرجۍ اداري، د ایران استخباراتو چې د محسن فخري زاده قتل د اسرائیلو کار وبللو او امریکا یې ورسره پکې شریکه وګڼله نو پوښتنه دا ده، چې ایران به لکه چې وایي د غچ اخستلو په موخه د اسرائیلو یا امریکا پرضد کوم د یادولو وړ اقدام وکړي؟

اصل خبره دا ده! چې ایران که هر څومره ستر اتومي ځواک شي او جنګي وسایل یې که هر څومره پرمختللي شي، اسرائیلو او امریکا یا نورو لویدیځو ځواکمنو هېوادونو ته یې خطرونه متوجې کېدل له حقیقته لرې او له مبالغې ډکه خبره ده. حقیقت دا دی؛ چې د ایران ټکنالوژي او وسایل د امریکا عشر عشیر ته هم نشي رسېدای؛ امریکا خو امریکا ده، د امریکا د نورو غربي اتحادیانو توغندویي ټکنالوژي هم ډېره پرمختللې ده او اتومي پروګرامونو یې ډېر اوږد واټن وهلی دی، پداسې حال کې چې د ایران دا هر څه نوي دي او د لویو اتومي طاقتونوسره یې داتومي ځواک برابرېدلو پر وړاندې لا ډېر اوږد واټن پرمخ دی.

د فخري زاده وژل خو اسرائیلو یا امریکا ندي منلي او نه هم پدې قتل کې د یادو دواړو هېوادونو د لاس درلودلو په اړه ایران نړۍ ته قوي شواهد وړاندې کړیدي.

جنرال سلیماني د فخري زاده په پرتله ډېر لوی سړی و، د ایران په نظامي خلکو کې له ده بل مهم سړی نه و. په قتل یې ټول ایران ولړزېد او ټول ایراني مشران پرې وژړېدل او مهمه دا چې امریکا پرې د ترسره شوي برید مسئولیت هم ومانه؛ ایران د انتقام اخستلو ډېرې غټې دړکې وکړې، تر اوسه یې څه وکړل، کوم انتقام یې واخستلو؟

نړۍ شاهده او پدې ډېره ښه پوه ده، چې ایران له امریکا هیڅ انتقام نه اخیستلی شي او نه یې د اخیستلو جرأت کولای شي.

هو! امریکا به هڅه وکړي چې پر عربي نړۍ د ایران د حملو خوف او وېره لا زیاته کړي، ترڅو په خلیج کې خپل فوځي حضور نور هم پیاوړی کړي، لکه چې پر ارامکو د بریدونو نه پس امریکا همداسې اقدام وکړ.

د امریکا دفاع وزارت سعودي عربستان ته د نویو۳ زره فوځیانو لېږدول اعلان کړل، هغه د سعودي عربستان د تېلو په تاسیساتو شوي ستر بریدونه ددې اقدام لپاره د جوازپه توګه وړاندې کړل او ویې ویل؛ چې د سعودي عربستان نه د دفاع په موخه یې دا ګام پورته کړ.

دفاع وزارت وویل: چې دا تازه دمې ۳ زره فوځیان به د مرکزي قوماندې په سیمه کې مېشت کېږي؛ ددوئ سره به ګڼ شمېر ایف ۲۲ ډوله هغه طیارې هم وي چې رادار یې نشي-معلومولی، دوئ به د سمندري لارو ساتنې کوي او د سعودي عربستان په فوځي اډو کې به د توغندیو ضد پیټریاټ نظام نصب کړي.

دا سمه ده چې ایران د خلیج او ټول منځني ختیځ کې یو هېواد هم په نظامي ډګر کې د ځان سیال نه بولي نو په خپل زور ډېر مغرور دی؛ یواځې د خپلو اهدافو حصول ضروري ګڼي او د سیمې د هېوادونو د خوشالۍ او خفګان څه پروا نه ساتي؛ متقابل احترام ببخي نه ښکاره کوي او نه ددې هېوادونو سره د ښو روابطو او د اعتماد د فضا رامنځته کولو لپاره څه خاص هڅې کوي، چې دا د ایران لپاره د تاوان نه ډکه پالیسي ده، که ایران دا پالیسي تغیر او د سیمې د هېوادونو په اړه یې خپل دریځ کې بدلون راوستلو، نو دا به د ایران او عربي هېوادونو لپاره ډېره ګټوره وي، ګینې ایران او د سیمې نور اسلامي هېوادونه به ستر مادي او معنوي تاوانونه زغمي او په ترڅ کې به یې د امریکا او نورو شیطاني قوتونو شوم پلانونه تطبیق او موخې پوره کېږي.





# د اسلامي امارت قیام؛ شرعي فریضه ده!

فضل منان سعدي

د یو سوچه اسلامي امارت قیام په اجتماعي توګه د مسلمانانو شرعي فریضه او منصبي مسؤلیت دی، حتی چې دار الکفر کې اوسیدونکو مسلمانانو باندې هم فقهاء کرامو واجبه کړې چې د خپل منځي قضایاؤ د حل او فصل لپاره د وخت له حاکم څخه د یو مسمان والي غوښتنه وکړي.

نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(ان الله لیزع بالسلطان ما لا یزع بالقرآن. الحدیث)

یعني الله تعالی د حاکم په لاس د هغو مفاسدو لاره تړي؛ چې د قرآن په وسیله یې نه تړي، الله تعالی خپل خواږه نبي علیه السلام ته دعا ورزده کوي چې یا ما ته خپله واک راکړه یا مې د یو بل حکومت په مټ ځواکمن کړه چې ستا پر ځمکه ستا د عدل قانون نافذ کړم، د بدیو او فحشاوو مخه ډب کړم، نیکی او ښېګڼې عامې کړم، د ظالم سرکوبي وکړم، د مظلوم دفاع وکړم او حقوق یې خوندي وساتم.

د واک او قدرت دعا ځکه غواړي، چې دا هرڅه د واک او قدرت په وخت کې ممکن دي، په کوم ډول چې اسلام په نړۍ کې اصلاح راوړل غواړي د هغه لپاره یوازې وعظ ؤ تذکیر کفایت نه کوي، بلکې سیاسي قوت ته هم کلکه اړتیا ده.

دین او حاکمیت داسې سره تړلي دي چې د هر یوه په نه شتون کې بل نیمګړی پاتېږي، سیاست که له دین څخه جلا شي؛ چنګیزیت ترې جوړېږي علامه اقبال څه ښه وایي:

'جلال پادشاہی ہو کہ جمہوری تماشا ہو
جدا ہو دین سیاست سے تو رہ جاتی ہے چنگیزی'

او همدارنګه د دین ساتنه که د سیاست له لارې ونشي؛ نو د حکمرانۍ او غلبې پر ځای به محکوم او مغلوب پاته شي، نیم به عملي وي خو نیم نور احکام به یې د مغلوبیت او ویرې له کبله معطل پاته وي.

په اسلامي شریعت کې د سیاسي نظام د ارزښت اندازه له دې کولی شو، چې د شریعت د ډېرو احکامو پلي کول د یو اسلامي حکومت پر شتون موقوف دي؛ نه یوازې په حدودو، تعزیراتو، قضاء او احتساب غوندې مهمو امورو کې، بلکې ځیني اجتماعي عبادات هم د اسلامي حکومت پر شتون موقوف دي. د بیلګې په توګه د جمعې او اخترونو لمونځ د سلطان پر اجازت مشروط دی، د روژې اختر او حج د میاشتې اعلان به سلطان یا هم د هغه نماینده کوي، د زکات اخیستل هم د اسلامي حکومت حق دی، حج به د سلطان یا هم د هغه د نایب په امارت کې ادا کېږي، د جنازې د لمانځه لومړنی مستحق سلطان دی او داسې نور..

اسلامي حکومت د څه لپاره؟

الذين ان مكنهم في الارض اقاموا الصلاة و آتوا الزكاة و امرو بالمعروف و نهوا عن المنكر. (الآية)

ژباړه: "مسلمانان هغه دي کله چې مونږ دوی ته پر ځمکه واک ورکړو، دوی به لمونځونه قایموي، زکات به ادا کوي، خلک به پر نیکیو ګماري، له بدیو څخه به یې منع کوي"

یعني د حکومت هدف یوازې د سرحدونو حفاظت او د هیواد مادي او اقتصادي پرمختګ نه دی، بلکې د یو اسلامي حاکمیت لومړنۍ فریضه دا جوړېږي چې د لمانځه او زکات نظام برابر کړي، هغه کړنې چې الله او رسول یې خوښوي عملي کولو ته یې چاپیریال مساعد کړي او د هغو بدیو لاره وتړي چې الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ناخوښه بللي وي.

پای

مولوي شمس الحق صديقي

# د جارح خنجر او زما قلم

## څو ارزښتمن پیغامونه!!

دجارح خنجر او زما قلم په نوم دشهامت مجلې دمسؤل سیاسي لیکوال محترم ابو ظهیر مولوي شمس الدین منصور کتاب چاپ شو.

یاد کتاب چې دصلیبي اشغال په وړاندې، د جهادي، سیاسي او فکري مقالو ټولگه ده. له ځان سره بیلا بیل ارزښتمن پیغامونه لري.

په اول سر کې دغربي مفکوري لرونکو، ملحدانو، سیکولرانو او صلیبي مفکوري لرونکو ته واضح پیغام دی چې تاسو که هر څومره د خپل خونخوار خنجر په څوکه دساده مسلمانانو فکرونه زخمي کړئ. زهنونه یې مشوش کړئ. زموږ دفکري سنگر لیکوالان به دهغوی زخمونه ملهم کوي.

داتشویشونه به رفع کړي. ستاسو شوم پلانونه او داسلام په وړاندې زهرجنه مفکوره به رسوا کړي. دلته فکري سنگر هم دنظامي سنگر په شان څپاند او هڅاند روان دی.

ستاسو د پټو شومو پلانونو او اهدافو په وړاندې دقلموالو ځوانانو مبارزه گړندی روانه ده تاسو هیڅ کله په نه توجیه کیدونکو دلایلو سره زموږ ځوان نسل داسلام په مبارک دین نه شئ شکمن کولی.

تاسو به ستړي شئ نا امیده به شئ کم به شئ ورک به شئ داسلام په وړاندې نیولي نیغ خنجرونه به مو مات شي خو زموږ قلموال ځوانان به نور هم تاند شي ویښ او گړندي به شي ډیر به شي او دقلمونو څوکې به یې ستاسو خنجرونه سوري کړي.

اوپه دوهم پړاو کې مسلمانو ځوانانو ته دجارح خنجر او زما قلم پیغام دا دی چې د دښمن په وړاندې فکري سنگر باید مظبوط وساتئ کلک ودریږئ د دښمن دسیسې شنډې کړئ د قلمونو څخه تورې جوړې کړئ تر څو وربانـدې د دښمن شوم پلانونه رسواکړئ او دمسلمانانو د هغو هیلو ترجماني وکړئ چې دځوان کهول څخه یې لري.

په دریم پړاو کې دسنگر مجاهدینو ته دجارح خنجر او زما قلم دا پیغام لري چې اې دسنگر ستړیه مجاهده ته مه مایوسه کیږه ستا په سپېڅلې مبارزه چې چا دخنجر گزار کړی تاته چې چا ترهگر ویلی ته یې په بد نوم یاد کړی یې په وړاندې یې زما قلم لکه ستا دټوپک خنجر نیغ دریدلی جواب یې ورکړی او دکفري نړۍ فکري مزدورانو ته یې دا ورپه گوته کړې چې تاسو هیڅکله زموږ د اتلانو مشروع مبارزه نه شئ ننگولی.

اې ستړیه مجاهده زموږ دقلمونو څوکې به ستاسو څخه داسې دفاع کوي لکه ستاسو دخنجرو څوکې چې داسلام دمقدس دین څخه دفاع کوي.

په څلورم پړاو کې دجارح خنجر او زما قلم داسلامي نړۍ حکمرانانو ته دا ور په گوته کوي چې اې غلامو حکمرانانو تاسو که عزت غواړۍ اسلام ته منقاد شئ دکافرو دغلامۍ په ځای د الله تعالی اوامرو ته غاړه کېږدئ تر څو کامیاب شئ

دجارح خنجر او زما قلم د اسلامي نړۍ په حال د یوه زوریدلي او دردمند مسلمان دزړه آه دی په دې کتاب کې یې دخپل مسلمان ملت څخه دخپل تاند قلم په زریعه کلکه دفاع کړې او دجارح دخونخوار خنجر خوله یې ور پخه کړې ده.

دجارح خنجر او زما قلم ته چې له هرې زاویې وکتل شي نو په تول پوره ده

دجارح خنجر او زما قلم یوازې دا نه چې دفاعي بڼه لري بلکه د د دښمن دهغو شومو دسیسو افشاء کونکی قلم دی چې زموږ ډیری مسلمان سیاستوال ترې ناخبره دي

دجارح خنجر او زما قلم دمسلمانانو دزوال نښې هم په گوته کړې دي.

دجارح خنجر او زما قلم له افغانستان څخه واخله د فلسطین، برما، کشمیر، سوریې، صومالیه، ققفاز، عراقاو نورو عربي اوغیرعربي هېوادونو ځوانانو لپاره یو ویښونکی اذان دی.


زه یې مطالعه د پوهنتون دمحصل دمدرسې دطالب دسنگر دمجاهد دمسلمان سیاستوال او دعام مسلمان دپاره لازمه بولم تر څو دامت دټپي، ټپي وجود له حالته خبر شي او دا هم درک کړي چې داسلام د دښمنانو خونخوارو خنجرونو څنگه دساده مسلمانانو ذهنونه زخمي کړیدي او دمسلمانو لیکوالانو له خوا څنگه درمل او پټی شوي دي؟

دجارح خنجر او زما قلم کتاب ستایل او څه وربانـدې لیکل زموږ دوس خبره نه ده او نه یې ستایلي شو.

بس دا دعا کوم چې الله تعالی دې دکتاب لیکوال ته بې شمیره اجرونه ورکړي او الله جل جلاله دې ورڅخه قبول کړي.

یقینا د امت په ټپي بدن د درملو یوه پټی ده. دقلمي جهاد مبارزې او اثر اهمیت ته په کتو دهیواد لوی او مفکر شاعرویلي:

دجارح خنجر دې بله خوله پیدا کړي
دقلم نوکې تېرې ته نه رسیږي..



# جهاد عشقی، بهانه‌ای دیگری برای شکنجه‌ی مسلمانان هند

ابوزبیر حبیب زاده

اگر چه حالت مسلمانان در تاریخ ۷۴ ساله‌ی هند کنونی هیچگاه قابل رشک نبوده، اما دوره‌ی ۶ ساله‌ی نارندرا مودی به‌جز درد و رنج، هیچ روز خوبی برای جمعیت و اقلیت دو صد ملیونی مسلمانان هند نداشته است. اگر فکر می‌کنید مشکلات ملت مسلمان هند به منطقه‌ی جامو وکشمیر خلاصه می‌شود اشتباه کرده‌اید. واقعیت اینست که دولت هندوگرای حزب بی‌جی‌پی به رهبری مودی جز آزار و شکنجه‌ی مسلمانان، دیگر کارنامه‌ای برای کسب رضایت هندوهای افراطی ندارد. به وضوح دیده می‌شود که دولت و حزب حاکم در هند در تلاش بهانه‌های ساختگی برای شکنجه وکوبیدن مسلمانان هستند.

مسلمانان هند درین اواخر به جهاد عشقی یا جهاد رومئو (love jihad) متهم شده‌اند، گویا پسران مسلمان با جذب دختران هندوها به بهانه‌ی ازدواج، آن‌ها را به تغیر مذهب وادار می‌سازند. در حقیقت، این بهانه‌ای دیگری برای شکنجه‌ی مسلمانان هند است.

اگرچه این اتهام در سال ۲۰۰۹ از سوی مقامات هند در ایالت‌های کرالا وکرناتکا به جدیت بررسی شد، ولی هیچ‌گونه شواهدی از فعالیت‌های برنامه‌ریزی شده از جهاد عشقی به دست نیامد. در حالی‌که ادعا می‌شد تنها در کرناتکا ۳۰۰۰۰ دختر بر اثر جهاد عشقی به اسلام گرویده‌اند.


اما این اتهام روزبه‌روز داغ‌تر شد. یوگی آدیتینات، نخست وزیر ایالت اوتارپرادش به‌تاریخ ۳۱ اکتوبر ضمن تهدید به مرگ کسانی‌که با افتخار خواهران و دختران ما بازی می‌کنند، اعلان کرد که قانونی را برای مهارکردن جهاد عشقی تصویب می‌کند. سپس کابینه دولت اوتارپرادش قانون ممنوعیت تبدیلی غیر قانونی مذهب و یا قانون ممنوعیت ازدواجِ بین المذاهب را به‌تاریخ ۲۴ نومبر تصویب کرد، که متخلفین را به حد اکثر ۱۰ سال حبس محکوم می‌کند. به اساس گزارش‌ها، دست‌کم در سه ایالت دیگر هند نیز، که حزب بی‌جی‌پی دران حاکم است طرح اینگونه قانون روی دست گرفته شده‌است.

یوگی آدیتینات ۴۸ ساله، از سال ۲۰۱۷ به اینسو نخست وزیر اوتارپرادش، بزرگ‌ترین ایالت هند است و پیش‌بینی می‌شود که در آینده از نامزدان مطرح نخست وزیری کشور باشد. اما در حالی‌که مسلمانان با داشتن جمعیت حد اقل ۴۵ ملیون نفری، ۲۰ در صد جمعیت اوتارپرادش را تشکیل می‌دهند، تمام سیاست آدیتینات بر محور اسلام و مسلمان‌ستیزی می‌چرخد.

آدیتینات که به بدگویی مسلمانان شهرت دارد، در جوانی ملیشه‌ای را بنیان‌گذاری کرده‌است که به گفته‌ی او از تحرکات مخالف هند و هندوها (به‌زور) جلوگیری می‌کند. او در شهادت مسجد بابری هم نقش داشته و حامی سرسخت تعمیر معبد رام به‌جای مسجد شهید بابری است.

یوگی آدیتینات در یک سخنرانی انتخاباتی‌اش می‌گوید ما اگر نام‌های فیض‌آباد و اِله‌آباد را به ایودیا و پریاگ‌راج تغییر داده می‌توانیم، پس نام حیدرآباد را چرا به باگیا نگر تبدیل نمی‌توانیم؟

او در یک مصاحبه با بی‌بی‌سی در اثنای کمپاین در انتخابات ایالتی دهلی در فبروری ۲۰۲۰، می‌گوید: مسلمانانی‌که پس از تقسیم هند به پاکستان نرفته‌اند، هیچ احسانی بر هند نکرده‌اند، یعنی آن‌ها هم باید می‌رفتند. این موقف نخست وزیر پر جمعیت‌ترین ایالتِ کشوریست که می‌گوید قانون اساسی آن سیکولار است. بلی، سیکولاری که گفته می‌شود تنوع مذهبی و نژادی را رواج می‌دهد.



هرگاه مسلمانان در شاهین‌باغ، دهلی علیه اصلاحیه‌ی قانون شهروندی ۲۰۱۹ به اعتراضاتِ دوامدار پرداختند، این یوگی آدیتینات و امت‌شاه، رهبر حزب بی‌جی‌پی بود که گفتند اگر بی‌جی‌پی در دهلی به قدرت برسد اعتراض‌کنندگان را سرکوب می‌کنند و اجازه نمی‌دهند که به اعتراضات خود دوام بدهند. قابل یادآوری‌ست که اصلاحیه قانون هند، که به تاریخ ۱۱ دسمبر ۲۰۱۹ از پارلمان و سنای آن کشور تصویب شد و ۱۲ دسمبر با امضای رئیس جمهور هند رام نات کوویند جزو قانون کشور هندگردید، در حقیقت تعدیل در قانون شهروندی هند (مصوب ۱۹۵۵) است. به تعبیر آسان‌تر؛ دولت مودی شرایط شهروندی هند را تغییر داد، که بر اساس آن پناهندگان شش اقلیت‌های مذهبی (هندوها، سیک‌ها، بودایی‌ها، جین‌ها، پارسی‌ها و مسیحیان) به استثنای مسلمانان ازکشورهای پاکستان، افغانستان و بنگلادیش می‌توانند به‌جای ۱۱ سال در ظرف ۵ سال تابعیت هند را به‌دست بیاورند.

یوگی آدیتینات در بودجه مالی سال ۲۰۱۷ سهم علیحده‌ای برای ترویج مراکز و شهرهای مذهبی و فرهنگی ایالت اوتارپرادش اختصاص داد. اما عجب اینست که تاج محل، که در غرب اوتارپرادش موقعیت دارد و از عجایب هفتگانه جدید دنیا و میراث جهانی یونسکو به شمار می‌رود، شامل آن مراکز نبود. زیرا به باور آدیتینات؛ تاج‌محل چون به‌دستور شاه‌جهان ساخته شده، از فرهنگ هندوستان نمایندگی نمی‌تواند. این از آثار مهاجمان یعنی مسلمانان است. در حالی‌که بیش از ۲۰ ملیارد روپیه برای تعمیر و ترمیم مراکز فرهنگی هندوها تصویب شده‌بود.


این مهم نیست که قانون ممنوعیت تبدیلی غیر قانونی مذهب، هویت سیکولاری کشور هند را چه‌قدر

زیان‌مند می‌سازد، چون اگر تشخص سیکولاری هند در ۶ سال گذشته از سیاست‌های فاشیستی مودی، یوگی و بی‌جی‌پی زیان ندیده، پس ازین هم زیان نمی‌بیند. شاید سیکولاران جهان به‌خصوص فرانسه هم از این سیاست اسلام‌ستیزانه‌ی ایشان لذت می‌برند. از همین‌ست که نیازی به واکنشی نمی‌بینند. در حالی‌که جزوی‌ترین عمل خلاف اقلیت‌ها در کشورهای اسلامی را با ذره‌بین می‌بینند و به نقد و بررسی می‌گیرند.

مهم اینست که موج جدیدی از شکنجه و اذیت مسلمان‌ها به بهانه‌ی این قانون مغرضانه آغاز شده‌است. پولیس اوتارپرادش نه تنها دختران نو مسلمان و شوهرهای شان را از هم جدا و روانه‌ی زندان می‌کنند، بلکه خانواده‌های شوهران مسلمان را نیز مورد فشارهای مختلف قرار می‌دهند، حتی آن‌ها از منطقه فرار می‌کنند.

مقامات اوتارپرادش چنان جلوه می‌دهندگویا دختران هندوگریزانده و یا هم ذهنا اغوا می‌شوند و پس از ازدواج، به قبول کردن اسلام وادار می‌شوند. اما در بسیاری موارد با اینکه دختران اعتراف می‌کنندکه به رضایت خود ازدواج کرده‌اند، شوهران شان گرفتار شده‌اند.

بی‌بی‌سی اردو در یک گزارش خود می‌گویدکه پولیس اوتارپرادش یک دختر ۲۲ ساله بنام پنکی را به اساس قانون تبدیلی مذهب برای ازدواج، از شوهرش جدا ساخته و به یک مرکز مخصوص زنان روان کرد. وی نخستین زنی است که بر مبنای قانون جلوگیری از ازدواج بین المذاهب از شوهرش جدا شده است. این زن اعتراف می‌کندکه به رضایت خود ازدواج کرده و به اسلام گرویده‌است. او ادعا داردکه در مرکز زنان شکنجه شده و در نتیجه‌ی یک پچکاری حمل او ضایع



شده‌است. راشد، شوهر پنکی و برادر او سلیم از سوی پولیس مرادآبادگرفتار شده‌اند.

اما این عجب برخورد دوگانه است که مقامات اوتارپرادش، ازدواج دختران هندو با پسران مسلمان را بخشی از جهاد جهانی عشقی می‌دانندکه قربانیان آن دختران هندو هستند، اما بالمقابل ازدواج دختر مسلمان با پسر هندو را محض رابطه عاشقانه می‌دانند.

شکی نیست که زمام کشور سیکولار هند به دست دولت کاملا مذهبی قرارگرفته‌است. البته؛ نه اسلامی، بلکه هندوگرا. بنابراین مایه‌ی هیچ‌گونه نگرانی جامعه جهانی سیکولاران نیست. بلی، ارزش‌های سیکولاریسم تنها از اسلام، مسلمان‌ها و دولت اسلامی در خطر است و بس.



# د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

## د اسلامي حکومت واکونه اومسؤلیتونه

م: ش: منصور
په تېر پسې

### د اسلام داقتصادي نظام راتلونکی!

د اسـلامي معیشـت و تجـارت د راتلونکـو غوښـتنو او اړتیاو پوره کولو په لړ کې د معاصرو جیدو علماوو په نظر د یوې نړیوالې فقهې ضرورت دی، څو د هغې پـه رنـا کـې پـه نړیوالـه سـطحه د مسـلمانو سـوداګرو پـه وړانـدې پراتـه چیلنجونـه ځـواب شي او هـم پـه دې برخـه کـې د واقـع کیدونکو ستونزو حلولو لپاره د شـرعي لارښوونو سره سم حل لارې لټول اسانه شي.

همدا راز د اسلامي معیشت و تجارت د ودې په موخه د ادارو، پانګوالو او کارکوونکو لپـاره تربیـوي او تـوجیهي پروګرامونه جوړول ضروري دي او په خاصـه توګـه ځوانـو علـماوو تـه د بـانکوالۍ سیسـتم پېژنـدلو لپـاره دځـانګړو کورسونو کول اړین دي.

او هم هغه علماءِ کرام چې پـه فقـه کـې ژور بصیرت لري، یعنې فقه کې تخصص لري، هغوی ته ضروري ده چې د اسلامي بانکوالۍ سیستم پیژندلو لپاره د بانکوالۍ کورسـونه وکړي، څو د نویـو اداري میتودونـو او سیسـتمونو سره اشـنا شي.

تر کومه ځایـه چـې د تربیـوي پروګرامونـو موضـوع لري، ورباندې یوازې د علماوو، بانکوالو او اقتصـاد پوهـانو لپاره پوهېدل ضرور ندي، بلکـې پـه اړه یـې د ټـولنې د ټولـو وګـرو لپـاره ترغیبـي پروګرامونـه او ورکشـافونه جـوړول ضرور دي، ځکـه د مسـلمان صـارف (خریـدار) رویـه بـه خامخا د نا مسلمان صارف د هغې نه جلا وي، نـو د دې لپـاره تربیت ته اړتیا ده او دا هم ښکاره ده، چې نـن سـبا د اقتصـاد ډېره سلنه تـر صـارفینو راڅرخـي، زیـاتره اقتصـادي او مـالي پالیســـۍ د صـــارفینو (خریـــدارانو) اړتیـــاوو او د هغـــوی غوښتنوته په کتو رامنځته کېږي. اوس که د مسلمان خریدار یا صارف رویه د نامسلمان خریدار د هغې سره توپیر ونلري، د اسـلامي اقتصـاد یـا معیشـت بریـا ناشـونې ده، د اسـلامي معشـیت او د اسـلام د مـالي نظـام بریـا د مسـلمانو مصرـف کوونکو او پیریدونکو تر کړو وړو پورې تړلې ده، مسـلمان صارف هغه دی، چې حرام تـوکي یـا څیزونـه بـه نـه پیـري، مسلمان صارف یا خریدار هغـه دی چـې د اسراف او تبزیـر مرتکـب نشيـ، مسـلمان صـارف هغـه دی چـې د فحشـاوو، لوڅتوبونو او نارواو وسـایل او اسـباب ونـه پیـري، مسـلمان صارف هغه دی چې د ژوندانه اړتیاوې به یـې نسبتاً محـدود وي او مسلمان صارف به چا سره دوکه نکـوي. دا هغـه څـو مثالونه دي چې په کتو ورته موږ اندازه لګـولی شـو ،چـې د مسلمان صارف یاخریدار رویه به د نامسـلمانو خریـدارو او صارفینو سره څنګه توپیر لري؟

د اسلامي معشیت یو اهم بـاب «کفـاف» دی، د کفـاف یو مروج صورت میاشتیني معاشونه دي. چې حکومتونـه او اداري یې د کارونو او خدمتونو په بدل کې خپلـو مـامورینو او کاریګرانو ته ورکوي، په دې صورت کې هـم ضروري ده

چې حکومت یا ادارې به د هغوی اړتیاوو په پام معاشونه ورکوي لیکن د کفاف په مفهوم کې عموم دی، په دې معنی چې «د اسلامي هیواد هر وګړي لپاره د کفاف په سطحه د ژوندانه ضروري وسایل برابرول د اسلامي حکومت مسؤلیت دی». فقهاوو «کفاف» اصطلاح د قرآن پاک د ځینو ایاتونو او نبوي احادیثو څخه اخذ کړې ده ، چې له مخې یې اسلامي حکومت مسؤلیت لري؛ چې عامو خلکو سره به د ژوندانه کم نه کم لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته او کومک کوي، یعنې که خلک د سر پټولو لپاره څه ونلري اسلامي حکومت به یې ور ته برابروي، که خلکو د تن پټولو لپاره کالي نلرل، د وخت حکومت مسؤل دی چې هغوی ته د تن پټو کالي ورکړي، که خلکو د ضرورت په اندازه د خېټې مړولو لپاره ډوډۍ نه درلوده، حکومت یې ورته د برابرولو مسؤلیت لري، دیته ورته څو نور لومړني ضرورتونه دي چې محتاجو رعایاو ته د هغو برابرول د حکومت وجیبه ده، چې موږ وربانديې ځای په ځای په نورو لیکنو کې بحث کړی دی.



هو! د کفاف تعریف یا تفسیر په مختلفو دورو کې مختلف هم راغلی دی او شریعت د کفاف لپاره کوم خاص تعریف ندی کړی، چې ترې دا... مراد دی؛ علماء لیکي: کفاف نه مراد په هره زمانه او هره ټولنه کې معاشي حالت چې په کومه سطحه قرار ولري، د هم هغه سطحې سره سم کم نه کم معاشي ضروریات پوره کول کفاف ګڼل کیږي. دا چې کم نه کم معاشي ضروریات څه دي؟ د دې تعین به د هرې ټولنې، هر هیواد او هرې معاشرې اقتصادي امکاناتو او وړتیاوو ته په کتو سره کیږي. هر هیواد او ټولنه به خپله «کم نه کم مقدار» په ګوته کوي. اوس هغه اړتیاوې به له کومه پوره کولی شي؟ د وخت حکومت به یې د بیت المال نه ور کوي؛ ځکه بیت المال یواځې د حکومت د لګښتونو پوره کولو لپاره ندی ځانګړی، بلکې دعامو مسلمانانو حوائج به هم ترې پوره کوي.

عظیم الشان قرآن په دې اړه یو عمومي اصل بیان کړی دی، د هغه نه موږ استفاده کولی شو:«عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ »

په شتمن باندې د هغه د صلاحیت و استطاعت سره سم، په نیستمن باندې د هغه د صلاحیت او استطاعت په اعتبار، د معروف په طریقه لګښت لازم دی.

ددې مبارک ایت نه دا اصول راوځي چې دغه ډول مسؤلیتونه په قطعیت سره طی کیدای نشي، اضافي دي، د هر دور په لحاظ مختلف کیدای شي. او دا قناعت بښونکې رویه ده، چې هر سړی دې په شخصي ژوند کې پخپله د قناعت اصول خپل کړي، د حکومت مسؤلیت دا ندی چې په زبردستۍ سره خلک قانع کړي، دا کار د واعظینو او مبلغینو دی چې هغوی په خلکو کې د قناعت رویې تلقین وکړي ، د حکومت مسؤلیت دا دی چې هغه د خپلې زمانې اقتصادي معیارونو، شرایطو او ضرورتونو ته په کتو سره د کفاف لپاره مقدار او سطح تعین کړي او بیا هغه د خپلو عوایدو او وسایلو نه پوره کول یقیني وګرځوي.

**د اسراف مخنیوی:**

دیني علماءِ کرام هم مسؤلیت لري، چې د عامو خلکو تربیت وکړي او د اسراف یې منع کړي، اسراف یوازې د زیاتې سرمایې لګولو نوم ندی، ځینې خلک زیاتې پانګې لګولو ته اسراف وایي، لیکن وخت عبث تیرول او ضایع کول هم اسراف دی او هغه څېزونه جمع کول چې ضرور نه وي هم اسراف بلل کېږي. غرض دا چې اسراف د یو فرد، یوې کورنۍ، یوې ټولنې او یو ولس لپاره بدې پایلې لري، هر داسې کاروبار یا یوه شعبه یا څانګه پرانیستل او په هغه پانګونه کول چې اقتصادي، کلتوري، تهذیبي، تعلیمي او اخلاقي لاسته راوړنه ونلري، د اسراف په زمره کې راځي او اسراف نه د ځان ساتلو لپاره چاروا کو او عامو خلکو ته تلقین کول د علماوو مسؤلیت دی، چې هغوی به خواص او عوام دواړه له اسراف کولو منع کوي او پر هغوی سربیره د هر هوښیار او عقلمند انسان مسؤلیت هم دی چې هغه د اسراف په مخنیوي کې کردار اداء کړي.

نن سبا په مروجو نظامونو او حکومتونو کې اسراف پریمانه شتون لري، وسایل بې ځایه اوبې دریغه لګول عامه دي، که هره ټولنه یا ډله او یا حکومت د وسایلو د بېځایه لګولو نه خپل ځان، خپله کورنۍ، خپله ټولنه او خپل هیواد وژغوري، نو ژر به یې مثبتې پایلې ښکاره شي، حکومتونه به د خپلو هغو ډیرو خلکو د اړتیاوو پوره کولو جوګه شي، کوم چې محروم دي او دا کار هم صارفینو تر رویو اړه لري، عظیم الشان قرآن په یو مختصر ایت کې په څومره جامع انداز کې ویلي دي «مومنان هغه خلک دي چې کله مصرف کوي نو نه اسراف کوي او نه بخل، بلکې د دواړو ترمنځ د اعتدال لار غوره کوي». نو د اسراف د مخنیوي لپاره د حکومت او نظام په سطحه ګامونه پورته کول د یو حکومت د ثبات او استحکام لپاره مهم دي.

**د اقتصاد نوی تدوین:** د اسلامي اقتصاد په برخه کې یو بل اهم کار د هغه تدوین جدید دی، دا د دې لپاره ضروري دی، چې د ډیرو خلکو ذهن کې دا خیال ناست دی، چې په اقتصادي موضوعاتو یا ستونزو بحث کول او ورته حل لارې لټول د مغربیانو کار دی، دا کار هغوی شروع کړی دی، زموږ علماوو او ایمه و په اقتصادي مسائلو او موضوعاتو بحثونه یا څیړنې ندي کړي او نه هغوی معاشي مسائل او مشکلات دومره اهم ګڼلي، چې بحثونه یې ورباندې کړي وای، خو دغه رنګه تاثر سل په سله کې خطا او ناسم دی، دا چې عام شوی دی، یوه وجه یې دا همده چې د اسلامي امت ایمه و زیاتره لیکنې او کتابونه په عربي کې دي، پخوانی یې اسلوب دی، هم یې د دلائلو انداز یو څه مغلق او د استدلال طرز یې نامانوس دی، په دې وجه د هغوی د اقتصادي تحقیقاتو او څېړنو څخه د نن عصر خلک خبر نلري.

د علماوو په وینا نه یوازې په اسلامي تاریخ کې بلکې د بشریت په تاریخ کې د « مالي او اقتصادي چارو» په اړه لومړی غوره کتاب امام ابو یوسف لیکلی دی، ډیرو ته د دې علم شته چې امام ابویوسف د دوهمې هجري پیړۍ تر ټولو نومیالی فقیه عالم و، د هغه« کتاب الخراج» په دې موضوع تر ټولو لومړی او قدیم کتاب دی، په کوم کې چې هغه د مالي او عامه چارو د بهبود لپاره ګن افکار او اصول وړاندې کړي دي، دا چې یاد کتاب د عباسي خلیفه «هارون الرشید» په نوم د یو یاداښت په بڼه ترتیب کړی دی، نو په هره برخه کې چې کومه خطا ورته په نظر ورتله، هغه یې ښکاره کړې ده، خلیفه یې په اړه متوجه کړی دی او د اصلاحولو تاکید یې کړی دی، او هارون الرشید ته یې دا مشوره هم ورکړې ده چې د مالي چارو په څانګه کې چې څومره کسان او مامورین ګومارل کېږي، هغوی دې « اهلِ علم، اهلِ دین، اهل الرائیه، او باکردار» وي. امام ابو یوسف په دې کتاب کې د خلافت د عوایدو زرایع، د حکومت مسؤلیتونه، د حکومت لګښتونه او د اسلام مالي نظام په اخلاقي اړخونو باندې په تفصیل سره رڼا اچولې ده.

او کله چې امام ابو یوسف کتاب الخـراج لیکـه، هـم مهال ورسره څو نورو علماوو هم په مختلفو مالي موضوعاتو باندې کتابونه ولیکل، اوس چې د امـام ابویوسـف کتـاب لـه عربي نه نورو ګڼو ژبو ته ژباړل شوی دی او نـړۍ کـې ډیـر خلک ترې خبر دي او بیا د هغه وروسـته پـه درېیمـه پیـړۍ کې د «کتاب الاموال په نوم نورو علماوو هم کتابونه ولیکـل چې د هغوی په سر کـې د امـام ابـو عبیـد «کتـاب الامـوال» راځي، کوم چې اوس هم شتون لـري. همـدا راز د امـام ابـو عبید د شاګرد حمید بـن زنجویـه « کتـاب الامـوال» پـه درې ټوکونو موجود دی، امام حمید بن زنجویه د خپـل اسـتاد ابـو عبید نه پوره استفاده کړې ده او هم یې زیاتونې کـړي دي او دا دواړه کتابونه د اسلام د مالي نظـام بـاره کـې د علـماوو پـه نظـر غـوره کتابونـه دي، تـر دې چـې علامـه حـافظ ابـن حجرعسقلاني هم د مالیاتي فقهې په باره کـې د امـام ابوعبیـد کتاب ترټولو غوره کتاب بللی دی.

په اسلام کې مالي چارې په ښه توګه تنظیمول درونـد مسؤلیت او زیات اهمیت لري، په دې وجه پـه هـر دور کـې علماوو کتابونه او څېړنـې کـړې دي، لکـه د تصـوف، ادب، تاریخ او اخلاقي علم پوهانو هم کتابونه لیکلي دي، د مثال په ډول: د تصوف مشهور عالم«ابوبکر بن ابی الدنیا» چا چې په زهد او استغنا کې نوم لـره، هغـه هـم دې موضـوع سره د زیاتې علاقمندۍ په وجـه د «اصـلاح المـال» پـه نـوم کتـاب لیکلی دی، کـوم چـې د مالیـاتو پـه بـاره کـې د شریعـت لـه اخلاقي لارښوونو څخـه بحـث کـوي، نومـوړی هـم د امـام ابوعبید ﷺ شاګرد دی او په زړه پورې دا ده چې استاد د مالي چارو په قانوني او فقهي اړخونو کتاب لیکلـی دی او شـاګرد يې «ابن ابي الدینا» د مالي امورو په اخلاقي اړخ کتاب لیکلی دی، یعنې استاد او شاګرد د یو بل د کار تکمیل کړی دی.

تر دې پورې چې اسلامي ادیبانو هـم پـه دې کـار کـې خپله ونډه دریغ کړې نده، د تجارت، معیشـت، او حکومـت موضوع څرنګوالي په اړه یې بحثونـه او کتابونـه لـیکلي دي. لکه د تجارت په موضوع د مشهور ادیـب «جـاحظ» کتـاب باره کې دا مشهوره ده، چې هغه د تاریخي پلوه زیات اهمیت لري او ترې د تجارت کولـو طریقـو پېژندنـه پـه ښـه توګـه کېږي، دا څومثالونه خو د متقدمینو د دورې وو، چې هغـوی دې موضوع تـه لـه علمـي، فقهي،تـاریخي او اخلاقـي پلـوه زیات اهمیت ورکړی دی او په اړه یې عمده کتابونـه ترتیـب کړي دي.

او هر چې د عمومي اقتصادي، معاشي او مـالي افکـارو تعلق دی، په اړه یې نومیالیو فقهـاوو ګـڼ ابـواب او کتابونـه ترتیب کړي دي، په خاصه توګه زموږ داحنافو معتبرامـام او عالم امام سرخسي رحمه اللـه، مشـهور شـافعي عـالم علامـه ابوالحسن علي ماوردي، امام غزالي، علامه ابن تیمیه، ابـن قـیم او علامه شاطبي؛ ټولو پر دې موضـوع ضـخیم او ګرانقـدر علمي ابواب او کتابونه بشپړ کړي دي او پـر هغـوی سربېـره مؤرخینو کې د علامه ابـن خلـدون او مقریـزي اقتصـادي او عمراني افکار هیڅکله پټ ندي، پـه اخلاقـي معلمانـو کـې د علامه جلال الدین دواني، مولانا روم او امام شاه ولي اللـه رح نومونه د یادولو وړ دي، چا چې په تفصـیل سره مـالي مسـائل او احکام څېړلي دي.

د شاه ولي الله رح په اړه دا یادونه هم ضروري ده، چـې د اقتصادي او مالي چارو په باره کې د هغه افکـار او کتابونـه خو ډیر مشهور دي، چې په عربي سربېـره فـارسي او اردو تـه هم نقل شوي دي او شاه صاحب دا خصوصیت هم لري، چې هغه په اقتصادي نظریـې د بحـث ترڅنـګ د اقتصـادیاتو پـه اخلاقي اړخونو هم بحث کړی دی، اهمیـت او ضرورت یـې څېړلی دی او هم یـې د خپلـې زمـانې پـه اقتصـادي احوالـو، معاشي ستونزو او حقایقو غـور کـړی دی. پـه بـاب یـې ګـڼ شمېر وړاندیزونه او اصول ذکـر کـړي دي، دا خـبره شـاید د ډیرو خلکو په علـم کـې هـم وي چـې شـاه صیب د خپلـې زمانې له واکمنو سره د دې لپـاره بـه هـم تعلقـات پالـل څـو هغـوی تـه د اسـلام او مسـلمانانو مصـالح او حقوقـو لورتـه متوجه کړي، د اسلامي سیاسي او مالي نظام په برخوکې ورته مشـورې ورکـړي، صحیح رهـنمائي وکـړي او هـم د وخـت

واکمنو به ورغځه د مشورو په اخستلو کې باک نه محسوساوه، تر دې چې مغول واکمن «محمدشاه او احمدشاه» به پخپله مدرسې ته ورتلل او هلته یې د مختلفو معاملاتو او قضایاؤ په اړه ترې اسلامي رهنمائي ترلاسه کوله.

نو لنډه دا چې د اسلامي مالي نظام په برخه کې د امت علماوو او فقهاوو دوامدار کار کړی دی او د مسلمانانو صحیح رهنمائي یې کړې ده، نن موږ هم د هغو نه په استفاده کولی شو، د شته اقتصادي ستونزو او مشکلاتو حل لپاره د اسلامي شریعت په رڼا کې حل لارې پیدا کړو او د غربیانو په اقتصادي نظریاتو باندې هم اسلامي مفکرانو نیوکې کړې، کوم څېز ته چې د صارف (خریدار) عقلیت ویل کېږي. د مثال په توګه د مصرف یا لګښت اسلامي نظریه د غربیانو له نظریې سره توپیر لري او اسلامي علماء پرې نیوکې لري او هر چې د صارف رویه ده، نوې خبره نده؛ بلکې اسلامي علماؤ پرې پخوا بحثونه کړي دي، چون د هغوی په اند اصطلاحات او عنوانات مختلف دي، په وجه یې په بادئ النظر کې دا تعین مشکل کېږي، چې په دې مبحث کې هغه مسائل هم شاملیدای شي، کوم چې لوی اقتصادي مسایل دي.

او لوېدیځوالو دا خبره هېره کړې ده چې د اساس له مخې د صارف رویه اخلاقي او کلتوري مسئله ده، یومخ معاشي او اقتصادي مسئله نده، معاشي اړخ یې محدود او معمولي دی چې د اسلامي امت ایمه ؤ پرې ګټور بحثونه کړي دي، د امام غزالي په کتابونو او د نورو علماوو په کتابونو کې دا بحث موندل کېږي، که هغه ټول د نن په



اصطلاحاتو کې ترتیب او ځای شي نو د اسلامي اقتصادي افکارو لړ کې به نوې نمونې بیرون راووځي.

اوس هغه اقتصادي بریا څه ده؟ په مغرب کې یې تصور جلا دی او د اسلامي شریعت له لیده یې جلا دی، دا چې د انسان «غایة الغایات» څه دی؟ ایا د هغه د وجود مقصد دا دی چې هغه د ګټلو ماشین شي یا دا چې د هغه غایة الغایات د کوم بل څېز حصول دی او مادي وسایل د هغه لپاره د محض وسیلې او ذریعې حیثیت لري. د اسلامي لارښوونو له نظره د مال کسب في نفسه یعنې پخپل ذات کې فضیلت ندی بلکې د و سایلو د حصول ذریعه او وسیله دی او همدا وسایل د کوم بل لوړ اخلاقي، انساني او روحاني مقصد د استعمال لپاره دي، دېته ورته کیفیت د بریا او ترقۍ د تصوراتو دی، د دولت، ترقۍ او اقتصادي بریا لاندې عنوانات؛ چې کله د اسلامي لارښونو لاندې ځای شي نو د ټولو اصطلاحاتو به یو نوی مفهوم متعین کېږي او د هغه مفهوم په پام کې نیولو سره به په نوې بڼه د اسلامي معیشت ترتیبولو سره مرسته وکړي.

خو دا ټول کارونه د یوې نوې اسلامي معاشي او اقتصادي پالیسۍ د تشکیل لپاره په یو وخت کې شروع کول ضروري دي، په پای کې د الله تعالی نه دعا کوو چې په دې لړ کې موږ ته کما حقه د خپلو مسؤلیتونو د اداء کولو توفیق راکړي څو د یو جامع اسلامي اقتصاد په تشکیل او تکمیل کې بریا ترلاسه کړو.

# د شهامت دارالافتاء

## کور او نمره کې زکات

پوښتنه: موږ د ژمي لپاره په جلال آباد کې خپل کور لرو او دوبي کې کابل ته ځو؛ ۱۷ کاله مخکې مو په کابل کې د خپلې هستوګنې لپاره په ۱۵۰ لکه روپۍ یو کور واخست چې هر دوبی ورځو، پکې کابو ۵ میاشتې تېروو؛ د کور څنګ ته مو یو بل کور خرڅېدلو، هغه مو هم پدې نیت واخست، چې که کور رابانـدې تنګ شو، یو ورور به ور ووځو یا به پکې مهمانخانه جوړه کړو؛ خو سمدستي مو ورته اړتیا نشته، نو په کرایه مو ورکړیدی؛ د کوڅې سرته یوه نمره ځمکه په ښه نرخ خرڅېدله؛ کال وړاندې مو پدې نیت واخستله چې که ښه خریدار پیدا شو، پرې به یې خرڅه کړو ګټه به راته وکړي.

نو پوښتنه دا ده، چې زموږ په یادو ۳ ځایونو کې په ټولو، که په یو یا دوه وو باندې زکات فرض دی؟ که په یو هم ندی فرض؟

الجواب باسم ملهم الصواب

ستاسې دوه هغه کورونه چې د تجارت نه بلکې د هستوګنې په اراده مو اخستي پکې زکات نشته. زکات یواځې په هغه نمره کې دی چې د تجارت په نیت مو اخستې ده. کله چې ستاسې د نغدو او د تجارت د مالونو د زکات ورکولو وخت راغلو نو ددې نمرې د اخستلو نه بلکې د خرڅلاو قیمت به معلوم او په هماغه حساب به یې زکات وباسئ!

لما فی الدر المختار والاصل ان ما عدا الحجرین والسوائم انما یزکی بنیة التجارة ... و شرط مقارنتها لعقد التجارة .... ولو نوی التجارة بعد العقد او اشتری شیئا للقنیة ناویا أنه ان وجد ربحا باعه لا زکاة علیه. (رد المحتار ج۲ ص۲۷۳)

## د استعمال په ګاڼه کې د زکات حکم

پوښتنه: موږ څلور وروڼه یو؛ د هر یو مېرمن له ۱۰ تولو زیات سره زر لري او شکر زکات یې هر کال ورکوو؛ ځینې خلک وایي: کوم سره یا سپین چې مېرمن یې د خپل ډول سینګار لپاره کاروي پکې زکات نشته، آیا دا خبره سمه ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب

سپین او سره زر چې په هر شکل او صورت کې وي؛ کارول کېږي او که نه، د تجارت لپاره اخستل شوي وي او که د ساتلو په نیت؛ په هر حالت کې پکې زکات شته، چې نصاب ته ورسېږي او کال یې پوره شي.

فی الدر المختار ولو تبرا او حلیا مطلقا، مباح الاستعمال اولا، ولو للتجمل والنفقة لانهما خلقا اثمانا فیزکیها کیف کانا. ج۲ص۲۶۷

والله تعالی اعلم

# د موسی لښکر





د کرېملین لـه نړېدو، شـو د سپینې مـانۍ وار
بـیا میدان تـه شـو پـاړو، منتـر وایـي د ښـامار

سـور ښـامار و د مشـرق زهـرجن لـه حـده تېـر
لـه آمـو بـه راوښـتل څـه ځواکونـه وو سـر تېر
د ایمـان د تـورې شـرنګ لـه یرغـل کـړ توبـه ګـار

د قلـزوم پـه غـاړه دی د موسـی غریـب لښـکر
ابرهـه سـره محمـود پـه هاتیـانو زورور
اور بـه ګورو د نمـرود چې پـه چـا بـه شـي ګلـزار

زه پـاړو یمـه د حـق منتـر ګویمـه د فـن
یخومـه تـبړی زړه پـه ټـوپۍ د مېکنـاټن
دغـه هـم ده اولاده د هغـه سـورمخي پـلار

مولوي بدرالدين حقاني

خیـالي نوم خیـالي واکمـن د ماضي پـه حـال او قـال
د ذلـت غبـار یې پـروت پـه تنـدي دی لکـه خـال
چې نعـره شـوه د تکبیـر د کـوم عصـر پـه واکـدار



د وطـن پوهـان مې کـړي تمسـک پـه کـوم حجـت
څـومره پـاتې دی نـاموس عقیـده او حریـت
لا کـړي وېـره د کیوبـا چې بـه شـمه ګرفتـار

نـه کثـرت او نـه قلـت نـه مادیـات طرفـداري
نـه د ځمکې تنګېـدل نـوم کېـدی شـي د بـري
ازادۍ تـه بدرالـدین مطمـئن دی امیـدوار




# «د جارح خنجر او زما قلم» مهم کتاب چاپ شو!

د جارح خنجر او زما قلم (کتاب) د شهامت مجلې د مسؤل ابو ظهير مولوي شمس الدين منصور صاحب د جهادي، سياسي، فکري او اجتماعي مقالو ټولګه ده. يادشوی کتاب د فرهنګي کميسيون د تألیف او ترجمې اداري له لوري په ښه صحافت پر مناسب کاغذ په ۵۹۰ صفحو کې چاپ او خپور شوی.

د جارح خنجر او زما قلم په پيل کې د تألیف او ترجمې اداري ياداښت، د کتاب د اهميت په اړه د حافظ نور احمد سعيد لنډه ليکنه او د سريزې پر ځای تر سر ليک لاندې د ليکوال ابو ظهير مولوي شمس الدين منصور صاحب ليکنه يو په بل پسې راغلې دي.

منصور صاحب پر مختلفو موضوعاتو ګڼې ليکنې او څېړنې ترسره کړې دي، په دې کتاب کې يې د هغو جهادي، سياسي، فکري او اجتماعي مقالو يوه برخه راټوله کړې چې تېرو شلو کلونو کې يې ليکلې دي.

د جارح خنجر او زما قلم په چاپ سره د تألیف او ژباړې اداري د چاپ شوو اثارو شمېر ۲۶ ته ورسيد، همدې اداري په لنډه موده کې ګڼ علمي، جهادي او سياسي کتابونه چاپ کړي او اوس ددوو علمي اثارو د تصحيح چارې رواني دي، ان شاء الله تعالی ژر به چاپ ته چمتو کړل شي.

د جارح خنجر او زما قلم کې د ګران هيواد سياسي او ټولنيز حالات او په ټوله کې د اسلامي نړۍ حاکم وضعيت او د لويديځ استعمار دمنافقت او وحشت دردوونکې او ويښوونکې کيسې او واقعې ذکر شوې. ددې کتاب لوستل مو د مسلمان ملت محکوميت او د واکمنانو غفلت ته متوجه کوي او دې ته مو هڅوي چې د موجوده حالت څخه د راوتلو لپاره په جهادي، علمي، دعوتي او فکري ډګرونو کې لا ډېر کار او هر اړخيزو هڅو ته دوام ورکړو.

نو د جارح خنجر او زما قلم له لوست او ګټې څخه هيڅوک بايد ځان بې برخې نه کړي، خپله يې هم بايد ولولو او نور ته يې هم د مطالعې ترغيب ورکړو.